# دعوت

## ملي، خپلواکه خپرونه

ISBN 978-82-691395-2-5

**ملي سندره**

ځو چې دا مځکه آسمان وي
ځو چې دا جهان ودان وي
ځو چې ژوند په دې جهان وي
ځو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت

د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصــیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډیره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزگر**

د تأسیس نیټه :1367ل،(۱۹۸۸م)

**Dawat Media Center,**
**V/M. Tariq Bazger**
**Vold gt. 37A, 2000**
**Lillestrom, Norway**
**Tel. +47- 63844384**
**Mobile. +47-90856195**
**dawatmedia@gmail.com**
**www.dawatmedia24.com**

Vol. 244 May & July. 2022

پرله پسې ګڼه ۲۴۴

## ډاکټر شیر حسن د دعوت سره په مرکه کې:

**د افغانستان خلک هوسونه نه لري، خلک وري دي ډوډۍ غواړي، خلک له یخنۍ او له ګرمۍ څخه د ځان او کورنۍ د ژغورلو وس نه لري، خلک له فقر سره مخ دي** ۳-۱۶ مخونه

## ولې.......؟؟!!

کله چې خلکو ته (ولې؟) ورزده کړې دوی خپله مجبوریږي غبرګون وښیي. هرڅوک چې (ولې؟) لري نو خامخا په (څه ډول یا څنګه؟) فکر کوي .

چې (ولې؟) درسره نه وي (څنګه؟) ته نشې رسیدای.

په چم، کوڅه، بازار او کلي کې خلکو ته ور زده کړی چې وپوښتي:

ولې؟ هغه ملت چې دومره شتمني، معادن، خاوره، تاریخ، ملت، کاري ځواک او زرګونو نور فرصتونه لري باید د نړۍ غریب، وروسته پاتې، خیرات خور، هیر شوی او سر ټیټی ملت وي؟

ولې هغه ملت چې څو زره کلن تاریخ لري باید بې فرهنګه، بې علمه، بې اتفاقه او..... تباه شي؟

ولې؟ هغه ملت چې د تاریخ په اوږدو کې د هوښیارتیا، زړه ورتیا، ایمانداری او مبارزې سمبول وو نن پرې جهالت، بې سوادي، ډار، فقر، بیکاري، تعصب، تفرقه او سل ډوله نور وحشي افکار راج وچلوي؟

ولې باید زموږ خلک خپلو ستونزو ته حل لارې په باج ورکولو، دروغ ویلو، ریاکارۍ، چاپلوسۍ، بډو ورکولو، بې ګټې سکوت او نورو نامعقولو لارو کې ولټوي؟

ولې؟ ولې؟ ولې؟

موږ باید ولې ته ځواب ومومو او بیا یې د (څنګه) په اړه فکر وکړو، که موږ د ولې فرضیه مطرح نکړه حذفیږو، هیریږو، وژل کیږو او تباه کیږو.

موږ حق لرو وپوښتو چې ولې وږی یم؟ ولې درس ته نشم تلی؟ ولې وژل کیږم؟ ولې بې کوره کیږم؟ ولې ډارول کیږم؟ ولې سانسوریږم؟ ولې کار نشته؟ ولې موږ د معقول ژوند حق نلرو؟

د دې ولې ځواب حتمي دی! موږ د دې خاورینې نړۍ وګړي یو که غربیان مریخ ته ختلی شي موږ خو لږ تر لږه پر دې ختیینه خاوره د سوله ایز ژوند حق لرو....

د دنیا مزې او زموږ ذلت انصاف نه دی!

دنیا ولې غواړي موږ تر قیامته د جګړې میدان واوسو؟

ولې؟ ولې؟ ولې؟

محمدالله آرین

## په دې ګڼه کې:

- ډاکټر شیر حسن حسن: د جمهوریت په سقوط کې ګڼ شمېر فکتورونو نقش درلود ۱٦ – ۸ مخونه
-تصاحب فاتحان قدرت سیاسی به حاکمیت مشروعیت نمیبخشد! ۱۷-۱۸ مخونه
-آیا ږیره په اسلام کې مهمه ده؟ ۱۹ –۲۲
- سیکولریزم یاني څه؟ (۲۳-۲۴) مخونه
- طالب ولې خلک په دین شکي کوي؟ (۲۷) مخ
- پروپاګند (۲۸ – ۲۹) مخونه
-زموږ دنی باور او حقیقي ژوند (۲۹)
-پښتانه او د نجونو تعلیم (۳۰ -۳۱)
- د مور پلار او اولاد ترمنځ دوستانه اړیکې
-په پښتو ژبه کې د عربي ژبې کلمې او اغیز
-غواړم زه هم ژوند وکړم (۳۸-۳۹) مخونه
- له مارانو د ترکانۍ تمه مه کوئ!
-مشوره ناکامي نه ده (۴۱-۴۲) مخونه
-د فریدریش نیچه ۴۰ ملغلرې
- نقش شیرخان ناشر در تحولات اقتصادي شمال شرق کشور

## In English Issue:

-Harassed here too': Afghan artists find no sanctuary in Pakistan (Pages 1 -2)
-How one mobile app is helping Afghans send aid (Page. 3-6)
- Send us a man to do your job so we can sack you, Taliban tell female officials (Pages. 7-8)
- Afghan refugees protest delayed visas at US embassy in Madagascar (Pages. 9-10)
**-Ben Roberts-Smith's defamation trial hears Australian SAS soldiers** (page. 11-13)
- Afghans in US immigration limbo watch Ukrainians breeze through (pages. 13-15)
**- Taliban presiding over extensive rights abuses in Afghanistan, says UN** (page. 16-17)
**- UN urged to impose travel ban on Taliban leadership over oppression of women (P. 17-18)**

## د وریښمو کاروان

د دې ګڼې ادبي څېره: - دایا سنګهـ انجان (مرکه) او د هغه د شعر څو نمونې او نور ډیر په زړه پورې مطالب

**د دعوت رسنیز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه (۵۸-۶۱) مخونه**

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او یو موټي افغانستان په لور**

# دعوت رسنيز مرکز د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنيزو فعاليتونو د لياري د هيواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تماميت، ملي ګټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپيژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هيواد کې د سولې، ولسواکی، ټولنيز عدالت، وګړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بيان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که وواېو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لاري، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلي او ملي مرکزي ملي حکومت د جوړيدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې خړاغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوګه کړئ چې د دعوت ميډيا خپروني او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه نااميده هيوادوالو له پاره د اميد ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل اميد د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي يانې دا چې ډيرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هيله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې نه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوې پته راواستوئ:
د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
يو ځل بيا وايو :

((دعوت ميډيا د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي ډلې نمايندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پوري تړلې ده. دعوت ميډيا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي ځوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

## دعوت ميډيا ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپريږي ځوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی اوشرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
**V/ M. Tariq Bazger,**
**Voldgt.37A,**
**2001 Lillestrøm, Norway**
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړيواله شبکه زموږ د ويبپاڼي پته
www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته: dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:
DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تاديات حساب
Account for international payments:
NO15 0530 2294 668
د ويپس شمېره: Vipps: #557320

**څنګه کولی شئ د دعوت ميډيا مالي مرسته وکړئ:**

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راوليږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شووژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بريااليتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

## ډاکټر شیرحسن حسن د دعوت سره په مرکه کې:

# د جمهوریت په سقوط کې ګڼ شمیر فکتورونو نقش درلود

## د افغانستان خلک هوسونه نه لري، خلک وږي دي ډوډۍ غواړي، خلک له یخنۍ او له ګرمۍ څخه د خپل ځان او کورنۍ د ژغورلو وس نه لري، خلک له فقر سره مخ دي

دعوت رسنيز مرکز په تېرو ۳۵ کلونو کې د قدر وړ رسنيز او فرهنګي کارونه ترسره کړي دی. ۳۵ کاله لوی عمر دی، دعوت لويه لاره وهلې ده او د اوږدې زماني له کړلېچونو راوتلی دی.

د دعوت د فعال عمر پينځه دېرشمه کليزه دې نېکمرغه وي!



تېنګېدو سره مرسته کوله، خو د دوحې تړون دغه دریځ نور هم پوخ کړ. د نظام د ساتونکو، وسله والو قواوو (پوځ، استخباراتو او پولیسو) جنګي روحیه د بهرنیو مدارکو تابع وه، چې مدارک وتړل شول، جنګي روحیه هم ماته شوه. د نظام

**محمد طا رق بزګر: ستاسې په نظر څه باعث شول چې د افغانستان نظام تېر کال د اګست په ۱۵ سقوط وکړ؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: د ۲۰۲۱ کال د اګست په ۱۵ په افغانستان کې د جمهوریت بېړني سقوط که څه هم د ډېرو په نظر یوه نابېره پېښه وه، چې چا يې انتظار نه درلود، مګر زه يې داسې نه بولم. د جمهوري نظام سقوط د پېښو يو منطقي بهير او ډېنامیک تسلسل و. د نظام د ړنګېدو اصلي علت دا و، چې د نظام پر بقا د عامو خلکو او د نظام د ساتونکو باور کمزوري شوی و. د بې باورۍ کچه نابېره نه، بلکې ورو ورو ژوره او پخه شوه. د جمهوريت د ړنګېدو اټکل هماغه وخت يقيني شو، چې امريکايانو له افغانستان څخه د وتلو لپاره د ۲۰۲۰ کال د فبرورۍ په ۲۹ نېټې د افغانستان د دولت له ګډون پرته په دوحه کې له طالبانو سره تړون لاسليک کړ. که په هر دليل و، خو امريکايانو په همدغه تړون په لوی لاس د جمهوريت اداره له اعتباره واچوله او طالبان يې د افغانستان راتلونکي واکمنان معرفي کړل. تر دې د مخه هم د سيمې په هېوادونو کې حاکم ذهنيت په افغانستان کې د امريکايانو له شتون سره جوړ نه و، او دغه دليل د طالبان د دريځ له

اداره فاسده، بې کفايته او ناکاره وه.   لکه چې وينو د جمهوريت په سقوط کې ګڼ شمېر فکتورونو نقش درلود.

**محمد طا رق بزګر : د نظام د سقوط ګوته د تېر حکومت يو شمېر لوړپوړي چارواکي، ولسمشر غني ته نيسي او هغه مسئول ګڼي ستاسو په نظر د مسئوليت ګوته بايد چا ته ونيول شي؟**

ډاکټر شير حسن حسن: ولسمشر غني هرو مرو مسئول دی، خو مسئوليت يوازې د هغه نه دی. ولسمشر غني د هېواد د وسله وال پوځ اعلی سرقومندان و.هر ولسمشر د هېواد د استقلال، د خاورې د تماميت د ساتلو او د اساسي قانون د حفاظت مسئوليت لري. او له شکه پرته پخوانی ولسمشر ډاکټر اشرف غني له دغه مسئوليته خلاص نه دی. ولسمشر غني د نظام په ړنګېدو کې مسئول دی خو په دغه مسئوليت کې هغه يوازې نه دی.  له بده مرغه له وزيره تر مامووره، له والي تر جوالي ټول د نظام په سقوط کې مسئول دي. ولسمشر غني ځکه ناکام شو، چې د نظام د ساتلو لپاره يې سالم، متعهد ، په کار پوه او ملي ګټو ته ژمن د واحد فکر کاري ټيم جوړ نه کړ. واقعيت دادی، چې ولسمشر اشرف غني هوښيار شخصيت و، خو فکر يې کاوه، چې يوازې د هغه هوښياري د ټولو چارو د سمون لپاره کفايت کوي، او همدا يې ستره نيمګړتيا وه.

**محمد طا رق بزګر: ډېر په دې باور دي، چې نظام له دننه سقوط وکړ او يا عوامل يې دننه په نظام کې وو.ياني دا شمالي ټلواله وه، چې دا شل کاله يې نظام وخوړ او د اکثريت حقونه يې د ځان کړل او هم يې نظام يې پرېښنبود، چې په پښو ودرېږي.ستاسو په نظر دا خبره تر کومه سمه ده؟**

ډاکټر شير حسن حسن: لکه چې مخکې مې وويل، د نظام په سقوط کې ګڼ شمېر فکتورونو نقش درلود. څه يې کورني او څه يې هم بهرني وو. په دې کې شک نشته، چې شمالي ټلواله د جمهوريت په تېرو شلو کلونو کې ډېره ونازول شوه. ځکه د طالبانو د لومړي حاکميت په (۱۹۹۶- ۲۰۰۱) کلونو کې ټلواله يوازينی کورنی قوت و، چې وروستی پاتې شونې يې په پنجشېر، بدخشان او ځينو نورو غرنيو سيمو کې پاتې وې، د بهرنيانو په راتګ يې له سره د وسلو او پيسو قوت واخيست، د بهرنيانو سره يې د طالبانو په ماتولو کې ډېره مرسته وکړه، او يا برعکس بهرنيانو له دوی سره مرسته وکړه. خو واقعيت دادی، چې هغه وخت د طالبانو په وړاندې بله داسې منظمه قوه موجوده نه وه، چې بهرنيانو دې حساب ورباندې کړی وای. نو بهرنيانو هم پرهمدوی تکيه وکړه او د قدرت او ثروت سرچينې يې د همدوی په لاس وکړې. ټلوالې د جهاد او مقاومت د ناجيانو په توګه ثروت او قدرت د ځان حق وباله او تېر شل کاله يې د همدغه (حق!) د ساتلو د لپاره د موازي حکومت او د قدرت د موازي جزيرو تر بريده ټولې نادودې تر سره کړې. همدغو نادودو او فساد د جمهوريت ټول نظام د افغانستان د خلکو او نړيوالو په پام کې کمزوری، بې اعتباره او ماتېدونکی کړ.



**محمد طا رق بزګر: ځينې کسان چې حتی د افغانستان ملي بيرغ، ملي سرود او نوم نه مني او د تېرو شلو کلونو د واک ډېره برخه د همدوی په لاس وه او اوس د ملي مقاومت خبرې کوي ايا له دوی څخه به څه جوړ شي، په داسې حال کې چې د هر څه د درلودلو پر وخت يې له تېښتې پرته بل څه ونه کړل ايا اوس به څه وکړای شي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: دغه کسان نوم ورکي نه دي، دوی د هماغه ټلوالې پاتې شوني دي، چې تېر وار يې د قدرت لپاره جنګ لومړی مقاومت او دا وار د قدرت لپاره جنګ دوهم مقاومت بولي. دغه خلک د جنګ او مقاومت لپاره ملي اجندا نه لري او افغانستان شموله نه دي. د دوی په نظر طالبان د يوه قوم خلک دي او که طالبان په واک کې وي، معنی دا چې همدغه قوم په واک کې دی. د دوی په نظر که طالبان په پنجشېر واکمن شي دا لوی ظلم او ناروا کار دی خو که په کندهار ، ننګرهار، پکتیا، هلمند، فراه او هرات واکمن شي نو بیا هېڅ پروا نه لري، ځکه د هغوی په نظر دا د طالبانو خپلې سیمې دي. دغو خلکو د ولسواکۍ، د بشر د حقوقو ، د ښځو د تعلیم او کار د حق او ځینې نور مدني شعارونه رامخته کړي دي خو له بده مرغه دغه شعارونه يې تر ډېره حده تظاهر، رياکاري او د نړيوالو د پام جلبولو لپاره دي، خپلو خلکو ته بیا وايي؛ چې طالبان د هېواد پر ټول قلمرو د یو قوم حاکمیت تامینوي او نور قومونه باید د دوی پر وړاندې مقاومت او جهاد(!) وکړي. همدې دریځ دوی له ملي اجندا څخه منزوي او کمزوري کړي دي. زما په فکر دغه ډول محلي مقاومتونه د خلکو له ويني تويېدو پرته بله نتيجه په لاس نه راوړي.

**محمد طا رق بزګر: یو زیات شمېر افغانان په دې نظر دي، چې نظام او د تېرو شلو کلونو لاسته راوړنې په دوحه کې د امریکا او طالبانو خبرو او موافقې له منځه یوړې، افغان حکومت امریکا څنډې ته کړ او په پایله کې یې نظام طالبانو ته د يوې موافقې له لارې وسپاره. تاسو تر کومه د دې نظر سره موافق یاست؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: د دوحې د مذاکراتو په پیل کې ټول افغانان او نړیوال ډېر خوښ ښکارېدل او فکرکېده، چې که خیر وي د ځلوېښت کلنې جګړې پایله به یوه دایمي سوله شي. خو هغه وخت چې امریکایانو او طالبانو دواړو د افغانستان حکومت ګوښې ته کړ، د حکومت پلویان او مخالفین په دې یوه شول، چې همدا د نظام د ماتېدو پیل دی. د نظام د پلویانو سیاسي او جنګي روحیه کمزورې شوه او برعکس د کورنې اپوزسیون په شمول یې ټولو مخالفینو د لا زیات فعالېدو روحیه واخیسته. د ښاغلي حامد کرزي، ډاکتر عبدالله ، رسول سیاف، عطامحمد نور، رشید دوستم، محمد محقق، خلیلي او نورو په شمول چې هم په حکومت کې وو او هم په اپوزسیون کې وو، کرار کرار یې طالبانو ته ځانونه ورنږدې کول او له ورو تر زړو ټولو غوښتل، چې د سولې د خبرو په پلاوي کې خپل استازي وردننه کړي تر څو په راتلونکي کې د طالبانو په څنګ کې ځانته د (عزت!) ځای ولټوي، خو پایله يې سرچپه شوه، هیڅا ته د عزت ځای پاتې نه شو.



**محمد طا رق بزګر: د دې علت څه و، چې امریکایان له افغانستانه ووتل او د هغه څه له پاره چې شل کاله یې کار کړی و، مصرف یې کړی و، او خپل عسکر یې قرباني کړي وو، یو دم هر څه ته شا کړه او له افغانستانه په غیر مسئولانه ډول ووتل، ایا دا د امریکا او په مجموع کې د لویدیځو هېوادونو دوه مخي او منافقت نه په ګوته کوي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: دوه مخي او منافقت هر وخت د ښکېلاکګرو د سیاست برخه ده. هغوی د خپلو ګټو د ساتلو لپاره هر څه کوي. هغوی تعهد نه پېژني،ګټې پېژني. ښکیلاکګرد خپلوګټو د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره هر ډول

کړنې روا بولي. هغوی ته د نورو ملتونو برخلیک مهم نه دی. لکه د ښاغلي خلیلزاد په قول «امریکا افغانستان ته د تګ او یا له افغانستان څخه د تګ لپاره د چا اجازې ته ضرورت نه لري.»په همدې اساس امریکایان د خپلو اهدافو لپاره افغانستان ته راغلي وو، شل کاله وروسته یې د هماغو ټاکل شویو اهدافو د تر لاسه کولو دغه لاره مناسبه ونه بلله، د اهدافو د ترلاسه کولو لپاره به یې بله لاره سنجولې وي چې لا تر اوسه موږ ورباندې نه پوهیږو. یوه خبره روښانه ده، چې امریکا په افغانستان او سیمه کې د خپل موجودیت شکل ته تغیر ورکوي، امریکا به دلته بدیل نیابتونه جوړوي او د هغوی په وجود کې به خپل موجودیت ساتي. همدا اوس د پاکستان، قطر، متحده عربي اماراتو او د سیمې د ځینو نورو قوتونو تر منځ د همدغه نیابت لپاره د غوره کېدو خبره د امریکایانو په اجندا کې شامله ده. مالومه نه ده، چې امریکایان به د افغانستان د چارو مدیریت چا ته وسپاري، خوهغوی به په هر صورت خپلې ګټې وساتي.

**محمد طا رق بزګر: ستاسو په نظر په پاکستان د امریکا د اعتبار او ملګرتیا دلیل څه دی؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: د هند له نیمي وچې څخه د انګریزانو تر وتلو وروسته تر دې دمه، پاکستان په سیمه کې د بریتانویانو او امریکانو لپاره دوست او امر منونکی دولت پاتې شوی دی. په دغه امربرداری کې پاکستان ډېرې ګټې کړې دي. پاکستان د امریکا او غربیانو تر سیوری لاندې په اتومي قدرت بدل شو. پاکستان د امریکا لپاره په افغانستان کې د شوروي پر وړاندې د جنګ ډاډمن ملګری و.له داود خان څخه تر ډاکټر نجیب الله پورې د شوروي تر حمایت لاندې نظامونه د امریکا او غربیانو له خوا د پاکستان په مرسته وځپل شول. پاکستان د افغان جهاد او له تروریزم سره د مبارزې په نامه له امریکایانو څخه ملیاردونه ډالر تر لاسه کړي او لا یې تر لاسه کوي. په روانو حالاتو کې هم په سیمه کې امریکایانو ته له پاکستانه پرته بل ډاډمن ځای پاتې نه دی. نو د امریکا او پاکستان ملګرتوب د دواړو په ګټه دی او نه غواړي یو بل له لاسه ورکړي.

**محمد طا رق بزګر: د طالبانو حاکمیت په باره مو نظر څه دی؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: طالبانو اوږده جګړه وکړه او د جنګ په نتیجه کې په فاتحانه انداز قدرت ته ورسېدل. اوس د هېواد په ټول قلمرو حاکمیت لري. قدرت ته د طالبانو په رسېدو هغه جنګ پای ته رسیدلي دی، چې تر دې د مخه یې هر ورځ سلګونه افغانان قرباني وو. طالبان وايي سوله او امنیت یې راوستی دی، خو سوله د طالبانو د حکومت حکمت نه دی، پخوا سوله څکه نه وه، چې طالبان د حکومت په وړاندې جنګېدل، اوس د طالبانو په وړاندې پراخ هېواد شموله ګواښ نشته، مګر دا د دې مانا نه لري، چې خلک له طالبانو راضي دي. طالبان لاتر اوسه د یوې دیني جنګي ډلې په توله چلند کوي. لاتر اوسه یې د معاصر حکومت جوړولو ظرفیت نه دی تر لاسه کړی. په کار پوه مسلکي کادرونه نه لري. کابینه یې یوازې له ملایانو او د مدرسې له فارغانو جوړه ده. په غیر طالب افغانانو د کار او صلاحیت باور نه کوي. د اقتصادي پرمختیایي پروژو او د کار د ایجاد لپاره روښانه کړنلارې نه لري. د قانون جوړولو په برخه کې همیشه د شریعت پر عمومیاتو او د ملایانو پر فتواو اتکا او اکتفا کوي. د ملي بیرغ، ملي سرود، هنر او موسیقۍ، نوروز او نوي کال په بې ارزښته کولو، د نجونو د مکتبونو او د ښځو د کار او ټولنیزو فعالیتونو په بندولو یې په ملي او نړیواله کچه د خلکو کرکه را پارولې ده. د پورتنیو او ځینو نورو عواملو له کبله د طالبانو حاکمیت



لا تر اوسه ملي او نړيوال مشروعيت نه دی تر لاسه کړی او په دې برخه کې له زياتو ستونزو سره مخ دی.

**محمد طا رق بزګر: د افغانستان راتلونکې تاسو ته څنګه ښکاري؟**

ډاکټر شير حسن حسن: زه همېشه خوشبين يم او د هېواد د ښېرازۍ هيله مې نه مري! خو د افغانستان راتلونکی په دې پورې اړه لري، چې حاکميت په ځان کې د تغير او پرمختګ عناصر مني او که نه؟ که د طالبانو حاکميت د تغييرظرفيتونه ومني، د دولت دارۍ او حکومتولۍ سيستم ته يوازې د مُلا او مدرسې له زاويې ونه ګوري، نجونې او ښځې لکه د اوس په شان په کورونو کې بندې نه کړي، د دولت درې ګونې قواوې جلا او مشخصې کړي، غيرطالب افغانانو ته په همدغو درېګونو قواو کې د کار او فعاليت حق او صلاحيت ورکړي، د خلکو د سياسي او مدني ازاديو ډاډ رامنځته شي، ملي ارزښتونه تر بل هرڅه مقدم او معتبر وګڼل شي، نو د جنګونو او پاچاګشتيو بهانې به پای ومومي. که داسې نه وي نو په روانو حالاتو کې، چې د علم، نوښت، تغيير او پرمختګ دروازې ترلې شوي دي، د خوښۍ لپاره ډاډ نه وينم.

**محمد طا رق بزګر: افغانستان ته جدي خطر په اوسنی وخت کې څه دی؟**

ډاکټر شير حسن حسن: دايمي سوله او ثبات د افغانستان لپاره حياتي ارزښت دی. منم چې د طالبانو په حاکميت کې د پخوا په څير جنګ نشته. خو يوازې د جنګ نه شتون ته سوله نه شو ويلای. د خلکو نارضايت او د جنګ عوامل لا تر اوسه پاتې دي. اوس د جنګ يوه خوا (جمهوريت) ناکام شوی دی، او په جنګ کې د يوې خوا ناکامېدو او د بلې خو بريالي کېدو ته سوله نه وايي. سوله او ثبات د مخالفو خواو په توافق او رضا مندی منځته راځي، هغه څه چې له بده مرغه وجود نه لري. لوی خطر دا دی چې ناراضی افغانان به لکه د تېر په څېر د بهرنيانو لمن ته پناه وړي، بهرنيان به د هغوی په وجود کې د تېر په څېر نيابتونه جوړوي او نيابتي جنګ به ادامه پيدا کړي. زما په باور بهرنيان به د بل ځل لپاره په افغانستان کې پوځي مداخلې ته زړه ښه نه کړي، خو هغوی کولای شي، نيابتونه جوړ کړي او يا پخواني نيابتونه له سره نوي کړي او طالبان په يوه نه ختمېدونکې نښته کې مصروف کړي. له بلې خوا له بده مرغه ډېرې کورنۍ او بهرنۍ کړۍ طالبان د پښتنو استازي او د طالبانو حاکميت د پښتنو حاکميت بولي. له دې



کبله له طالبانو وېره او کرکه له پښتنو څخه په وېرې او کرکې بدلېږي او دا کار د افغانستان د قومونو او اتنيکي جوړښتونو تر منځ فتنه رامنځته کوي، چې بيا يې مخنيوی ډېر ستونزمن وي.

**محمد طا رق بزګر: څه بايد وشي، چې د دغو پاسنيو خطرونو مخه ونيول شي؟**

ډاکټر شير حسن حسن: د جنګ عوامل بايد له منځه لاړ شي. که جمهوريت مات شوی دی نو د جنګ عوامل پر ځای دي. د خلکو سياسي، مدني ، اقتصادي او د کار او ژوند امنيت او ډاډ تامين نه دی. خلک د خپل هېواد په راتلونکي ډاډمن نه دي، يا له هېواده تښتي او يا لکه د (هديرې کلی) تول بايد چپه خوله واوسي. دغه حالت بايد ورغول شي، خلک بايد په خپل هېواد کې په ژوند، علمي، مدني، سياسي، اقتصادي او اجتماعي فعاليت د ازادۍ ډاډ پيدا کړي او د هېواد د برخليک په ټاکلو کې د رايې حق ولري. که د افغانستان خلکو ته د مومنانو په سترګه کتل کيږي نو اميرالمؤمنين يا د هېواد مشر بايد د مؤمنانو يانې د

افغانستان د خلکو په رایه وټاکل شي. دغه حاکمیت که هر نوم ولري مهمه نه ده، خو ټولشموله حاکمیت همدغه ته ویل کېږي. که طالبان غواړي، چې د دوی د حاکمیت پر وړاندې ګواښونه او ستونزې کمې او له منځه لاړې شي، یادې شوې چارې ضرور بلل کېږي.

**محمد طا رق بزګر: د طالبانو ستونزه څه شی دی؟ نړیوال د دوی په خبره نه پوهیږي او که دوی نړیوال نه شي درک کولای؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: د طالبانو ستونزه تر هر چا د مخه د خپلو هېوادوالو سره ده. طالبان فکر کوي، چې افغانستان خپل کوم تاریخ نه لري، اصلي تاریخ هماغه د اصحابو کرامو دی، او که افغانستان کوم تاریخ لري نو شایي له (شاه دوشمشېره) څخه به پیل شوی وي. هغوی ملي تاریخ، ملي هستي، نوروز او نوی کال، ملي دودونه، رواجونه، سندرې، خوښي، موزیک، فولکلور، تیاتر، سینما، تمثیل، نقاشي، حکاکي، ښکلي هنرونه او داسې نور ارزښتونه بې ارزښته څیزونه ګڼي. او د دغو ارزښتونو پالونکي او پلویان د طالبانو د فزیکي او رواني فشار لاندې دي. اوس ځوان نسل په نړیواله کچه د دغو ارزښتونو پرمختګ ویني، او نه شي کولای د دغو ارزښتونو د بې قدرۍ کورنی اختناق وزغمي. دا یوه لویه فکري ستونزه ده او طالبان په همدغه فکري ستونزه کې له هېوادوالو او نړیوالو سره په ټکرکې دي.

**محمد طا رق بزګر: د طالبانو د تېر تقریباً یو کال کارونو، لاس ته راوړنو او فرمانونو ته په کتو ایا د طالبانو واکمني به دوام وکړي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: د طالبانو په واکمنۍ کې جنګ نشته دی، او دا د دې له کبله چې د دوی په مقابل کې د جمهوریت خوا ناکامه شوې ده. د جمهوریت په واکمنۍ کې د جنګسالارانو د قدرت جزیري او محلي واکمنۍ موجودې وې، چې د جمهوریت له سقوط سره یو ځای په هماغه اوله ورځ له منځه تللې دي. ویل کیږي، چې د غاصبانو له لاسه شخصي او دولتي ملکیتونه بېرته ازاد شوي دي او دا کار هم په هماغه اوله ورځ ممکن شو، ځکه لوی غاصبین د جمهوریت له ماتې سره یو ځای له هېواده ووتل. له هماغه اولې ورځې راوروسته په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي برخو کې زه کوم پرمختګ نه وینم، برعکس؛ ورځ تربلې پرشاتګ موجود دی. د هېواد روزل شوي کادرونه، پانګه او د پرمختګ ظرفیتونه له هېواده په تېښته دي. که طالبان د بدلون قابلیت پیدا نه کړي، د واکمنۍ دغه ډول حالت د بقا وړ نه بولم.

**محمد طا رق بزګر: ایا د طالبانو د واکمنۍ پر وړاندې جګړه د حل لار ده او که افغانان نور په هر حال له جګړو ستړي دي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: دا رښتیا ده، چې افغانان نور له جګړو ستړي دي او د تېرو پینځه څلویښت کلونو د جنګ تجربو ثابته کړې ده، چې جنګ د ستونزو حللار نه ده. مګر هغوی چې جنګیږي د ځان لپاره دلایل لري. هغوي وایي، چې په روغه او سوله کې د دوی خبره څوک نه اوري او حاکمان د دوی د نظر خیال نه ساتي، دوی وایي چې  جنګ ته مجبور شوي دي. په ۲۰۰۱ کال کې پر افغانستان د امریکایانو تر یرغل راوروسته تر ۲۰۱۰ یا ۲۰۱۲  کال پورې طالبان هم له ورته ستونزو سره مخ ول. په هماغه لومړیو وختونو کې ښاغلي خلیلزاد طالبان د بُن په غونډوه کې له ګډونه بې برخې کړل. د جمهوریت او دیموکراسۍ په دغه( طلایي!) دوره کې امریکایانو او دافغانستان دولت طالبانو ته په افغانستان  کې د اوسېدو اجازه هم نه ورکوله، سیاسي فعالیت او یا په واک کې ګډون خو یې لا پرځای پرېږده. ترګوانتانامو، څرخي پله او باګرامه پورې زندانونه یې پر طالبانو ډک کړل. د طالبانو بندیان یې په کانتینرونو کې ووژل  او نورې ډېرې نادودې وشوې. په زور تر لاسه شوې (انقلابي) واکمنۍ ټولې همدا شان وې. واکمنان د قدرت او ثروت په نښه کې غرق شي او په سمه توګه د حالاتو جاج نه شي اخیستی. اوس ددغې نښې وار د طالبانو دی.

**محمد طا رق بزگر: که جگړه د حل لار نه وي نو کومې لارې شته چې طالبان د ولس ومني او ولس وکولای شي خپله راتلونکې پخپله وټاکي؟**



ډاکتر شیر حسن حسن: جګړه بالکل د حل لار نه ده. د حل لارې کلي اوس د طالبانو په لاس کې ده. حللار په هغه ارزښت کې ده، چې ولسواکي بلل کيږي. طالبان ادعا لري، چې د ولس ملاتړ ورسره دی. که داسې وي نو بیا د حاکمیت د کورني مشروعیت لپاره د ولس رایې ته ولې مراجعه نه کوي. د ولس په رایه کې د هر چا ستونزه حليږي. د ولس رایه په لویه جرګه او یا د ملي شورا په ټاکنو او را بللو کې ښه تمثیليږي. د ولس استازي به د دولت او حاکمیت ډول وټاکي، تر اساسي قانون، د نظام د نوم ، ملي بیرغ، ملي سرود او داسې نورو اصولو په باب به پریکړه وکړي، د واکمنۍ په کورني مشروعیت به دُعا وشي او همدا کار به د بهرنیو ستونزو حل ته لاره هواره کړي.

**محمد طا رق بزگر: که طالبان خپل همدې سیاست ته، چې «میم زر ما ټوله زما» او د ولس خبره «ډیره زما واک یې د مُلا» لوبه روانه وي حللار یې څه ده؟ او ستونزه چېرته ده؟ په افغان ولس او که په طالبانو کې؟**

ډاکتر شیر حسن حسن: مخکې مې عرض وکړ، چې په ملت کې ستونزه نشته. ستونزه په حاکمانو کې ده، ځکه ملت اوس یوه بې سرپوښه او نامنظمه مجموعه ده. حاکمان د ملت د انسجام لپاره بل چا ته واک نه ورکوي، په دې کې د ځان خطرویني، خو که لږ تر لږه د ملت غوښتنو او ضرورتونو ته غوږ ونیسي او د حللارو د لټون تلاش وکړي، ستونزه له پېچلتیا راووځي. خو که طالبان فکر کوي، چې دوی تر ټولو هوښیار، په کار پوه او زورور دي، ځکه د دنیا ستر زبرځواک ته یې ماتې ورکړې ده، بیا به نو هماغه زوړ مُلا او زړې تراویح وي. د وتلو لار په کې نه وینم.

**محمد طا رق بزگر: تر هغو چې طالبانو له افغان ولس مشروعیت تر لاسه نه کړي ایا حکومت به یې دوام وکړي او هم به یې نړیوال په رسمیت وپیژني؟**

ډاکتر شیر حسن حسن : د ولس رایه او رضایت تر لاسه کول تر ټولو لومړی او ضروري خبره ده، له دې پرته به رسمیت پیژندنه اول ممکنه نه وي او که بیا ممکنه هم شي، څه مانا به ولري؟ یو وړی ملت به تل د رسمیت پیژندنې په تمه د بل د لاس خیرات ته ناست وي. رسمیت پیژندنه زموږ په کورني او ملي هویت پورې اړه لري. که یوازې ملایان او د مدرسو فارغان زموږ د ملي هویت ممثلین وي، رسمیت پیژندنه نامکنه او بې ګټې ده.

**محمد طا رق بزگر: د ښوونې او روزنې، ښوونځیو او ښځو سره د طالبانو د دښمنۍ علت ستاسو له نظره څه دی؟**

ډاکتر شیر حسن حسن: که هر طالب جلا جلا وپوښتل شي، هیڅوک به د نجونو د زده کړو او د ښځو د کار د مخنیوي خبره ونه کړي، هر یو به په عمومیاتو کې ځانونه د ښځو د زده کړو او کار پلویان وبولي. که پوښتنه پسې وشي، د ډېرو طالب مشرانو لوڼې به په بهر (پاکستان یا قطر) کې عصري مکتبونه وایي او لوړې زده کړې به کوي. خو په مجموع کې طالبان د یو فکر تابع دي؛ هغه د یو وروسته پاتې کلي او بانډې او په ښه حالت کې د یوې مدرسې فکر دی. که تاسې په مدني او اقتصادي لحاظ یو وروسته پاتې کلي او بانډې ته لاړ شئ، هلته به د طالب د کړنو په وړاندې هیڅ مشکل پیدا نه کړئ. ځکه هلته خلکو د ستونزمن، وروسته پاتې، بې تعلیمه او حتی د ډېر ابتدايي روغتیایي خدمتونو پرته د ژوند له محرومیتونو سره عادت کړی دی او دا ورته نورمال حالت ښکاري. له دغو محرومیتونو راوتل هغوی ته کفر ښکاري. زه

د تاجکستان او ازبکستان له کليوالي ژوند سره لږ و ډېر بلد يم ، هلته هم د کليوالي او ښاري ذهنيت تر منځ تفاوت همداسې دی. له همدې کبله طالبي ذهنيت په کومې ځانګړې سيمې يا قوم پورې تړلی نه دی، دا عموماً وروسته پاتې او د محروميت کليوالي ذهنيت دی. د معاصر انسان رسالت دادی، چې خپل هېوادوال او خپل چاپېريال له دغه محروميته راوباسي. زموږ هېوادوال بايد د نړۍ د نورو انسانانو په شان په نس موړ او په تن پټ ژوند ولري، لومړنيو روغتيايي خدمتونو ته لاسرسی او له ساري مرضونو محفوظ وي. دغه کارونه په زده کړو او تعليم ترسره کيږي. وروسته پاتې کليوالي ذهنيت دغه کار نه شي تر سره کولای. بدلون ته ضرروت دی، چې د کلي او ښار ذهنيتونه سره نږدې شي، نه داچې کليوالي ذهنيت پر ښاري هغه برې ومومي.

**محمد طا رق بزګر:په يو هېواد کې چې د علم او پرمختګ دروازې تړلې وي د دغه هېواد راتلونکې په ستاسو په نظر څنګه وي؟**

ډاکټر شير حسن حسن: د دغه شان هېواد د خلکو راتلونکې تاريکه ، د جهل قرباني، بدمرغه، وروسته پاتې، کمزورې ، بې څواکه، بې واکه او ټول عمر نورو ته محتاجه ده.

**محمد طا رق بزګر: ولې افغانانو په دې شلو کلونو کې ونشو کړای، چې واقعاً يو ملي او افغانستان شموله او افغان شموله حرکت، تنظيم يا ګوند جوړ کړي؟**

ډاکټر شير حسن حسن : خورا مهم او ضروري مسئله او زما د هيلو برخه ده. په نړۍ کې د پرمختللو هېوادونو نظامونه اسماني نه دي، څمکني دي او د هوښيارو او مخکښو سياسي نهضتونو پر مټ جوړ شوي دي. سياسي نهضت، چې د ټولنې عيني او ذهني واقعيتونه او لومړيتوبونه درک کړي او د علمي او عملي پروګرام پر اجندا په ټولنه کې پراخ ملي تحرک ايجاد کړي. داسې تحرک چې ولسونه او په ځانګړې ډول ځوانانو ته پراخ هيواد شموله فکر ورکړي، کولای شي د هر ډول ورانکارو مخې ته سپر شي. په افغانستان کې د اوږدې کورنۍ جګړې په پايله کې کوچنۍ قومي او محلي ملوک الطوايفۍ او د قدرت موازي جزيرې جوړې شوې. عوامو د ځان د ژغورلو په تمه خپلو قومي او سيمه ييزو قوماندانانو او زورورو ته پناه يوړه، هغوی يې د ځان بلا ګردان وبلل او په ټوله مانا د ژوند د بقا لپاره د هغوی خدمت او امر منلو ته چمتو شول. د ۱۹۹۰ يمو کلونو په تنظيمي اختناق کې د پراخ ملي نهضت نوم اخيستل ناممکن وو، هغه وخت د هرګوند په نوم پورې د اسلامي پېشوند يا پسوند تړلی و او د ملي نوم ورته کفر ښکارېده، خلک هم حيران وو چې اصلي اسلامي به



کوم وي چې پرهماغه راټول شي. خو ترهغې راوروسته د جمهوريت په تېرو شلوکلونوکې بيا تر يوسلوشل زياتې، ورې او غټې سياسي ډلې جوړې شوې او په دې ډول د دموکراسۍ په نوم سياسي انارشي تر دې بريده رسيدلې وه چې د لسو کسانو يوې ډلې هم د سياسي ګوند دعوا کوله. د جمهوريت په اوايلو کې د سياسي هڅو په سلسله کې زموږ يو شمير همفکرانو د ملي فکر پر بنياد د «افغانستان ملي ګوند» په نوم د يو سياسي حرکت بنسټ کېښود، چې د مرام د خپرېدو په هماغه لومړيو شپو ورځو کې يې د هيواد په مرکز او والاياتو کې ښه انعکاس پيدا کړ او هرکلې يې وشو. خو له بده مرغه د جمهوريت په کلونو کې هيڅ سياسي ګوند د هغه د مرام او سياسې طرحې د معقوليت پر بنياد په سياسي ډګرکې مطرح نه شو، بلکې هماغه جهادي تنظيمي ډلو د زور او زرو پرمټ د هيواد سياسي فضا انحصار کړې وه. د ملي فکر خبره څکه د اهميت وړ نه ايسيده چې د ملي فکرپالونکو په لاس کې د زور او زرو وسايل نه وو او له بلې خوا ښکېلاک د ګلوباليزم تر پردې

لاندې د ملي افکارو د پرمختګ مخه نیولې وه. داسې مې هم اورېدلي دي چې ځینو چارواکو به ویل، افغانستان ته قوي اردو ځکه په کار نه دی چې د خاورې تمامیت او ملي امنیت مو د نړیوالو دوستانو له خوا تضمین شوي دي. په هر صورت د جمهوریت په کلونو کې موږ له خپلوګڼ شمېر همفکرانو او دوستانو سره د همدغه شان پراخ ملي حرکت لپاره هڅې کړې دي. په یو یا بل شکل د پراخې ملي بیدارۍ او راټولښت لپاره د هېواد په دننه او بهرکې د ډېرو دوستانو ادرس ته درېدلي یو. په لومړیو کې مو له ډېرو بیدارو خلکو هم واورېدل چې سیاست ناکاره او بدنام شی دی. تر سیاسته همدا ټولنیز، فرهنګي فعالیتونه او هڅې بهترې دي، لږ تر لږه د بد نامۍ خطر نه لري. هر څوک دې د خپل شخصي استعداد په مټ پر مختګ وکړي او چې یو ځای ته ورسېد بیا دې له هماغه ځایه د سترو ملي خدمتونو طرحې وړاندې کړي. د هغوی په فکر سیاست په افغانستان کې سمه نتیجه نه ده ورکړې. ډېرى منورینو خو د ښاغلي حامد کرزي خولې ته کتل او د هغه نقل قول به یې زمزمه کاوه؛ چې «خبره خو همدې سیاسي ګوندونو خرابه کړه!». د سیاسي پراخ، افغانستان شموله ملي نهضت د رامنځته کولو سره د مرستې او همغږۍ په هیله مو خپل غږ په ۲۰۱۱ کال کې تر وتلي افغان شاعر، لیکوال ، تاریخپوه ، څېړونکي او ژورنالیست عبدالباري جهاني پورې هم ورساوه. ځکه زه په دې باور یم، چې د پخوانیو کیڼ اړخو او ښي اړخو سیاسیونو ترمنځ ډېرې زیاتې خپلمنځي ناخوالې تېرې شوې دي او د جهاني په شان شخصیت په ملي فکر کې د دوی د راټولولو او پیوندولو توان لري. هغه وخت ښاغلي جهاني صاحب پرملي اجندا دغه شان پراخ راټولښت ضروري وباله. هغه راته وویل چې تر دې وړاندې یې سیاست نه دی کړی او سیاسي تجربه نه لري، خو که نور منورین د یو پراخ ملي راټولښت لپاره غږ ورباندې



وکړي هغه به یې له مرستې او ملاتړ څخه دریغ ونه کړي.په همدې هیله زما د تلاش مزل په پوره نابلدۍ کې د ښاغلي ډاکټر اشرف غني تر منزله هم ورسېد. د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر په ۲۹ نېټه ماښام د ځینو دوستانو سره د هغه کور ته ورغلو. په دغو شپو ورځو کې هغه غوښتل د جمهوري ریاست ټاکنو ته ځان کاندید کړي. ما او زما ملګرو د هغه د کاندیدیدو پرېکړه وستایله او د خپل ملاتړ نیت مو ورته ښکاره کړ. ما هغه ته یوه نابلده خبره وکړه او هغه ځکه حیران شو، چې ښايي تر دغه وخته کوم بل چا داسې طرحه نه وه ورکړې. ما ورته وویل؛ چې موږ ستا د کاندیدیدو ملاتړ کوو او ډېر به خوشال شو چې ته په ټاکنو کې کامیاب او ولسمشر شې. خو که ته ناکام شې، ښايي زما سره دا نور راغلي ملګري به خپه شي، مګر زه نه خپه کېږم. زموږ په هېواد کې د یو پراخ ، افغانستان شموله سیاسي نهضت د مشرتابه لپاره زعامت ته ضرورت دی، که ته ناکام شې تر ولسمشرۍ به بهتره داوي، چې د نورو پاک نیتو ملي منورینو سره یوځای د همدغه شان پراخ ملي نهضت د رامنځته کولو تابیه وکړې. ما په نړۍ کې د نورو سیاسي لیډرانو مثال ورکړ. دا مې هم ورته وویل، چې ته همدا اوس مجبور یې د رایو ترلاسه کولو لپاره عبدالرشید دوستم، عطامحمد نور، محمد محقق، رسول سیاف، اسماعیل خان، ظاهر قدیر، او کندهاري ورونه په سیاسي رشوت خوشاله وساتې او د چوکۍ او مقام په تمه د هغوی رایې تر لاسه کړې. خو که د یو ملي فکر پر بنیاد سیاسي ګوند د افغانستان په ټولو سیمو او قومونو کې ریښې ولري، بیا به د یو فکر خلک په یو اواز ټول افغانستان ته خپل پیغام رسوي او چا ته به د سیاسي رشوت ورکولو ضرورت نه وي. ښاغلي اشرف غني وخندل او قول یې راکړ، چې په ټاکنو کې د کامیابۍ او ناکامۍ په دواړو صورتونو کې به ددغې تشې د پوره کولو لپاره ځانګړې پاملرنه وکړي. له ښه یا بده مرغه

ښاغلی ډاکتر اشرف غني ولسمشر شو. او داچې د واکمنۍ په شپږو ـ اووو کلنو کې یې ولې پر دغه فکر لویه ډېره ایښې وه، ښا یي علتونه یې په خپلو خاطراتو کې راتلونکو نسلونو ته روښانه کړي. په همدې لار کې زموږ د تلاش سلسله تر ښاغلي محمد حنیف اتمر پورې هم ورسیده. هغه وخت چې د امنیت شورا له ریاسته یې استعفی وکړه او غوښتل یې د جمهورې ریاست په ټاکنو کې ځان کاندید کړي، له طالبانو سره د خبرو لپاره د افغان سیاسیونو په ټول کې مسکو ته راغلی و مخامخ مو ورته وویل چې د ملي فکر پر بنیاد د یو پراخ افغانستان شموله سیاسي نهضت انتظام تر ولسمشرۍ ضروري او بهتر کار دي، راځئ چې همدې کار ته په شریکه ملا وتړو، هوکې یې وکړه، که څه هم ولسمشرۍ ته له خپلې کاندیداتورۍ تېر شو، خو ښايي د سیاسي نهضت خبره ورته بابیزه چاره ښکاره شوې وي چې ډېره پاملرنه یې ورته ونه کړه او وروسته بیا په بهرنیو چارو وزارت کې مصروف شو. خو په ټوله کې زه فکر کوم، چې بهرني ښکېلاک او بهرنیانو ته احتیاج په تېرو شلو کلونو کې سیاسي فضا دومره فاسده کړه، چې هر څوک د سیاسي فکر پرځای د خپل ځان په فکر کې ډېرمصروف شو.

**محمد طا رق بزګر: افغانستان د خپل موقعیت له مخې د قوي او حریصو ګاونډیانو او نړیوالو قوتونو په لوبو کې ګیر دی او اوس په داسې حال کې چې د علم او پرمختګ مخه ډب شوې او یو یو زیات شمېر افغاني پوهان او تعلیم یافته طبقه له هېواده وتې او یا هم د وتو په حال کې دي. افغانستان به څنګه وکولای شي د یو مذهبي نظام لاندې د دې ټولو سترو چلنجونو مقابله وکړي؟**

ډاکتر شیر حسن حسن: زموږ هېواد ته رښتیا هم دغه اوږد مصیبت له ګاونډیانو راپېښ دی. زموږ ګاونډیانو د خپلو نیابتونو له لارې زموږ په هېواد کې د جنګ لوبه ګرمه ساتلې ده. هر وخت جنګ ته نوې بهانې جوړوي او هر وار جنګ د مرکزي نظام تر سقوطه رسوي. ستره بدمرغي داده؛ چې هر وار نظام داسې بنیادي سقوط وکړي، چې لوستې او روزل شي کادرونه مو ټول له هېواده وتلو ته مجبور شي. وطن له روزل شویو کادرونو خالي شي، بیا لسګونه کلونه په کار وي چې بل نسل وروزل شي او پرهغوی بیا هماغه لوبه تکرار شي. زموږ سیاستوالو ته په کار ده، چې د ملي ګټو په تعریف کې دننه یو بل وزغمو او په دې خبره سر خلاص کړو چې یوازې هغه وخت کولای شو چې په سوله او ثبات کې ابرومند ژوند وکړو، چې هېواد مو د نورو له احتیاجه خلاص وي. په ایران کې هم تر څلویښتو زیات کلونه کیږي، چې اخوندان حاکم دي، خو هغوی ته خپلې ملي ګټې ډېرې معتبرې دي. هغوی د پردیو نیابتونو ته دفعالیت اجازه نه ورکوي، چې د ایران ملي ګټو ته تاوان ورسوي. که موږ په مکتب او په مدرسه کې د زده کړو په مهال ملي ګټې وپېژندي او د ملي ګټو د ساتلو تعهد مو وسپاره، بیا به زموږ جغرافیوي موقعیت زموږ لپاره ډېر ګټور شي. زموږ هېواد به د شمال او جنوب، د شرق او غرب تر منځ د تجارت، ترانزیت او تبادلې څلور لارې شي او بیا به موږ له خپلو ګاونډیانو څخه د خطر د احساس پر ځای د دوستۍ او متقابلې همکارۍ تمه کوو.

**محمد طا رق بزګر: تاسو د افغانستان له داخله له خپلو اړیکو له لارې څه اورئ، خلک څه وایي او څه غواړي؟**

ډاکتر شیر حسن حسن: قدرمن بزګر صاحب، د خلکو په لومړنیو ضرورتونو موږ ټول خبر یو، خلک هوسونه نه لري، خلک وږي دي ډوډۍ غواړي، خلک له یخنۍ او له ګرمۍ څخه د خپل ځان او کورنۍ د ژغورلو وس نه لري، خلک له فقر سره مخ دي. خلک کار غواړي، چې له فقر او بې روزګارۍ څخه وژغورل شي. همدا شپې ورځې په پکتیکا، خوست او پکتیا کې د زلزلې له کبله زموږ ډېر شمېر هېوادوالو ته د سر او مال زیان اوښتی دی، ګڼ شمېر خلک بې کوره او بې سر پناه شول، هغوی د مرستو په تمه د خدای ج درګاه ته ناست دی. په نړۍ کې د خورو ورو پردېسو افغانانو دې کور ودان وي ټول لاس په کار شوي دي، چې له زیانمنو هېوادوالو سره مرستې راټولې کړي. همدا اوس چې ستاسې پوښتنو ته ځواب

وایم د روسیې په ښارونو (مسکو، سانکت -پتربورګ، کرسنادار، رستوف، پیتیګورسک، ایوانوا، ولګاګراد، کازان او نورو ) کې له خپلو افغان هېواد والو سره په همدې خبرې کوو، چې څنګه وکړای شو د زلزلې او سیلابونو له وجې زیانمنو هېوادوالو ته ترخپله وسه مرسته راټوله کړو. زموږ د هېوادوالو دې کور ودان وي، په ټولو ښارونو کې مرستې راټولوي او هر څوک له خپلې وسې مطابق ونډه اخلي، چې زه له ټولو مننه کوم.

خو مرستې کفایت نه کوي، هلته د خودکفايۍ لپاره د حکومت اقدامات په کار دي. خلک له دغه درکه پوره ناهيلي دي. د خوراک او پوښاک له لومړيتوب برسېره خلک د خپلو اولادونو لپاره د تعلیم او زده کړو په مستقبل ډاډمن نه دي، د نجونو پر مخ خو د ښوونځیو دروازې بندې دي خو دهلکانو لپاره هم د مسلکي زده کړو مدارک په نشت حساب دي. ډېرې لوستي خلک له هېواده د وتلو په تلاش کې دي، خپل هېواد د خلکو لپاره ډاډمن ځای نه دی، او همدا تر ټولو ستره ناهیلي او بدمرغي ده.



**محمد طا رق بزګر: په عمومي ډول مو افغانانو ته پیغام څه دی چې هر افغان د خپل وطن او خلکو په وړاندې څه مسئولیت لري او په دې حساس او ستونزمن وخت کې باید څه وکړي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: افغانان په دوو برخو (واکمنانو او بې واکو) ویشل شوي دي. بې واکه ډېر او واکمنان کم دي، خو د کړنو ځواک د واکمنانو په لاس کې دی. هغوی چې تازه له واکه لېرې شوي دي د جنګ او وسله وال مخالفت ګواښ کوي، چې زه یې ناسم او تاواني کار بولم. خو هغوی وايي، چې خبرو ته یې غوږ نه نیول کېږي او له همدې کبله جنګ ته مجبور دي. له بلې خوا واکمنان چې په انقلابي او فاتحانه انداز قدرت ته رسېدلي دي، لا تر اوسه یې دولتي مسئولیت نه دی احساس کړی. هغوی لا تر اوسه د خپلې فتحې شکرونه ادا کوي او د ستونزو د حل په غم کې نه دي. هغوی وايي د نړۍ لومړۍ درجه ابرقدرت ته مو ماتې ورکړې ده. واکمنه ډله تر اوسه هم ځانمرګو ته پاتې کېږي. ځانمرګي چې د خپل ژوند په ارزښت نه پوهېږي، له هغه سره په رښتیا هم هیڅوک مقابله نه شي کولای. خو بریا باید د ښه او ښېرازه انساني ژوند لپاره وي. که نه وي نو هغوی چې نورو ته یې د احتیاج لاس اوږد وي ، هیڅکله ازاد او بریالي نه دي. ازادي باید د ژوند لپاره وي، د هدیرې لپاره ازادي په قربانۍ نه ارزي.

هغوی چې نوي واک ته رسېدلي دي او هغوی چې واک یې له لاسه ورکړی دی، پر ټولو غږ کوم چې د ولس ارادې ته درناوی ولري. واکمنان دې خلکو ته د سیاسي او مدني فعالیت لارې خلاصې کړي، چې خلک وکړای شي خپلې غوښتنې د سیاسي سوله ییزې مبارزې له لارې ټولو هېوادوالو ته ورسوي، زموږ هېوادوال اوس د ښو او بدو په تول ډېر ښه پوهېږي، خو هغوی د انتخاب حق غواړي. له بده مرغه له خلکو څخه د ښه او بد تر منځ د انتخاب حق اخیستل شوی دی. تر څو چې خلک د انتخاب حق ونه لري ستونزه نه حل کېږي.

**محمد طا رق بزګر: په ځانګړې ډول مو بهر میشتو هېوادوالو ته پیغام څه دی، چې د خپل هېواد له پاره څه کولای شي او په دې سخت وخت کې د خپلو هېوادوالو لاسنیوی په څه ډول کولای شي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: رښتیا هم بهرمیشي افغانان د هېواد لپاره ستره مادي او معنوي زیرمه ده. اټکل کیږي، چې زیات و کم له اتو تر لسو میلیونو افغانان له هېواده بهر دي. په دې مانا چې د هېواد د نفوس هر څلورم یا پینځم نفر له هېواده وتلی دی. ډیردیسې له هر ډول ستونزو سره د بهر مېشتو افغانانو د کار او ژوند امکانات د هېواد په پرتله ښه دي. بهر مېشتو افغانانو ته ښايي، چې په سختو شرایطو کې خپلې کورنۍ او پاتې خپلوان هېر نه کړي. په مالي لحاظ تر خپله وسه مرسته ورسره وکړي. په معنوي او فکري لحاظ هم بهر مېشتي افغانان د افغان په نامه خپل ملي هویت هېر نه کړي. له خپل ابايي ټاټوبې څخه په جلا ژوند کې یهودان ډېره کامیابه تجربه لري. د اسرائیلو په نوم هېواد له بهره جوړ شو، او اوس د ډېرو بډایه عربي هېوادونو په منځ کې د اسرائیلو کوچنی او کم نفوسه ملک ډېربریالی او خود کفا هېواد دی. که بهر مېشتي افغانان خپل ملي هویت وساتي او د خپل هېواد برخلیک ته شا نه کړي، ښايي زه به نه یم او موږ به نه یو، خو باور مې دی چې د بهر مېشتو افغانانو د راتلونکو نسلونو په مټ به افغانستان د نورو له احتیاجه خلاص او ښېرازه شي.

**محمد طا رق بزګر: تاسو له ډېرې مودې په روسیه کې اوسئ که هلته راته په لنډ ډول د افغانانو د شمېر، ژوند او فعالیتونو په هکله وواياست.**

ډاکټر شیر حسن حسن: په روسیه کې د افغانانو د شمېر په باب دقیق مالومات نشته. ځکه له یوې خوا روسیې ته چې څومره افغانان راغلي دي،که ثبت او راجستر شوي هم وي ډېری یې له روسیې څخه یا د ملګرو ملتونو د اداري له لارې او یا په خپلو شخصي لګښتونو له روسیې څخه د اروپا، امریکا او کاناډا په لور کوچیږي. دا پروسه تل د تغییر په حال کې ده او کومه افغاني ، روسي یا نړیواله اداره په دې باره کې دقیق ارقام نه شي وړاندې کولای. په نوییمو کلونو کې تر یو سل پنځوس زرو، راوروسته تر سل زرو او اوس د پنځوس زرو په شاوخوا کې اټکل کیږي. روسیې ته د افغانانو د مهاجرت لومړۍ څپه د ۱۹۹۲ کال له اپریل څخه راپیل شوه، هغه وخت چې د ډاکټر نجیب الله په مشرۍ د نظام له ړنګېدو وروسته جهادي تنظیمونه په خپل منځ کې په جنګ اخته شول. هغه وخت په روسیه کې د مهاجرت قانون نه و، او د ژوند په ډېرو اړخونو کې بې قانوني حاکمه وه. روسیې ته رارسېدلو افغانانو د ملګرو ملتونو د اداري له خوا یو سند تر لاسه کاوه، هلته به یې په روسي ژبه لیکلي وو چې دغه شخص افغان مهاجر دی، له ده سره ممکنه مرسته وکړئ. خو دغه سند پولیسو ته د رسمي راجستر ارزښت نه درلود له دې کبه به یې افغانان جریمه کول، د بې سنده شخص په نامه به یې تالاشي کول او په جیب کې شته پیسې به یې ترې اخیستې. هغه کلونه روسیې ته د بهرنۍ سوداګرۍ لارې تازه خلاصې شوې وې. افغان هندوان هم روسیې او په ځانګړي ډول مسکو ته رارسېدلي وو. هغوی له چین، تایوان او جنوبي کوریا څخه مالونه راوړل ، دغه مالونه یې په عمده ډول په نورو افغانانو خرڅول او افغانانو به دغه مالونه په نویو جوړو شویو بازارونو کې، چې په روسي ژبه کې (رینک) ورته وایي خرڅول. د وخت په تېرېدو سره عادي افغانانو هم یو ځای او بل ځای په تحصیلي موسساتو کې ځانونه د تحصیل په نامه راجستر کړل، ویزې یې تر لاسه کړې او چین ته د تګ لارې چارې یې هم زده کړې او اکثرو یې له چین څخه په کوچني تجارت پیل وکړ. په روسیه کې د افغان مهاجرینو لومړی نسل لاتر اوسه هم په هماغه کوچنیو بزنیسونو خپل ځانونه ساتي. په روسیه کې هیڅ افغان مهاجر د سوسیال په ډول دولتي مرسته نه ده اخیستې او د خپل لاس په ګټه ګوزاره کوي. د افغان مهاجرو د دوهم نسل ځوانان مسلکي خلک دي څوک ډاکټران، څوک انجنیران ، څوک معلمان دي او په دولتي او خصوصي موسساتو کې کارونه کوي. اوس شکر هغه ستونزې نه شته، چې پخوا د هجرت په لومړي نسل تېرې شوې.

**محمد طا رق بزګر: که لږه شخصي پوښتنه وکړم په څه بوخت یاست او خپلې ورځې په څه لنډوئ؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: مخکې مې د مهاجرو افغانانو د لومړي نسل د کار او ژوند په باب درتهوویل، زما حال هم کټ مټ هماغه شان دی، چې په عام ډول مې تاسو ته وویل. زه هم د ۱۹۹۲ کال په مې میاشت کې په تاجکستان کې له پوهنتونه فارغ شوم. هغه وخت په کابل کې نظام بدل شوی او د جهادي تنظیمونو خپلمنځي نښتې پیل شوې وې. هغه کال یوازې د طب د انستیتوت څخه د افغان فارغانو شمېر ٦٨ کسان وو، چې و مو نه شوکړای هېواد ته ستانه شو. مورِ تیت او پاشان، څوک یو چیرې او څوک بل چیرې ولاړل. زه په تاجکستان کې پاتې شوم او په یوه روغتون کې مې کار پیل کړ. لږه موده وروسته د ۱۹۹۲ کال په اګست کې په تاجکستان کې هم اسلامي اپوزوسیون زور واخیست او هلته هم جنګ پیل شو. زه د ۱۹۹۲ کال په نومبرکې روسیې ته راغلم او تر اوسه په روسیه کې د نورو افغانانو په څېر ژوند کوم. زه هم یو کوچنی بزنس لرم ، په څنګ کې د لومونوسوف په نوم د مسکو پوهنتون د اسیا او افریقا هېوادونو په انستیتوت کې د پښتو ژبې درس ورکوم، او بر سېره پردې په ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي کارونو بوخت یم.که په لنډه یې ووایم، له خپله بخته راضي یم، په خپل کورني، ټولنیز، سیاسي او فرهنګي چاپیریال کې پوره مصروف یم، د چا خبره دِقیت ته فارغ وخت نه لرم، ارمان مې دی چې د مطالعې وخت مې ډېرکم دی.

**محمد طا رق بزګر: تاسو په دې وروستیو کې د ډېرو افغاني ټلویزیونو سره بحث او مرکو کې برخه اخلئ او نظر مو تر ډېره ملي او د اکثریت افغانانو د غوښتنو سره برابر دی، ایا له تاسو طالبانو د همکارۍ غوښتنه کړې او یا یې ستاسو خبرو ته غوږ اینبې او عمل یې پرې کړی دی؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: هوکې، خبریالان هم لکه چینایي سوداګر داسې دي، د دنیا هیڅ کونج ورڅخه خلاص نه دی. نه پوهېږم زما د تلیفون شمېره څنګه پیدا کوي ، خو زنګ راته ووهي او راته وایي زه د پلانۍ رسنۍ خبریال یم ستا نظر او مرکه مو په کار ده، که زه وخت ولرم، دروغ ورته نه وایم، د



زړه خبره ورته کوم، ښایي هغوی به پوهیږي چې زه د زړه خبره کوم، په مغلقو فورمولونو مې سر نه خلاصیږي او د نورو سر هم نه وربانديي په دردوم. زه په خپل فکر کې د جمهوریت او ولسواکۍ پلوي یم. البته زما د فکر جمهوریت په دې مانا نه دی، چې زه د حامدکرزي یا اشرف غني حاکمیت غواړم. زه په دې باور یم، چې دولتي واکمني باید له اسمانه نازل شوی څیز ونه ګڼل شي، چې څوک په کې د شک او شبهې حق ونه لري. ولسونه باید د خپل هېواد د واکمنۍ په چارو کې د رایې او انتخاب حق ولري، همدې ته جمهوریت یا ولسواکي وایي. طالبانو له ما څخه د همکارۍ غوښتنه نه ده کړې، خو په طالبانو کې ځینو درنو کسانو راڅخه د نظر غوښتنه کړې ده. ما خپل نظریات هم په مستقیم ډول ځینو طالب مشرانو ته استولي دي او هم یې د میډیا او رسنیو له لارې وایم، ګوندې کوم زورواکی یا حاکم یې واوري. زما خبره روښانه، ساده او سپینه مامدینه ده.د یوې ټولنې خلک چې د نظام د انتخاب واک ونه لري، د هغوی ژوند د ښکېلاک او غلامۍ دی. نو د یو غلام لپاره څه فرق کوي، چې خاوند یا بادار یې کورنی دی که بهرنی.که طالبان په خپله ګټه پوه شي او ولسواکۍ ته تن ورکړي د دوی واکمني به ترنورو ښه وي، ځکه ولس به هم له ښکېلاکه او هم له فساده د ازادۍ احساس وکړي. که داسې نه وي طالبان به هم د تېر په څېر په خپله مخه لاړ شي، او یو ځل بیا به هېواد او ولس له ځان سره در بدره او په وینو ولړي. ددې تر څنګ زه د چا سپکاوی نه کوم او د ژوند په بدل سرجنګي مې د سیاست برخه نه ده.

**محمد طا رق بزګر: د دعوت رسنیز مرکز چې له ۳۵ کلونو راپدیخوا د ناروې له هېواده فرهنګي فعالیت کوي ستاسو**

**نظر زموږ د کارونو په اړه څه دی؟ او موږ (دعوت رسنیز مرکز) په څه ډول خپل رسنیز خدمتونه په ښه او موثر ډول د هېواد دننه او بهر خپلو هېوادوالو ته کولای شي؟**

ډاکټر شیر حسن حسن: دعوت رسنیز مرکز په تېرو ۳۵ کلونو کې د قدر وړ رسنیز او فرهنګي کارونه ترسره کړي دي. ۳۵ کاله لوی عمر دی، دعوت لویه لاره وهلې ده او د اوږدې زماني له کړلېچونو راوتلی دی. په تېرو ۳۵ کلونو کې په نړۍ او افغانستان کې ډېر تغیرات راغلي دي. په افغانستان کې ګڼ شمېرحکومتونه او حاکمیتونه واوښتل راواوښتل او نړۍ هم بدله شوه. په دغو ټولو بدلونونو کې دعوت خپل رسالت ته متعهد پاتې شوی دی. په نړۍ کې له خورو ورو افغانانو سره یې خپلې اړیکې ساتلې دي ، په مختلفو موضوعاتو یې هم د افغان او د غیر افغان کارپوهانو نظر اخیستی او هغه یې په پښتو او دري ژبو خپلو لوستونکو ته رسولی دی. د دعوت لوستونکي په نړۍ کې تیت او خپاره دي، د دوی ټولو سره پوستي، بریښنایي او تلیفوني اړیکې ساتل ډېر ستونزمن کار دی خو د دعوت اداري لاتر اوسه هم دغه درانه او ستونزمن کار ته اوږه ورکړې ده او د ستړیا دمه یې نه ده نیولې. هغه وخت چې آنلاین خپرونې ډېرې مروجې نه وې دعوت په خپل لګښت د چاپ او پوستي مصارف په غاړه اخیستل، دغه کار د حکومتونو او غټو کمپنیو له لاسه هم په درست ډول پوره نه دی خو دعوت په پوره ایمانداری خپل تعهد ته ژمن پاتې شوی او په هسکه غاړه د افغانانو په خدمت کې دی. اوس چې اکثره فعالیتونه الکترونیک او آنلاین شوي دي دعوت خپلو کارونو او ژمنو ته تر پخوا لا زیات رونق ورکړی دی، زه یې ستایم او قدر یې کوم.

## د دعوت د فعال عمر پینځه دېرشمه کلیزه دې نېکمرغه وي!




## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه $/10 ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

**د دعوت بانکي پته: DNB Bank AC # 0530 2294668**

**له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:NO15 0530 2294 668**

**د ویپس شمېره: Vipps: #557320**

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# تصاحب فاتحانه قدرت سیاسی به حاکمیت مشروعیت نمیبخشد!



استاد روستار عثمان تره کی

حاکمیت مشروع به آن نظامی اطلاق میشود که اقتدار آن با تیوری مسلط مشروعیت  در یک زمان معین و کشور معین در مطابقت قرار داشته باشد. این تیوری مسلط ممکن در محور حاکمیت الهی شکل گرفته باشد و یا بر پایه حاکمیت دیموکراتیک.

## تیوری حاکمیت الهی به مثابه مبنای مشروعیت :

به استناد این تیوری قدرت سیاسی و حاکمیت  مطلقه از جانب خداوند ج به بندگان برگزیده اعطا میشود. در آغاز ظهور این تیوری برخی از سلاطین شرق میانه ( از جمله فراعنه مصر)، شاهان روم و امپراتوران جاپان نعوذ بالله، خود ادعای خدایی مینمودند.

از قرون اوسطی به بعد مسیحیت در تیوری حاکمیت الهی تغیراتی وارد کرد. چنین تعبیر ارائه شد که صرفاً قدرت زمامداران منشأ الهی دارد. اما خداوند ج در گزینش حکام مداخله نمیکند. تعیین زمامداران کار انسان ها است. این مردم است که حق حکمروائی را به مثابه ودیعه الهی به زمامداران اعطا میکند.

در تیوری حاکمیت الهی سهم مردم در تعیین پادشاهان در ابهام باقی ماند. این ابهام مبنای ظهور سلطنت های موروثی و استبدادی که همه مدعی مشروعیت بودند  قرار گرفت.

## تیوری حاکمیت دیموکراتیک به عنوان منشأ مشروعیت :

تیوری حاکمیت دیموکراتیک در قرن ۱۷ به استناد  نظریات فلاسفه یی مانند «سن توماس اکن» و « روسو » بر ضد زیاده روی های سلاطین مطلقه انکشاف داده شد. حاکمیت مشروع دیموکراتیک منطق خود را بر حقوق طبعی انسان ها بنا میکند. به این معنا که انسانها با حقوق مساوی به دنیا میآیند. هیچ دلیلی وجود ندارد که در جامعه،  یک انسان با ادعای داشتن امتیاز نسبت به دیگران  مدعی حکمروایی بالای آنها شود. دسترسی به قدرت سیاسی از مجرای انتخابات حق مردم است.

بناً حاکمیت مشروع بر مبنای انتخابات عمومی و آزاد بوجود میاید.

## تنازع دو مشروعیت :

بعضاً چنان واقع میشود که در کشوری در یک زمان معین دوکتورین تیوکراتیک ( مذهبی ) مشروعیت در تقابل با ضابطه مشروعیت نو دیموکراتیک در حال ترویج قرار بگیرد و نهایتاً  ذهنیت عامه به دو بخش تقسیم شود. درین حال در برابر حکومت برحال مدعی مشروعیت، مشروعیت جدید که بخشی از مردم به آن باورمند شده اند، سربلند میکند. این را بحران مشروعیت مینامند که منجر به سقوط  حکومت ها و بی ثباتی سیاسی میشود.

در اروپای قرون ۱۸ و ۱۹ حقوق الهی با حقوق مردمی (ولسی) در تضاد واقع شد. مشروعیت تیوکراتیک در تقابل با مشروعیت دیموکراتیک قرار گرفت.

در افغانستان دهه نود مشروعیت مبتنی بر جهاد در جنگ خونریز با ادعای مشروعیت دیموکراسی شبه سوسیالستی واقع  گردید. افغانستان امروز به شدت معروض به بحران مشروعیت است : حکومت برحال مبتنی بر مشروعیت مذهبی طالبان را باور بخشی  از مردم به ضابطه مشروعیت دیموکراتیک زیر سوال برده است.

## دسترسی به حاکمیت از راه زور ( فتوحات ) :

احراز قدرت سیاسی از مجرای زور و خشونت مبنای مشروع و حقوقی ندارد. با آنهم در دنیای امروز بی دریغ ازان استفاده میشود.

برای تصاحب قدرت از راه زور از سه وسیله استفاده شده است: کودتا، انقلاب و جنگ آزادی طلبی.

۱- کودتا : کودتا غالبن شکل نظامی دارد که طی آن اکثراً قوت های مسلح نظام برحال، حکومت موجود را خلع و به جای آن حکومت جدید را اعلام مینماید. در بسیاری موارد کودتا ها منجر به ظهور دیکتاتوری های نظامی شده است. چنین هم واقع شده است که کودتاچیان زیر فشار جامعه بین المللی برای کسب مشروعیت از انتخابات استمداد جسته اند : در پاکستان پس از سال ۱۹۹۹م که مصادف به کودتای پرویز مشرف بود، سائر کودتاچیان از مجرای انتخابات در جستجوی مشروعیت شدند.

در سودان در ۱۹۶۵م نظامیان به قدرت رسیدند. یک سال بعد انتخابات به حکومت نو مشروعیت بخشید.

در روندا در ۱۹۹۲ م کودتاچیان انتخابات را برای مشروعیت برگزیدند.

اینکه بعداً زیاده روی های دیموکراسی در کشور های عقب مانده چه جنجال هائی آفرید، بیرون از موضوع بحث رویدست است.

۲- انقلاب: در انقلاب حکومت برحال به زور مردم حذف و به جای آن حاکمیت انقلابی مستقر میشود.

ذهنیت عامه کودتا را افزار استقرار حکومت مطلقه و نا مشروع و انقلاب را وسیله تمثیل اراده مردم و دیموکراتیک و مشروع تلقی میکند. اما مثال هایی وجود دارد که انقلابیون آنطوریکه مدعی اند، از مردم نمایندگی نمیتوانند: در پاریس ( فرانسه ) در ۱۸۴۸ م بدنبال انتخابات، انقلابیون به نفع مخالفین شکست خوردند.

برخی به این باور اند که انقلاب مطالبات اکثریت خاموش را انعکاس میدهد. این طرز تلقی موجب میشود که انقلابیون به انتخابات، رای مردم و نهایتاً کسب مشروعیت احساس ضرورت نکنند.

۳- جنگ آزادیبخش ضد اشغال خارجی : شیوه دیگر دسترسی به حاکمیت از راه زور است. در افغانستان طالبان قبضه فاتحانه بر حاکمیت را موهبت الهی قیاس کرده، خود را بی نیاز از کسب مشروعیت از طریق انتخابات یا لویه جرگه میدانند. این طرز تلقی در دنیای اسلام کنار گذاشته شده است :

– « حزب دستور نو » در ۱۹۵۶ م پس از مبارزات طولانی، استعمار فرانسه را از قلمرو تونس راند و زمام دولت مستقل را بدست گرفت. طی چند ماه قانون اساسی تنظیم و انتخابات اعلام شد. حبیب الرقیبه رهبر حزب دستور نو بحیث اولین رئیس جمهور اعلام گردید.

– جبهه آزادی ملی الجزائر در ۱۹۶۲م پس از ۸ سال جنگ خونین با استعمار فرانسه موفق به حصول استقلال شد. یک سال بعد قانون اساسی اعلام و بر مبنای آن انتخابات برگزار گردید. فرحت عباس رهبر مقاومت ضد استعمار به عنوان اولین رئیس جمهور برگزیده شد.

بناً اعمال زور از طرق کودتا، انقلاب و جنگ ضد اشغال خارجی به فاتح مشروعیت نمیبخشد. گرایش عمومی در تعاملات سیاسی دنیای اسلام کسب مشروعیت از مجرای آرای مردم است.

## نتیجه :

**علی العجاله در افغانستان زیر کنترول طالبان رفتن به سوی انتخابات به دلایل تخنیکی امکان پذیر نیست.**

**یگانه مرجع کسب مشروعیت لویه جرگه است. به شرطیکه دور از اعمال نفوذ سیاسی حکومت برحال و به نمایندگی صادقانه از مردم دائر شود. لویه جرگه به یک حکومت نو با ترکیب طالب و تکنوکرات رای اعتماد خواهد داد. حکومت نو اقلن برای دوسال ایفای وظیفه خواهد نمود.**

**حکومت موقتی جدید که از لویه جرگه کسب مشروعیت کرده است، توسط جامعه بین المللی به رسمیت شناخته خواهد شد. حکومت بیش از همه موضوع تسوید قانون اساسی را به کمسیونی که از جانب لویه جرگه تعیین شده است حواله خواهد کرد. بعد از انقضای لااقل دوسال افغانستان آماده برگزاری انتخابات بر مبنای قانون جدید خواهد گردید. « پایان »**



# آیا ږیره په اسلام کې مهمه ده؟



لیکوال استاد محمد محق - ژباړن: محمدالله آرین

د ژباړن یادونه: « په وطن کې حالات ښه نه دي، سختې لوږې بیکارۍ، ناهیلو او بد وضعیت څو دیرش میلیونه وګړي له ډېر سخت حالت سره مخ کړي، ښایي ددې حالت دوام له دینه د انحراف او ډېرو د زړه توري کیدو لامل شي، ښه به دا وي چې د استاد محق په شان علما چې په دین باندې پوهیږي ددیني رسالت په توګه داسې مسایل روښانه کړي څو مسلمه امت له قصدي بې لارۍ وژغورل شي او افغان ولس په هره برخه کې له خپلو انساني حقوقو برخه من شي. لیکنه اوږده ده، متن ډېر پیچلی وو تر وسه مې کوښښ کړی چې ساده یې کړم که بیا هم لفظي سهوه شوي وي ببښنه غواړم».

******************************

په تیرو ورځو کې مې یو دوست یوه ویډیو راته را ولیږله او په اړه یې زما نظر وغوښت. دا ویدیو د هند د مشهور واعظ، ذاکر نایک وه چې د ږیرې په اړه یې خبرې کړې وې. البته باید یادونه وکړم چې په وروستیو کې په افغانستان کې هم ږیره د حاکمانو له لوري د ځانګړې توجو وړ ګرځیدلې او خلک هم ددوی حکومت د ږیرې د حکومت په نوم پیژني.

تر موضوع مخکې یادونه کوم چې زه ډېر متاسف یم چې په دومره وړه موضوع باندې د لوستونکو وخت ضایع کوم په داسې حال کې چې په نن سبا کې انساني ټولنې د سترو کایناتو د کشف لپاره کوټلي ګامونه اخلي، دوی هڅه کوي د ستورو له تمدن سره اړیکې ټینګې کړي او د آسمان لارې په نورو برخو کې نوي څه کشف کړي، خو موږ اړ یو چې ساعتونه په زړو خبرو باندې خپل وخت ضایع کړو څو خلک حق ولري چې څنګه یې زړه وي هسې خپل سر او صورت جوړ کړي، او څوک ددې حق ونلري چې ددوی څیره لکه څنګه چې دوی یې نه غواړي ور بدله کړي. دا هم نه ده معلومه چې راتلونکي به په موږ پورې ددې له امله څومره وخاندي.

ذاکر نایک یو کس ته چې د ږیرې په اړه یې پوښتنه کړې په قاطعیت ځواب ورکوي چې ږیره فرض ده او وایي علماوو او سترو مجتهدینو هم فرض بللې، خو په اوسنۍ زمانه کې څو محدود کسان پیدا شوي چې ږیره پریښودل مستحب بولي.

له ذاکر نایک ورته کسانو څخه چې دین ته تر ډېره په عوامانه انداز ګوري او له دې لارې یې خپل بازار ګرم کړی دی بله توقع

هم نشي کیدای. ما که څه هم ددې واعظ ډیرې ویډیوګانې نه دي لیدلي خو ځینې ویډیوګانې مې چې لیدلي دي نوموړي په ځینو داسې مسایلو باندې چې د مناقشې وړ دي او ده باید په پوره امانتدارۍ ددې په اړه عالمانه نظر ورکړی وی او یا یې اشارې ورته کړې وی خپل نظر یې چې تر ډیره سم هم نه دی داسې معرفي کړی لکه د اسلام قطعي پریکړه چې همدا وي او په دې کار سره نوموړي خلک هک حیران کړي دي.

په یو مورد کې یوه میرمن چې نوې مسلمانه شوې په ژړا سره وایي: مور او پلار مې مخکې تر دې چې د اسلام په اړه څه واوري له دې نړۍ څخه تلي دي، او دا د هغو تر وفات وروسته له اسلام سره آشنا شوې، اوس نه پوهیږي چې ددوی په اړه حکم څه دی آیا دوی به دوزخ ته ولاړ شي؟ خو ذاکر نایک پرته له دې چې د یادې میرمنې اوښکې او ساندې وګوري او یو ډول زړه سوی ورسره وکړي په ډیر مغرورانه انداز باندې لکه دی چې د خلکو په منځ کې د خدای تعالی استازی وي ورته وایي ستا پلار او مور په کفر کې مړه شوي دي اودوی به جهنم ته ځي او تاته نه ښايي پر دوی زړه وسوځوې!

دا په داسې حال کې ده چې له ډیر وخت را هیسې دا موضوع اختلافي ده او هغه خلک چې د الله تعالی پر قضاوت باور لري له دې موضوع څخه داسې برداشت نکوي او دوی باوري دي تر هغه چې اتمام د حجت نه وي شوی هیڅوک مستحق د عذاب نه دي، دوی د اسرا په پنځلسم آیت باندې استدلال کوي: "و ما کنا معذبین حتی نبعث رسولا." یانې تر هغه چې پیغمبر ونه لیږو چاته عذاب نه ورکوو. دا بحث د اهل فتره تر عنوان لاندې راځي یانې پر هغو کسانو بحث کوي چې ددو پیغمبرانو د راتګ په منځ کې زیږي او چا دین ته نه وي ور بللي. که ذاکر نایک غوښتل چې عالمانه برخورد وکړي باید ویلي یې وی چې په دې اړه ګڼ موضوعات شته دي او نشو کولای پریکنده خبره وکړو، خصوصا په غیبي مسایلو باندې پریکنده نظر ورکول بیخي ستونزمن دي، خو هغه نظر چې قرآني بنیاد هم لري او له الهي عدالت سره هم سرخوري هغه دادي چې دا خلک معاف دي او هیڅ عذاب ورته نشته دی. که نوموړي یادې میرمنې ته برنی ځواب ورکړی وی چې هم دیني ریښه لري او هم له عقل او منطق سره سمون خوري شاید ددې میرمنې ختلی زړه یې څه ناخه آرام شوی وی.

د ږیرې په اړه هم نوموړي په هم هغه شکل او قاطع فرضیت خبره مطرح کړه او بیا هغو علماوو ته ډیره وړه اشاره کوي چې په نن سبا کې یې نظرونه هم چندان د باور وړ نه دي، نوموړی پرته له دې چې د دواړو لورو نظرونه په منصفانه ډول سره وڅیړي او عقلاني تحلیل وکړي بیا هم خپل نظر وروستی هغه بللی دی.

هغه خلک چې د فقې له اصولو، کلام، تفسیر او نورو سره بلدتیا لري پوهیږي چې د ږیرې په اړه هیڅ قطعي او ټول منلی حکم نشته دی او دا له بیخه یوه اختلافي مسله ده، هغه چې په دې اړه غوڅه یا پریکنده خبره کوي او دا بیا د اسلام قاطع نظر بولي دوی له خیټې لګیا دي. دا چې د ږیرې په اړه اختلافات شته دي لامل یې دادی چې په قرآن مجید کې د ږیرې په تړاو هیڅ ډول حکم نشته دی. په قرآن کې یوازې یو ځل د «لحیه» کلیمه راغلې او دا هم د موسی او هارون په کیسه کې د لفظي شخړې یوه برخه ده او دا د قرآن کریم د طه په ۹۴ آیت کې دی چې هارون موسی ته وایي:« لا تأخذ بلحیتی و لا برأسی"» یانې سر او ږیره مې پریږده! دا آیت اساسا د ږیرې په اړه نه دی بلکه د بني اسراییلو او هارون علیه سلام تر منځ د شخړې په اړه دی چې دې کار موسی علیه سلام په غصه کړی. هغه چې د ږیرې پر پرېښودو ټینګار کوي دوی دلیل دا آیت راوړي چې ګواکې پیغمبرانو ږیرې لرلې اوپر موږ یې پریښودل الزامي دی. ځینې بیا وایي چې یوازې هارون نه بلکه ټولو پیغمبرانو ږیرې لرلې. دا په داسې حال کې دی چې د پیغمبرانو شمېر زرګونو وو او یو دلیل یې یولک څلور ویشت زره کم او زیات بولي خو په قرآن کریم کې یوازې د ۲۵ تنو یادونه شوې د نورو په اړه هیڅ ډول معلومات نشته دي، ان په نومونو یې هم نه پوهیږو، دا خو پر خپل ځای پریږدی چې په ږیره یا څیره یې خبرې وشي. ان که دا ومنو چې ټولو پیغمبرانو ږیرې لرلې بیا هم د قرآني دلایلو پر آساس د تیرو هغو کردار پر موږ الزامي نه دی ځکه وایي هر امت ته ځانګړې شریعت راغلی دی او مسلمانان د نورو په پیروي مکلف نه دي. په دې اړه د فقې په اصولو کې د "شرائع من قبلنا" په برخه کې مفصل بحث شوی دی.له دې ور هاخوا په دې هم نه پوهیږو چې د هارون علیه سلام ږیره د عبادي یا عبادتي کار وو او که نه شخصي سلیقه چې د بشریت د عادت پر اساس هر سړی حق لري څنګه یې چې زړه وي ځان هغسې جوړ کړي.

بل قرآني دلیل چې ځینې یې مطرح کوي هغه د سورت نسا ۱۱۹ آیت دی چې د شیطان له خولې راغلي دي:« ولآمرنهم فلیغیرن خلق الله» یانې خلکو ته به قومنده ورکړم چې د الله تعالی په خلقت کې بدلون راولي. ددې استدلال په ځواب کې ویل شوي دي که چیرې ږیره خریل یا کمول د الله تعالی په خلقت کې د بدلون په مانا وي بیا نو د سر، تخرګو او تر نامو لاندې ویښتو خریل او یا کمول هم په خلقت کې بدلون دی دا هم باید ناروا وی، ځکه آیت یوازې یو مورد ته متوجې کول سم کار نه دی. جالبه ده دا بیخي د پخوانیو مسحیانو عادت ته ورته ده، دوی د ناروغانو په اړه پوښتنه کړې وه چې عملیات یا جراحي کول د الله تعالی په اراده کې دخالت نه دی؟ ددوی ځینې مذهب پلوي په

دي باور وو چې ناروغي د الله تعالی په اراده پورې تړلې او رامنځ ته کیږي، هغه کس چې په ناروغي اخته کیږي دا الهي تقدیر دی، ډاکټران چې دده د ژغورلو لپاره هڅه کوي یا یې د بدن یوه برخه غوڅوي د الله تعالی د ارادې مخالف کار دی نه به وي ناروغ په خپل حال پریښودل شي چې مړ شي څو د الله تعالی په اراده کې دخالت ونشي.

د ږیرې پلویان بل استدلال په دې کوي چې د ږیرې په اړه آحادیث راغلي دی. مشهور روایت د بخاري یو حدیث دی: "خالفوا المشرکین وفروا اللحی و أحفوا الشوارب" یانې له مشرکینو سره مخالفت وکړی، ږیرې پرېږدی او بریتونه لنډ کړی. د مسلم او بخاري بل روایت دی: "قصوا الشوارب و وفروا اللحی"چې بیا هم هم هغه مانا لري. په یو بل روایت کې راغلي چې لس څیزونه له فطرته دي چې یوه هم ږیره ده. دا د ږیرې د پریښودو په اړه تر ټولو مهم دلایل دي. خو دلایل بیا هم د ږیرې د فرضیت یا وجوب په اړه قاطع نه دی، دا دلایل بیا هم نشي کړای د علماوو تر منځ د اختلاف دروازه وتړي، ځینې یې واجب، ځینې یې مستحب او ځینې یې یوازې مباح بولي.له پخوانیو شخصیتونو څخه یو چې مستحب یې بولي حجر عسقلاني دی. په شافعي مذهب کې هم د ږیرې پریښودل مستحب بلل شوي دي.

هغه څه چې د اختلاف وړ دي هغه دادي چې په دیني احکامو کې د وجوب یا تحریم تر کچې مسله باید قرآني اساس ولري، او داسې مسایل یوازې په آحادیثو یا ظني الثبوت دلایلو باندې نه حل کیږي. په قرآن کریم کې د ږیرې په اړه حکم نشته او یاد شوي احادیث هم قطعي الثبوت نه دي، له دې سره سره چې دا مسایل په بخاري او مسلم کې راغلي دي خو قطعي الثبوت نه دي.دلته څه چې قطعي دي هغه دادي چې په دې روایتونو باندې شک دی. د شک پر بنیاد د قطعي حکم ورکول علمي اساس نلري،ځکه پخوا د فقې په اصولو کې وو چې شک یقین نشي کیدای، یانې ظني یا شکي شی قطعي نه دي.

ددې ترڅنګ دا پوښتنه مطرح شوې چې آیا ږیره پریښودل تعبدي چار دی که معقولة المنعی؟ تعبدي احکام په حکمت او خاصې موخې پورې اړه نلري، او له څنګه او چیرته پرته باید اجرا شي. خو معقولة المعنی احکام چې یوه برخه یې شرعي احکام دي په اړه یې حکم په خاص حکمت او غرض پورې تړلی دی. که ددې روایتونو پر شکمنوالي سترګې پټې کړو او ووایو چې دا د پیغمبرصلی الله علیه وسلم خبرې دي نو د ږیرې پریښودلو حکمت دادی چې له مشرکینو سره زموږ توپیر وشي، یانې خپله ږیره مقصودباالذات نه ده،یانې د فقې د علم پر اساس حسن لذاته نه دی، دلته موخه له مشرکینو سره مخالفت دی، او په پایله کې دا حسن لغیره دی. د حسن لغیره ارزښت په دې کې دی چې دا په خاصه موخه پورې تړلی دي او له همدې لارې پلې کیدای شي. که موخه دا وي چې د مسلمانانو څیره دې د نورو له څیرې سره تفاوت ولري، دا موخه د ږیرې په پریښودو نه پوره کیږی ځکه ځینې نور مذاهب لکه یهودیان، سیکان او مسحیان هم ږیرې پرېږدي او ځینې یې خریي. او که داسې وي چې شریعت باید نړی شموله یا ټول منلی حکم صادر کړي دا باید داسې وي چې په هرځای او هر وخت کې مانا ولري. د الازهر پخوانی شیخ محمود شلتوت وایي: " که موږ له غیرمسلمانانو سره مشابهت د تحریم بنسټ وبولو بیا نو ږیره پریښودل باید تحریم کړو ځکه مسیحي راهبان اوږدې ږیرې لري".

بله پوښتنه داده چې ږیره عبادي سنت دی که عادي سنت؟ د فقې د اصولو پر بنسټ، د اسلام د پیغمبر عادي سنتونه شریعت نه دی او مومنان مکلف نه دي چې پر ځان یې پلې کړي یا پیروي ترې وکړي. ځینې اهل علم په دې نظر دي چې ږیره د عادتونو یوه برخه ده نه د عبادت، ځکه عبادت هغه چار دی چې د نفس د پاکوالي او رب ته د انسان د نیږدې کیدو لامل کیږی او په دې سره د انسان روحي حالات بدلیږي او معنویت ته یې سوق کوی، او ږیره داسې رول نلري، او نه هم امکان لري چې دادې معنوي یا اخلاقي ارزښت ولري.

همدارنګه دا موضوع د مسلم له یو بل روایت سره چې محدثین یې صحیح بولي په ټکرکې واقع شوې:« إن الله لا ینظر إلی أجسامکم و لا إلی صورکم و لکن ینظر إلی قلوبکم» یانې الله تعالی ستاسو بدنونو او څیرو ته نه بلکه ستاسو زړونو ته ګوری. ددې حدیث محتوا ان که ظني الثبوت هم وي د دین له روح او روان سره همغږي لري او پر اخلاقي اصل ټینګار کوي. دلته ږیره چې تر ډیره ظاهري دینداري نندارې ته وړاندې کوي معقولیت نلري، او هغه موخه چې دوی یې مطرح کوي له اخلاقي پلوه ددفاع وړ نه ده، له نامسلمانانو سره مخالفت په خپل ذات کې یو بد چار دی، ځکه اخلاقي عمل دادی چې انسانان باید یو بل ته نیږدې شي نه چې واټنونه رامنځ ته شي او سرحدونه ویستل شي.

دې ټکو ته په کتو ځینې پوهان شته لکه شیخ محمد ابوزهره، شیخ محمد شلتوت، شیخ جادالحق، یوسف قرضاوي او ځینې نور چې ږیره مستحب بولي، دوی وایي پریښودل یې ښه دي خو خریل یې هم ګناه نلري.

د مصردارالافتای د ۵/۱۱/۲۰۰۵ نیټې په ۲۶۱ نمبره فتوا کې وایي چې علما د ږیرې په تړاو اختلاف لري، او زیاتوي چې په دې اړه درې اندونه دي، یو دا چې ږیره عادتي سنت ده، او عبادتي جنبه نلري او په اړه یې شوي امرونه هم تر ډیره لارښوونې ته ورته دي، دا اوامر د وجوب څه چې ان د مستحب درجې ته هم نشي

رسیدای، دوهم دا چې ږیره مستحب ده،دریم دا چې واجب ده او خریل یې حرام دي. فتوا وروسته زیاتوي: له شرعي پلوه له یو عمل سره مخالفت هغه وخت سم دی چې اجماع موجوده وي، نه په اختلافي موارودو.

که چیرته د فقهې له حوزې وزو او اختلافونه هم پر ځای پرېږدو داسې ښکاري چې پر ظاهري دینداری له ډیر پخوا څخه نیوکې شوي دي او ځینې پوهانو ظاهري دینداري غندلې خصوصا مسلمانو عارفانو چې یوه بېلګه یې حضرت ابوالمعاني عبدالقادر بیدل دی چې په دې اړه یې په ګڼو اشعارو کې اشاري کړي دي چې له دې منځ څخه یو ځای کې وایي:

ریش دفتر تزویر، خرقه محضر بهتان/ دین شیخ اگر این است فسق پارسایی‌هاست

د ظاهرپالنې دې مفهوم ته په یو بل ځای کې داسې نغوته کوي:

ز شیخان برد وَهم ریش و دستار آدمیت را/ مبادا این قدر حرفم گرفتار دُم و یالش

حتی په یو ځای کې ږیره د دین په نوم پر دین دوکانداري یادوي:

بر شیخ دکان‌دارِی ریش است مسلّم/ خرس این همه سوداگر پشمینه نباشد.

بیدل په دې نقد کې ظاهري دینداران تر نیوکې لاندې راوستلې دي او دوی ته وایي چې تر ننداره ایزو چارو به ښه وي چې معنویت ته پناه یوسې، ځکه دده په خبره تظاهر دوی له معنویته لرې کوي او په ریا اخته کیږي.

ځینو بیا د ږیرې مسلې ته بیخي له بل اړخه کتلي دي او دوی د ږیرې ډیر غځول او یا پکې مبالغه کول د عقل او پوهې کمی بولي. امام ابن الجوزی حنبلي په خپل یو کتاب کې چې لطیفې یې پکې را ټولې کړي دي او نوم یې پرې «اخبار الحمقی و المغفلین» ایښی دی او ډیر خوږ اثر دی ددې کتاب پنځم څپرکی یې د حماقت نښو ته ځانګړې کړې هلته وایي:« د حماقت یوه نښه چې کله هم خطا نځي د ږیرې اوږدول دي، ځکه د غټې ږیرې مالک له حماقته خالي نه وي. روایت دی چې په تورات کې داسې لیکل شوي دي:« د انسان د مغزو د غوړیدو ځای ږیره دی،څوک چې د ږیرې په غځولو کې افراط کوي عقل یې کمیږي، او د چا چې عقل کم وي احمق دی. ځینې حکما لیکي چې د حماقت کود ږیره دی او د چاچې ږیره ډیره اوږده وي حماقت یې ډیر دی. چا یو کس لیدلی وو چې ږیره یې غټه وه ورته یې ویلي وو په خدای قسم که دا ږیره په سینډ کې را شنه شوې وی سینډ به یې وچ کړی وو. احنف بن قیس ویلي دي:« که دې یو کس ولید چې غټه تنده او اوږده ږیره یې وه پوی شه چې نادان ده ان که امیه بن عبد شمس هم وي. حضرت معاویه رضی الله تعالی عنه چې یو چاته غصه وو ورته یې وویل:« ستا پر حماقت او سستې ستا د اوږدې ږیرې شاهدي بسنه کوي.» عبدالملک بن مروان وایي:« د چا چې ږیره غټه وي عقل یې کوسه دی؟» (صص 31-32)

لنډه دا چې په اسلام کې د ږیرې په اړه قاطع حکم نشته دی، او د انسان د ظاهر په اړه تصمیم د هرچا شخصي کار دی،هیڅوک حق نلري چې د چا پر څیره تعرض وکړي او یا هغه ته ووایي چې ستا څیره او قواره باید داسې وي. شیخ شلتوت ویلي دي:« په حقیقت کې د جامو، څیرې، شکل او شخصي کړنو موضوع د عاداتو برخه ده، او د ږیرې خریل هم په دې ردیف کې راځي، ښه به دا وي چې انسان خپله وګوري چې شااوخوا خلک یې څه خوښوي څو دی هم هغه مراعت کړي او ځان ته دې بله څیره نه غوره کوي. (محمود شلتوت، الفتاوی، ص 210)


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وی یا ډیره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوی، زموږ راتلونکی ساتی او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروی. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیری مرستی کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازی یوه دقیقه وخت نیسی. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکی پته DNB Bank AC # 0530 2294668 لږ
ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.
Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

www.dawatmedia24.com

# سیکولریزم یانې څه؟

حافظ ناصر

تر ټولو لومړی د فکر او بیان ازادي د سیکولریزم بنسټیز اساس او د انسان پیدایښتي حق دی، نو هر چا ته باید اجازه ورکړل شي چې د خپل ځان او د ژوند د ټولو ستونزو لپاره د حق لاره ولټوي، که هغه له سیاست سره تړاو ولري او که نه.

سیکولریزم د اقتصاد، مذهب، اخلاقو، فلسفې، حکمت، ادب او هنر په ټولو برخه کې اجازه ورکوي چې هرڅوک خپل نظرونه پرته له ډار او خطر څخه خپاره او شریک کړي. لکه څرنګه چې دا د بشري حقونو خلاف کار دی چې د زور له لارې یو څوک غلی کړي یا د ګواښ او ځورونې له لارې یو څوک مجبور کړي چې ورسره موافقه وکړي.

**د سیکولریزم تعریف:**

سیکولریزم د انساني ټولنې د تنظیم او ډسپلین یو ریاستي سیسټم دی چې د ټولو انسانانو د مساوي خوندیتوب، هوساینې او پرمختګ مسؤلیت منې، چې په ټاکلي تعریف شوي جغرافیایي حدودو کې زیږیدلی او اوسیږي .




سیکولر دولت دغو موخو ته د رسیدو لپاره د عامه پوهاوي، اجتماعي مشورې او عدالت له اصولو څخه کار اخلي.

انساني ټولنه یوه عضوي پدیده ده. په تاریخي توګه، د ټولنې د تنظیم کولو لپاره مختلف دولتي سیسټمونه منل شوي. په تیرو وختونو کې، د واکمنۍ حق یو فرد او د هغه کورنۍ ته ورکړل شوی و. کله کله د یو ځانګړي قوم یا ژبي خلکو ته د واکمنۍ حق ورکړل شوی و او کله کله د یوې ځانګړې عقیدې مشران د واکمنۍ وړ وګڼل شول. په دې مختلفو نظامونو کې د دولت د جوړولو موخه هم بدله وه. په ځینو ځایونو کې د دولت موخه د شخصي واک وده وه او په نورو ځایونو کې د دولت موخه د یو ځانګړي نسل یا قبیلې د ګټو لپاره د ځوانۍ وده وه. دولت یو وخت د یوې ځانګړې عقیدې د ودې لپاره د یوې وسیلې په توګه کارول کیده.

د زرګونو کلونو د تجربو په رڼا کې انسان بالاخره دې نتیجې ته رسېدلی دی چې د دولت دغه ټول ډولونه په ټولنه کې د سولې، عدالت او پرمختګ په لاره کې خنډ ګرځي. د انسانانو لپاره د سولې، امنیت، عدالت او د ژوند د غوره معیارونو د ترلاسه کولو تر ټولو غوره لاره دا ده چې په دولت کې د حاکمانو او رعیت ترمنځ توپیر له منځه یوسي او ټول وګړي د مختلفو الهي او ایډیالوژیکو موخو پر ځای د مساوي غړو په توګه وپیژني او دولت باید د انسانانو د دنیاوي ژوند د ښه کولو وسیله وګڼل شي او حکومت ته باید یوازې په هغو چارو کې د مداخلې اجازه ورکړل شي چې په بې پرې او هدفمنده کچه څېړل کېدای شي.

د سیکولر دولت اصطلاح د لاتیني کلمې Saeculum څخه اخیستل شوې چې په لفظي توګه د نړۍ یا ځمکې معنی لري. داسې ښکاري چې په سیکولریزم کې د دولت هدف زموږ د نړۍ یا ځمکني ژوند ښه کول دي.

سیکولر دولت د خپلو اتباعو لپاره د خوړو، جامو او سرپناه د برابرولو مسولیت لري. دا د دولت مسؤلیت دی چې دوی ته مناسب کار او مناسب چاپېریال برابر کړي. دولت خپلو اتباعو ته دا فرصت برابروي چې پوهه ترلاسه کړي او په مختلفو هنرونو کې شوق او لیوالتیا ولري. د دوی د ژوند، مال او شخصي آزادیو ساتنه وکړي او د ژوند د هوساینې لپاره یې مسؤلیت په غاړه واخلي.

دا د سیکولر دولت دنده ده چې داسې قوانین، بنسټونه او پالیسۍ تصویب کړي چې له ټولنې څخه جرم او تاوتریخوالی له منځه یوسي، ناپوهي له منځه یوسي، فقر له منځه یوسي او د ناروغیو مخه ونیسي.

سیکولر دولت په هغو چارو کې له مداخلې ډډه کوي چې په بې پرې توګه یې تصمیم نیول ممکن نه وي، د بیلګې په توګه سیکولر دولت د خپلو اتباعو په عقایدو کې مداخله نه کوي.

اتباع د خپلې ژبې، کلتوري غوره توبونو، دیني عقایدو او همدارنګه علمي او سیاسي افکارو د خپلولو ازادي لري، په دې شرط چې هیڅ وګړی د نورو اتباعو په دغه ډول ازادیو کې

لاسوهنه ونه کړي. تر هغه ځایه چې د مذهب خبره ده، سیکولر دولت یوازینۍ دنده لري چې د ټولو اتباعو د حق ساتنه وکړي چې هر هغه مذهب چې دوی یې غواړي باید په مذهبي توپیرونو کې ښکیل نه وي.

او دا د دولت دنده او مسوولیت دی چې د ټولو اتباعو ساتنه او د هر وګړي د دیني عقیدې په برخه کې د بل اتباع یا ډلې له هر ډول احتمالي لاسوهنې او فشار څخه ساتنه وکړي .

په یوه سیکولر دولت کې حاکمیت په خلکو پورې اړه لري.

سیکولر دولت د اتباعو یا د دوی په خپله خوښه منل شوي ډلو تر مینځ د رضاکارانه تړون په پایله کې رامینځته کیږي ، نو په سیکولر دولت کې د تابع او حاکم مفهوم نه موندل کیږي. ټول اتباع مساوي حیثیت او حقوق لري. د دوی په غوره بڼه کې، د سیکولر دولت ټول اتباع په حقیقت کې د حکومت برخه دي ځکه چې سیکولر دولت د اتباعو پر ځای د فعال تابعیت مفهوم لري. (هغه څوک چې د رایو په مرسته د مساواتو په اساس د دولت په چارو کې برخه اخلي.) حاکمان هم د خلکو په رضایت سره د یوې ټاکلې مودې لپاره د اتباعو څخه ټاکل کیږي او حکومتداري د واک پر ځای مسؤلیت ګڼل کیږي.



دولتي چوکۍ د خلکو د واکمنۍ په معنا نه دي، بلکې د ولس د غوښتنو او هیلو له مخې د دولت تنظیمول دي، ځکه په یوه سیکولر دولت کې د واک سرچینه ولس وي، یعنې په یوه سیکولر دولت کې د یوه وګړي د ژوند معیار، اسانتیاوې او امنیت د چا احسان نه دی، بلکې دا یو امتیاز دی.

سیکولر دولت داسې بنسټونه، جوړښتونه او قوانین جوړوي چې تر ټولو ضعیف وګړی وکولای شي له زورواکو او زورورو څخه پرته له وېرې او خوښې خپل حقونه وغواړي یعني په سیکولر نظام کې، د دولت او اتباعو ترمنځ د مستقیم اړیکو مفهوم شتون لري.

د بېلګې په توګه، که یو څوک د خپلې کورنۍ، خپلوانو یا ماشومانو سره ظلم وکړي، د ظلم قربانیان کولی شي په مستقیم ډول له دولت څخه مرسته وغواړي. بلکه دا د دولت دنده ده چې د بې عدالتۍ د قربانیانو پاملرنه وکړي. په ورته ډول، هیڅ مشر، ملا یا ملک، د هغه د ټولنیز موقف پر بنسټ، د هغه تبعه واک نلري چې د دولت له واک څخه بهر وي یا چې دولت یې ننګونه نشي کولی.

د سیکولر دولت جغرافیایي سرحدونه ټاکل شوي.

په پخواني نظام کې چې کله یو واکمن په زیات شمېر اسونه او توري درلودې، پر یوه کمزوري ګاونډي دولت به یې برید کاوه او له یوه هیواد څخه بل هیواد برید ته د ځوانۍ یا امپراتورۍ په څیر خوندور الفاظ ورکړل شوي. بشري تجربې ښودلې ده چې د دولت د سرحدونو د غځولو دغه چلند د دوامداره جګړې لامل ده، د عصري دولت جغرافیایي حدود د یو انچ په کچه ټاکل شوي دي او هیڅ دولت نشي کولای د بل هیواد یوه انچه خاوره په زور اشغال کړي.

د نړیوالې سولې او امنیت تر څنګ د دې دولتي نظم یوه مهمه پایله دا ده چې په یوه سیکولر دولت کې د هر وګړي بنسټیز او تر ټولو مهم تړاو له خپل دولت او حکومت سره وي، بې له دې چې د نژاد، عقیدې، مذهب او کلتور په نظر کې ونیول شي. هر هغه څوک چې په دې جغرافیایي حدودو کې زیږیدلی او ژوند کوي د دولت او نورو ټولو برخو مساوي اتباع دی.

مانا دا چې سیکولر دولت د خپلو اتباعو سره یوازې په یوه اړیکه پورې تړلی دی، یعنې د تابعیت اړیکه.

په سیکولر دولت کې ټول اتباع حق لري چې د ژبې، کلتور، نژاد یا عقیدې او نورو په اساس مختلف هویتونه غوره کړي، مګر اساسي حیثیت یې د تابعیت دی. نور ټول هویتونه او اړیکې داوطلبانه او ثانوي دي. د سیکولر دولت په نظر، د یوه تبعه حیثیت د ژبې، کلتور، نژاد، مذهب، جنسیت یا کوم بل هویت له مخې کم یا بې ارزښته نه دی او ټول افراد چې د یاد شوي دولت تبع وي له مساوي حقونو څخه برخمن دی.

# طالب سره ژوند که جګړه، پښتانه څه وکړي؟

ګلاب الدين پټان

د طالبانو په اړه تر نورو پښتنو ته قضاوت او فيصله ډېره مشکله شوې، ځکه طالب په قومي لحاظ تر ډېره حده پښتون دی، د پښتونولۍ په اساس هم د واک دعوه لري او حاميان يې لابې ورته کوي او په عين حال کې هر چا نه ډېر مرګ او درد يې هم پښتنو ته پېښ کړی.

اوس چې طالب هم پښتون دی او هم د پښتون ضد کارونه يې پريمانه دي، پښتانه څه وکړي؟

په دې اړه نظرونه سره وېشلي دي، چې دلته به لږ بحث ورباندې ولرو:

١ -يوه برخه خلک او خاصتا د سمتي او قبيلوي قضاوتونو خاوندان خو طالب د پښتنو لپاره يو تاريخي فرصت مني.

د دوی په باور طالب د شمال ټلوالې د لنډه غرو، جنګسالارانو او د افغانستان د وحدت د مخالفانو تغر ټول کړی او يو قوي مرکزي نظام يې حاکم کړی.

تبصره: طالب که په طبيعي ډول په دې موقف کې وي، يا همداسې ادرس جوړول تري کومه لويه ډرامه وي، خو واقعيت همدا دی. طالب سمدستي د افغانستان زبر ځواک دی، خو دا چې پښتنو ته فرصت او که لوی ګواښ ګرځي، په دې اړه غور ضرور دی.

٢ -بل نظر دا دی، چې طالب د پښتنو په جامه کې د دوی د ذليله کولو، غلامولو او تل لپاره په خپلو منګولو کې د ساتلو لپاره د پاکستان په وسيله د نړيوالو استعماري قوتونو پروژه ده، چې د پخوا په شان بدنامي او تاوان پښتنو او ګټې نورو ته رسوي.

**تبصره:** دا خو واضح ده، چې طالب همدغو بهرنيو بدخواهانو رامنځته کړی، پاللی او حاکم کړی، خو دا هم واضح ده، چې طالب فی الحال ميدان ګټلی، قدرت ورسره دی، دنيا ورسره ولاړه ده، که د نا مشروع هدفونو لپاره هم وي، په حاکمولو کې يې لاس ورکړی او ډغره ورسره ژر اسانه نه ده.

٣ -يو نظر دا دی، چې طالب د اور پرتوګ دی، نه يې غورځوی او نه اغوستی شوو. طالب سره يوه ګوزاره بايد وشي، چې معلومه




شي، سميږي، که نور هم ورانيږي؟ يا لاس ورکړل شي چې اصلاح شي او موجوديت نه يې د يوه فرصت لپاره استفاده وشي. جنګ د حل لاره نه ده، په هيڅ صورت به يې حمايت نه کوو، مخالفت به هم ورسره کوو او چې مجبور شوو ټلوالې او نورو نه خو طالب را ته ښه دی.

تبصره: طالب ثابته کړه، چې هغه نه اصلاح کيږي، نه نور څوک ورسره په مشوره او حکومت کولو کې مني، د همداسې خوشبينانو په شمول. ټلواله او نور ريښتيا هم طالب سره زيات توپيرونه نه لري، خو ولې په هر بحث کې مقايسه؟ دا ټلواله او طالب چې څو لسيزې زموږ په برخليک لوبې کوي له کوم اسمان

نه را باندې نازل شوي، ولې خپله د کوم عمل د ابتکار ظرفیت نه پیدا کوو؟

زما نظر او څو وړاندیزونه:

نه دا نننۍ لوبه نن پیل شوې او نه د نن لپاره ده او سبا و بل سبا نه لري.

پښتانه، دلته مې مخاطب هغه ژور لید لرونکي ظرفیتونه دي، نور باید په مسوولیت سره له پېښو رامنځته کېدو څخه مخکې د بدلونونو د تحلیل او ورسره په حېث د ملت د تعامل کولو پروګرام او چمتووالی ولري.

په دې خاطر ځینې مشخصې خبرې او وړاندیزونه دا دي:

۱-د پښتنو یوه لویه نقیصه د فکر او عمل د خلکو په منځ کې واټنونه او په ځینو مشترکو ټکو نه را غونډېدل دي. پرون بهاوالدین مجروح د حکمتیار ځانځاني شامار مهار نه کړلای شو او حکمتیار د مجروح پرهر معالجه، بلکې پسې شهید یې کړ. نن طالب او حکمتیار چې له اغازه تر انجامه د وطن د اوبو په ځای پنجاب ته د روانو اوبو محلولات یې ښبلي او ښبي به، په خپلو کې نه سره جوړېږي. پښتون که د عقل او منطق دعوه لري د اشرف غني او ملا عبدالغني برادر تر حده هم باید ځینې مشترک ټکي معلوم او د ضرورت په وخت کې ورته ګډ کار وکړي.

۲-هغه پښتانه چې مات یا خرڅ، بې واکه، مهاجر او در په در شول او ماغزه یې لړ هم کار کوي، تر مرګه باید د وزارت، ولایت او په نورو سطحو کې د هماغسې مرفه ژوند خوبونه ونه ویني، عقده من نه شي، مقاطعه هم ونه کړي، که یې طالب سره نه کېږي، همدا فیصله هم فردي او احساساتي ونه کړي، هوا په سوکانو ونه وهي، د ټیکنالوژۍ زمانه ده، فی الحال دې عاجل او د ورځې په کړاتو مشورتي او تحلیلي مجلسونه وکړي، وضعیت وارزوي، سولې او جنګ دواړو ته تیاری ونیسي، په هره خوا کې فرصتونه، منابع او انسجام همغږی کړي. په دې کې ځانځاني، د تکراري او شرایطو سره د نا برابرو څېړو تحمیلول نه، علمي او منطقي چلند په کار دی. په وطن کې د سولې او جنګ ظرفیتونو سره مشوره، د دوی بارز رول او ورځخه سیاسي، مالي او نور هر ډول حمایت او لابي لازم دي. کیدای شي ټول په یوه او یا لسو مثبت او منفي لوریو کې هم ځای نه شي، خو پراګنده ګۍ نه د سوله غوښتونکو، جنګ غوښتونکو او بې طرفو ټولو په منځ کې ممکن انسجام، باور او برنامه جوړول لازمي دي.

۳-پښتانه په دې زمانه کې که د دې زمانې په سطحه ژوند او خوند غواړي، د همدې زمانې په ټولو اصولو به ځان برابروي. طالب پښتون دی او نه دی، ازاد دی که غلام، خدای که پنجاب را لیږلی، دوزخ که جنت ته مو بیايي، دنیا او منطقه شه که بد پلانونه لري، نور دا چندان عقلاني بحثونه نه دي.

موږ په حیث د یوې ډلې، مفکورې او ملت باید وضعیت په عقل او منطق درک او تحلیل کړو هر انتخاب ته هماغسې ظرفیتونه یا رامنځته کړو، یا رامنځته شوو باندې غور وکړو، وېې څېړو، چې چا سره ښګه شي او ښګه نه شي،، په ټولو مسایلو سم او ژر سر خلاص کړو او لاس په کار شوو. په قومي او احساساتي یا اخلاقي بحثونو چې جنګ که سوله شه ده، څه نه کېږي. همدا طالب او ټلواله په جنګ جوړ شوي او بیا قدرت ته رسیدلي ادرسونه وو او دي، نور د سولې او جنګ ادرسونه هم یو مخ نورخلک جوړوي، یا یې جوړ کړي. هر څوک هر چا ته د هغه د قد و قامت یا موثریت په اندازه قایلېږي او تعامل ورسره کوي، که هغه نړیوال دي، سیمه، طالب یا غیر طالب ادرسونه.



# طالب ولې خلک په دین شکي کوي؟

ملاله لیلا

د کابل له سقوطه وروسته چې له ځوانانو سره خبرې کوم اکثره له ډېرې نا امیدۍ په دین کې شکې شوي غونډي دي. دا د تاسف ځای دی چې طالبانو نه یوازې په خلکو ژوند حرام کړی دی بلکې ایمانونه ته یې هم خطر جوړ کړی دی. د دین په نوم کومې ناروا وې چې طالب د افغانستان په ملت وکړې د عالم اسلام په تاریخ کې جوړه نه لري. د یو مسلمان ژوند له دوو برخو جوړېږي دا دنیا او له مرګه وروسته دنیا، په امارت اسلامي کې یا د قرارخیلو په اصطلاح حمارت اسلامي کې پر افغانانو دا او هغه دنیا دواړه دوزخ شوي دي. دا چې الیپ.الیپ د افغانانو دا دنیا او هغه دنیا څرنګه خرابه کړې ده دا پراخ بحث دی خو زه غواړم دلته څو خبرې وکړم.

**دا دنیا**

امنیت: انسان د ژوند لپاره امنیت ته اړتیا لري. طالبان مخکې تر واکمنیدو هم د افغانستان د ناامنۍ اصلي عاملین ول او اوس چې په واک کې هم دي د افغانستان د ناامنۍ اصلي عاملین دی. لسیزې کېږي چې په افغانستان کې بیلابیلې ترهګرې ډلې فعالې دي. د دغو ټولو فعالیت ته طالبانو لار هواره کړې ده. دا د طالبانو معنوي پلار، ملا مامد عمر اخوند و چې اسامه یې په افغانستان کې ساتلی و.. خیر د ملا مامد عمر وخت به تیر هیر کړو خو تاسو د تیرو شلو کلنو انتحاري حملو ته دقت وکړئ هغه تر ټولو بدې خونړۍ پیښې چې بې شمیره بې ګناه ملکي افغانان پکې شهیدان شول هغه طالبانو کړې وې. د طالبانو هدفي قتلونه خو به هیڅ یادوم نه... په افغانستان کې انواع و اقسام د وحشتونو طالبانو پیل او بیا وروسته نورو ترهګرو ډلو د دوی په تقلید اجرا کړې دي.

د طالبانو ډیفلوماتان د خپلو پخوانیو کړنو په هکله د خپل وزیر متقي اخوند دا خبره کته پورته کوي چې، (( په جنګ کې خو څه حلوا نه ویشل کېږي)). متقي اخوند ته باید ووایم چې غم دا نه دی چې تاسو د جنګ په وخت کې څه وکړل یا مو و نه کړل، غم دا دی چې تاسو افراطي فکر دومره ډېر خپور کړ چې اوس د ټولې دنیا ترهګر فکر کوي چې جهاد یوازې په افغانستان کې فرض دی. غم دا دې چې ستاسو داخله وزیر خلیفه حقاني مو شرمېږي هم نه او په افتخار وایي چې کله مو د افغانستان په ابادیو ځانمرګې حمله کوله توبه اعوذباالله پیغمبر یې رهبري کوله.

خلاصه دا نن او سبا چې په افغانستان کې د داعش او نه پوهیږم چا او چا په نوم کومې حملې کېږي د دې ټولو پړه د طالب په غاړه ده. لسیزې کېږي چې د طالبي فکر د لاسه افغانان د ژوند له ابتدایي حقه چې امنیت دی محروم دي.

**د ښه ژوند هیله:** انسانانان ټول ژوند د پرمختګ او هوساینې لپاره تلاش کوي. د امارت اسلامي په واکمنۍ کې چې کار نشته، لوږه اوج ته رسیدلې ده ، قانون مالوم نه دی، ښوونځي بند دي ، انساني کرامت خوندي نه دی او تفریح و خوشحالي حرامه ده.. انسان څه ډول ژوند وکړي؟ خلاصه که تاسو د امارت اسلامي اعمالو ته دقت وکړئ داسې ښکاري چې د وطن او د ملت د حالت بهتره کولو ته هیڅ پلان نه لري. بدتره یې لا دا چې طالب نه یوازې د ملت د ژوند له بهتره کولو سره دلچسپي نه ښکاره کوي بلکې شپه ورځ په دې بوخت دي چې څرنګه په خلکو ژوند حرام کړي.

**هغه دنیا،**

د هغې دنیا په هکله به نور نو څه ووایم. دین انسان ته امید ورکوي له ناامیدۍ یې راګرځوي خو امارت اسلامي د دین په نوم له خلکو امید اخیستی دی. پرون یوې نجلۍ چې اوس باید په دولسم صنف کې وای راته ویل،" په دې دنیا کې انصاف نشته که وای اوس به زموږ ښوونځي خلاص ول نور نو څومره دعا وکړم. خدای هم لکه چې یوازې د قاتلانو دعا اوري."

نجلۍ مې په دې خبرو سپکه کړه ورته مې وویل چې صبر وکړه هر څه به سم شي خدای مهربانه دی.

**د خدای په مهربانۍ کې هیڅ شک نشته خو که د امارت اسلامي دا کارنامې همداسې جاري وي، څومره نور خلک به له ژوند نه زړه تور او توبه اعوذ با الله د خدای په انصاف بې باوره شي؟؟**

# پروپاګند

عبدالعزیز نایبي

زمونږ د سیمې نائي د خبرو ګوډی وو، که به یې کڅوړه خوله له نصوارو هم ډکه وه؛ نه پرچاویده! په میلټ کې به یې د افغانستان او سیمې خبرې د راډیو د خبرې سرویس په څیر درواورولې. هغه د راډیو ښه اورېدونکی وو، کوم خبر به یې چې په طبعه نه وو برابر، د عادت له مخې به یې لکی پسې دا اصطلاح ورغوټه کړه:«خوشې پروپاګند ده!».

یوه ورځ یې زما ویښته پرېتول، د بیاتي کړچهاری یې خاته او دی هم چالند وو، په خبرو کې د پروپاګند په اصطلاح وربرابر شو، ناڅاپه مې ورغږ کړ:« آکا! دا پروپاګند څه مانا؟»، نصوار یې د دوکان د اخیر کنډوکپرغولي ته ور تو کړل او وېې ویل:«هسې کرتې، دروغجنې خبرې».

کابل کې چې د کورنۍ جګړو اور تود وو، پلار به مې سهار ماښام د راډیو اورېدل نه قضا کاوه. مونږ به هم ورته غوږ وو. کله کله به مې نا آشنا کلمې ترغوږه شوې، کرار به مې د مانا پوښتنه وکړه. پلار مې د خبرونو اورېدو کې جدي وو، اخلال یې نه خوښېده. لنډ به یې راته وویل: انارشي یعنی ګډوډي، ویتو یعنی ردول، پروپاګند یعنی ډنډوره – تبلیغ....

اروانښاد جمال الدین امیل زمونږ ګاونډی وو. اصل کې پوځي منصبدار وو، خو په الجبر ښه پوهیده! په دي مضون کې مې چندان خونده نه وه، کله کله به د زده کړې له پاره ورتلم. یوه ورځ نه پوهیږم چې څنګه د درس پرمهال د پروپاګند کلمه یاده شوه، د کنجکاوۍ له مخې مې له استاذه توضیح وغوښته. هغه په ډېره مهربانۍ د خپلو شخصي یاداشتونو کتابچه راکړه چې په یوه پاڼه کې یې د پروپاګند شرحه داسې راغلې وه:

«پروپاګند اصل کې لاتینه کلمه ده چې د خبراوي او تبلیغ مانا افاده کوي. په اصطلاح کې هرهغه عقیده او پیغام چې د یوه ټاکلي هدف په موخه د اخبار، کتاب، غونډو، سینما، راډیو او ټلویزیون له طریقه د خلکو ترمنځ خپور شي، پروپاګند دی. پروپاګند ته د سیاسي جګړې اوزار یا تبلیغاتي جنګ هم ویل کیږي.»

تر دې ځایه مې لرلږ سر خلاص شوی وو، خو چې پوهنتون او پوهنځي ته لاړم نو د عامه افکارو په مضمون کې مو دا اصطلاح ښه وشاربله. اروانښاد پوهاند هدایت الله وفا مونږ ته پروپاګند داسې تعریف کړی وو:

«پروپاګند د هغو عقایدو، اطلاعاتو او ګونګوسو خپریدل دي چې یوې اداري، باور یا ځانګړي شخصیت ته د ګټې یا زیان د اړولو په منظور ترسره کیږي. په بله وینا، پروپاګند هغه عقاید، حقایق یا تورونه دي چې د فردي، ډله ایز او ټولنیزو موخو د



پرمخ وړلو په نیت، یا د نورو د موخو او پرمختګ د شنډولو له پاره ترسره کیږي.»

پروپاګند د ارمانونو د پلي کیدا له پاره څواکمنه وسیله ده چې د سیاسي څواک د لاس ته راوړلو او ساتلو په موخه ورڅخه ګټه اخیستل کیږي. پروپاګند د عامه افکارو د استقامت په ټاکلو، جوړښت او سازماندهۍ کې خورا ارزښتمن رول لوبوي. نن سبا که د ټکنالوژۍ ودې د انسانانو ترمنځ اړیکې چټکې او پراخې کړيدي؛ د پروپاګند له اغیزې بې هم د هغوی تیښته ناشونې کړې ده. کیدای شي انسان په رمزونو، چلونو، پټ او غیر مرعي ډول د تبلیغاتو تر اثر لاندې راشي.

دا چې د پیښو په اړه له خلکو د قضاوت اختیار وانخیستل شي، د پروپاګند ځینې ډولونه دلته را اخلو:

**۱- تور پورې کول – سپکه ژبه**

د یوبې مخالفې ډلې پرضد د خلکو د غُصې او کرکې د پارولو له پاره کارول کیږي. دا ډول پروپاګند له مخالفو ډلو سره د بحث او استدلال اړتیا له منځه وړي.

**۲- غولونکې شعارونه**

دې ډول پروپاګند کې مبلغ هڅه کوي چې د ګُنګ او متحدالماله شعارونو په ورکولو عامه افکار خپل کړي. پیغام معمولا پرځینو ارزښتونو لکه شرافت، دین، هیوادپالنې او توکم پالنې څرخیږي. ښاخونه یې دا دي:

**سپین پروپاګند:**

پروپاګند کې د پیغام سرچینه کاملا څرګنده او د اطلاعاتو په خپراوي کې له پوره غور څخه کار اخیستل شوی وي.

**خړ پروپاګند:**

دې ډول پروپاګند کې د پیغام سرچینه نه وي روښانه، او کره اطلاعات نه وړاندې کیږي.

**تور پروپاګند:**

هغه ناسم اطلاعات دي چې سرچینه نه لري. دې ډول پروپاګند کې هر ډول جعل او تخریب ترسره کیږي.

## زموږ دننی باور او حقیقي ژوند

محمدالله آرین

یوه ورځ غومبسې 🐝او مار 🐍له یو بل سره بحث لاره!
مار وویل انسانان زما نیش نه بلکه ظاهري ډار وژني.
غومبسې دا خبره نه منله.

مار د دې خبرې د اثبات لپاره د ونې سیورې ته د سترې شپانه خواته ور نیږدې شو غومبسې ته یې وویل زه دا شپون چیچم ځان چیرته پټوم خو له نیش سره سم یې ته پر سر دورې کوه چې دی فکر وکړي تا چیچلی دی.

مار شپون وچیچه او غومبسې د شپانه پر سر الوت پیل کړ، شپون سخت درد را ویښ راکړ او ویې ویل: ای لعنتې غومبسې....په چیچلې ځای یې خولو کیښوده لږ زهر یې ترې وویستل په واړه ټپ یې ملهم کیښودل موده وروسته روغ شو.

وخت تیر شو مار دا واړې برعکس لوبه وکړه غومبسې شپون وچیچه مار یې څنګ ته ځان وښود چې ګواکې ما چیچلی یې، شپون سخت درد له خوبه را ویښ کړ، په مار یې سترګې ولګیدې او له لیدو سره سم یې ټوپ کړ او وتښتید.

هغه له ډاره د تیر په شان زهر تخلیه نکړل او څو ورځې وروسته شپون د دې په پلمه چې مار چیچلی ومړ!!!

ډیرې ناروغیانې او کارونه دغسې دي، افراد یې د ډار له امله مري.

موږ باید په ژوند کې خپلو باورونو او تلقینونو ته ډیره پاملرنه وکړو ځکه زموږ دننی باور زموږ په حقیقي ژوند او چارو اغیز کوي.



# پښتانه او د نجونو تعلیم

عبدالله خیبر



پښتانه چې ځانونه د خپل وطن اصلي څښتنان بولي، او تر نورو یې په جګړو او سرښیندنو کې زیاته برخه اخیستې ده، مګر د تعلیم په ډګر کې نه دي ځلیدلي. د هغو پښتنو شمیر اوس هم ډېر کم دی چې تعلیم ته د قدر په سترګه ګوري او له زړه پر خپلو اولادونو تعلیم کوي، اکثره د تعلیم پر ځای روزګار ته مخه کوي او په یوه ګوله ډوډۍ پسې سرګردانه تاوېږي. اوس هم پښتانه خپل ماشومان د مکتب پر ځای مدرسې ته لیږي، دوی نه پوهېږي چې په مدرسه کې یې زوی ته څه شودل کېږي، دوی فکر کوي چې په داسې کولو به د خدای رضایت به خپل کړي او جنت به وګټي.

د ښځو تعلیم او زده کړه چې خدای پرې فرض کړې ده، مګر پښتانه د خدای دې حکم ته د شک په سترګه ګوري. دوی خپله خور لور په بدو کې ورکولی شي، په پیسو یې خرڅولی شي، خو د زده کړو لپاره یې مکتب ته نشي لیږلی.

دا چې په فیسبوک کې اکثره پښتانه ځوانان په ظاهره د نجونو د مکاتبو د خلاصون چیغې وهي، دوی خپلې خویندې او لوڼې مکتب ته نه پرېږدي او یا یې له شپږم ټولګي نه پورته زده کړې پرې نه کوي. د دوی په فکر نجلۍ ته دومره زده کړې بس دي چې یوازې لیک او لوست زده کړي، د ښځې کار او پیسې ګټل دووسي ورته ښکاري. اکثره پښتانه د ښځو ګټه د ځان شرم بولي، نه غواړي چې یو نارینه دې د ښځې د لاس ګټې ته کینې. پښتانه تل غواړي چې پر ښځو حاکمان واوسي، تعلیمیافته ښځه خو هوښیارېږي، پر سړیو ځان بالا ګڼي او د خدمتګارۍ او غلامۍ حس یکې کمېږي. طالبان هم چې اکثره یې پښتانه دي، د ښځو عصري زده کړو سره چندان نه دي جوړ. دوی تل دا خبره کوي

چې موږ کلتوري حساسیتونه په نظر کې نیسو. پر ځای د دې چې د پیغمبر په شان له خپل کلتور نه بد رواجونه ایسته او ښه پکې وپالي، دوی ښه ترې اېسته کوي او بدو ته لا لاره برابروي. یوه نجلۍ که په بدو کې ورکول کېږي، که لوړ ولور پرې اخیستل کېږي، که د پیسو په بدل کې لکه د مال خرڅیږي، که په میراث کې حق نه ورکول کېږي، هیڅ پروا نشته، خو له زده کړو باید چې بنده شي.

په ځینو مشهورو دیني کتابونو کې هم د ښځو له عصري تعلیم سره مخالفت څرګند شوی دی، یوازې پر دیني تعلیم ټینګار شوی دی، په دې کتابونو کې سړي ته د خدایی رطبه ورکړل شوې او ښځې ته د غلامې او وینځې. دې کتابونو کې راغلي دي چې پر ښځه یوازې دیني علم فرض دی چې خپل لمونځ اودس په ښه شان ترسره کړي، عصري علم یې دومره بس دی چې لیک او لوست زده کړي، له کوره دباندې معاملې د سړیو کار دی.

زموږ ملایانو هم همدا ډول کتابونه لوستي او منلي دي، او د همدې کتابونو مصنفینو ته د ولي و الله په سترګه ګوري. پښتانه هم چې له ډېر وخت راهیسې د ملا تر سیوري لاندې ژوند کوي، د ملا هره خبره ورته د قرآن ټکې ښکاري، هره خبره چې وکړي دوی یې په سر سترګو مني.

ځیني پښتانه اوس هم هغه نجونې چې مکتب ته ځي په بدو القابو یادوي، ځیني خو خپلو زامنو ته مکتبۍ نجونې نه غواړي، د دوی په فکر د مکتبیو نجونو سترګې شکیدلي او حیا ترې تللي وي.

طالبان چې د نجونو له زده کړو سره حساسیت لري، دوی له همغو کلیو او بانډو راښکته شوي دي چې ښځه پکې تر کور او ګوره محدوده ده، که چیرې پښتانه لکه د نورو افغان قومونو د نجونو تعلیم ته له زړه کار کړی وای، طالب هیڅکله نشول کولی چې د نجونو مکاتبو ته بهانه جوړه کړي. په دې مو باید سر خلاص وي، که د افغان نجونو د ښوونځیو بندیدا هر څومره ځنډیږي، د ګناه او شرم بوج یوازې د طالب پر اوږو نه، بلکې د ټولو پښتنو پر اوږو درنیږي.

که پښتون د خپلو اولادونو روزنه د وخت سره سمه په نوې تعلیمه سویه ونه کړي، تل به د جنګ خشاک پاتې شي. په دین به سر ورکوي، خو سر به پرې نه خلاصوي.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکي پته DNB Bank AC # 0530 2294668 او
ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments:
NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

www.dawatmedia24.com

email: dawatmedia@gmail.com

dawatafghanmedia@gmail.com

# په افغانستان کې د بشري حقونو په اړه د ملګرو ملتونو راپور

ملګرو ملتونو په افغانستان کې د بشري حقونو په اړه رپوټ خپور کړ (۲۰۲۱ د اګسټ ۱۵– د ۲۰۲۲ د جون ۱۵)

کابل، د جولای ۲۰ مه – په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د جولای په ۲۰مه نېټه۱ راپور خپور کړ (په افغانستان کې بشري حقونه: د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې – د۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې)، چې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ د ۱۰ میاشتو په موده کې د بشري حقونو وضعیت په ګوته کوي.

رپوټ د ملکي وګړو د خوندیتوب، له محاکمې پرته وژنې، شکنجې او ناوړه چلند، په خپل سر نیول او توقیف، په افغانستان کې د ښځو او نجونو د حقونو، بنسټیزو ازادیو او د توقیف ځایونو د وضعیت په اړه د یوناما موندنې خلاصه کوي. په رپوټ کې واکمنو چارواکو او نړیوالې ټولنې ته سپارښتنې هم شاملې دي .

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له نیمایي څخه د ۲۰۲۲ کال د جون تر نیمایي پورې په وسله وال تاوتریخوالي کې له پام وړ کمښت سره سره، یوناما ۲۱۰۶ ملکي تلفات (۷۰۰ وژل شوي، ۱۴۰۶ ټپیان) مستند کړي دي. د ملکي تلفاتو ډیره برخه " د عراق او شام اسلامي دولت نومې وسله والې ډلې – خراسان ولایت" ته منسوب شوې چې د قومي او مذهبي لږکیو پروړاندې په داسې ځایونو کې ترسره شوې چې هغوی ښوونځیو، عبادت ځایونو ته روان او دورځنې ژوند پرمخ بیولو په حال کې وو.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړې استازې مارکس پوتزل وویل: "دا ممکنه ده چې ټول افغانان وکولای شي په سوله کې ژوند وکړي او له شل کلنې وسله والې جګړې وروسته خپل ژوند بیا جوړ کړي. زموږ نظارت ښیي چې د اګسټ له ۱۵مې راهیسې د امنیتي وضعیت له ښه کېدو سره سره، د افغانستان خلک په ځانګړې توګه ښځې او نجونې له خپلو بشري حقونو څخه بې برخې دي."

په داسې حال کې چې واکمنو چارواکو د بشري حقونو د ساتنې او ودې په موخه ځینې ګامونه پورته کړي دي، لکه د پخواني حکومت چارواکو او امنیتي ځواکونو بښنه، د ښځو د حقونو په اړه د ډسمبر د ۳ مې فرمان او له بندیانو سره د چلند په اړه قانون، خو دوی همدارنګه د بشري حقونو د پراخو سرغړونو مسولیت پر غاړه لري.

د ښځو د حقونو تر پښو لاندې کول تر اوسه پورې د واکمنې اداري یو له خورا پام وړ اړخونو څخه دی. د اګسټ له ۱۵ راهیسې، په ښوونه او روزنه کې د بشپړ ګډون، په کار ځای، عام او د ورځنې ژوند په نورو اړخونو کې د ښځو او نجونو ګډون په تدریجي ډول محدود شوی او په ډیرو مواردو کې په بشپړه توګه له منځه وړل شوی. ثانوي دورې ښوونځیو ته د نجونو د نه ورتګ پریکړه په دې معنی ده چې د نجونو یو نسل به خپل ۱۲ کلن لومړني تعلیمات بشپړ نکړي. په ورته وخت کې، د جنسیت پر بنسټ د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره عدالت ته لاسرسی، د رپورټ ورکولو د ځانګړو لارو چارو، د عدالتي میکانیزمونو او سرپناه د له منځه وړلو له وجې محدود شوی دی.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړې استازې مارکس پوتزل وویل: "زده کړه او په عامه ژوند کې د ښځو

او نجونو ګډون د هرې عصري ټولنې لپاره اساس دی. په کور د ښځو او نجونو کېنول افغانستان له هغو مهمو مرستو څخه محرومولي چې ددوی لخوا ترسره کېږي. د ټولو لپاره زده کړه نه یوازې د بشر اساسي حق دی، بلکې دا د یوه ملت د رشد او پرمختګ کیلي ده“ .

د ۲۰۲۱ کال د اګسټ په ۱۷ مه، واکمنو چارواکو د پخواني حکومت چارواکو او د افغانستان د ملي امنیتي او دفاعي ځواکونو دغړو لپاره د بښنې اعلان وکړ. په هرصورت، داسې بریښي چې دا بښنه په دوامداره توګه نه ده پلي شوې. یوناما د ۲۰۲۱ کال د اګست له ۱۵ مې د ۲۰۲۲ د جون تر ۱۵مې پورې د واکمنو چارواکو لخوا، له محاکمې پرته د پخوانیو دولتي او امنیتي چارواکو لږ ترلږه ۱۶۰ وژنې مستندې کړې دي.

یوناما د هغه معافیت په اړه اندېښمنه ده چې فکر کېږي د واکمنو چارواکو غړو د بشري حقونو سرغړونې ترسره کړي. د یوناما رپوټ له وسله والو ډلو سره د تړاو په تور له محاکمې پرته د افرادو د وژلو او همدارنګه د اخلاقي جرمونو په تور، د ظالمانه، غیر انساني او سپکونکې سزا او د قانون د پلي کوونکو چارواکو له خوا د زور زیاتي کارونې او له قضا پرته د اشخاصو د وژنو په اړه توضیحات ورکوي. د بشري حقونو سرغړونې باید د واکمنو چارواکو لخوا وڅېړل شي، مرتکبین یې حساب ورکوونکي وګڼل شي، او بالاخره باید په راتلونکي کې د پېښو د بیا تکرار مخه ونیول شي.

د یوناما رپوټ د واکمنو چارواکو د دوو ادارو، د امر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت او د استخباراتو د عمومي ریاست په اړه ځانګړې اندېښنې په ګوته کوي. د امر باالمعروف او نهی عن المنکر وزارت لخوا صادرې شوې ډېرې لارښوونې د افغانانو، په ځانګړې ډول د ښځو او نجونو بشري حقونه او آزادۍ محدودوي. که څه هم دا ډول لارښوونې سپارښتنې بلل کیږي، خو ځینې وخت د واکمنې اداري چارواکو له دغو لارښوونو د سرغړونې په پار د فزیکي مجازاتو د ترسره کولو په ګډون د هغو په پلي کولو کې سخت دریځ غوره کړی دی.

د واکمنو چارواکو د استخباراتو مسوولین له هغو خلکو سره د سخت چلند له کبله په ګوته شوي چې ازادي یې سلب شوې ده. د یوناما رپوټ د هغو مواردو په اړه توضیحات ورکوي چې د واکمنو چارواکو استخبارات له محکمې پرته وژنو، ځورونو، نا سم چلند او په خپل سر نیونو په ګډون له دوی سره په توقیف کې د شته کسانو پر وړاندې د بشري حقونو په سرغړونو کې دخیل وو.

په دې لسو میاشتو کې چې دوی د افغانستان واک تر لاسه کړی، واکمنو چارواکو د سوله ییزو غونډو د ازادۍ، د بیان او د نظر د ازادۍ په اړه خپل دریځ روښانه کړی دی. دوی په خپل سر د خبریالانو، لاریون کونکو او د مدني ټولنې د فعالینو د نیولو په ګډون، د لاریونونو په ځپلو او په رسنیزو ادارو د محدودیتونو په وضع کولو سره مخالفت محدود کړی دی.

د یوناما د بشري حقونو د څانګې مشرې فیونا فریزر وویل: ”په ازاده توګه د سوله ییزې غونډې د جوړولو حق، د بیان ازادي او د نظر ازادي نه یوازې بنسټیزې ازادۍ دي، بلکې دغه چارې د یوه ملت د پرمختګ او ودې لپاره اړینې دي. دوی د معنا لرونکو بحثونو غوړیدا ته لار پرانیزي، او همدارنګه هغو کسانو ته چې حکومت کوي، د هغو مسلو او ستونزو په اړه چې خلک ورسره مخامخ دي د ښه پوهیدو له لارې ګټه رسوي“ .

د توقیف دځایونو په تړاو: داسې ښکاري چې د ۲۰۲۲ کال په جنورۍ کې د طالبانو د مشر لخوا له نیول شویو کسانو سره د چلند په تړاو د لارښود له خپریدو وروسته، واکمن چارواکي په دې تړاو د خپلو مکلفیتونو د ترسره کولو په لټه کې دي. مالي محدودیتونه په دې برخه کې د پرمختګ خنډ شویدي، چې له کبله یې کله ناکله، د توقیف شویو کسانو لپاره د خوړو، طبي پاملرنې او د حفظ الصحې د تجهیزاتو کموالی رامنځ ته شوی او د بندیانو لپاره د حرفوي زده کړو او د روزنې پروګرامونه بند شوي چې مخکې د نړیوالې ټولنې لخوا تمویلیدل. دا کار ددې سبب شوی چې په ځینو قضیو کې د قضایي سیستم د فعالیت له امله توقیف شوي کسان له محاکمې وړاندې د اوږدې مودې لپاره په دغو توقیف ځایونو کې پاته شي.

د بشري حقونو وضعیت په ټول هیواد کې د اقتصادي، مالي او بشري بحرانونو له امله په بیساري ډول خراب شوی دی. دامهال لږ تر لږه ۵۹ سلنه وګړي بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري – چې د ۲۰۲۱ کال د پیل پرتله ٦ میلیونه وګړي زیاتوالی ښیي. د یوناما رپوټ پر نړیوالې ټولنې غږ کوي چې د افغانستان له خلکو سره د هغوی د بیړنیو بشري او اساسي اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې خپلو مرستو ته دوام ورکړي. پردې سربیره، نړیواله ټولنه

مکلفیت لري ترڅو دا ډاډمنه کړي چې د بندیزونو موجودیت، پر بشري حقونو منفي اغېزه نلري .

په رپوټ کې شته موندنې او سپارښتنې ترډېره هغه اندیښنې منعکسوي چې په تیرو لسو میاشتو کې د یوناما لخوا له یوشمیر واکمنو بنسټونو سره راپورته شویدي. یوناما تردې مهاله د ښکیلتیا د کچې ستاینه کړې او د واکمنو چارواکو لخوا د ټولو افغان میرمنو، نارینه وو، نجونو او هلکانو د بشري حقونو د ساتنې او ودې په برخه کې د ملاتړ ژمنتیا ځرګندوي.

د ملګرو ملتونو د سرمنشي سرپرست ځانګړی استازی مارکس پوټزل وایي: "لکه څرنګه چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا د یوناما د ماموریت په تمدید کې روښانه شوې، افغانستان لاهم د یو دولت په توګه د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو مربوط یو شمیر اسنادوغړی پاته دی. دې موضوع ته په پام سره، زه له واکمنو چارواکو غوښتنه کوم چې زموږ په رپوټ کې په ګوته شویو اندیښنو ته د رسیدو لپاره خپلې ټولې هڅې ترسره او د ټولو افغانانو د بشري حقونو د ساتنې او ودې لپاره خپل نړیوال مکلفیتونه پوره کړي" .

د۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵مې د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې مودې مهمې موندنې:

د رپوټ ورکولو په دې موده کې، یوناما مستند کړي:

•۲۱۰۶ ملکي تلفات (۷۰۰ وژل شوي، ۱۴۰۶ ټپیان) داعش-خراسان ډلې ته منسوب شوي، چې په قصدي توګه د ځای پرځای شویو چاودیدونکو توکو (IED) د بریدونو او د نا چاودو مهماتو (UXO) له امله رامینځته شوي دي.

•د واکمنو چارواکو لخوا، له محاکمې پرته ۱۶۰ وژنې، ۱۷۸ په خپل سر نیونې او توقیفونه، ۲۳ مورده غیر مرتبط توقیفونه اود پخوانیو امنیتي ځواکونو ANDSF او حکومتي چارواکو د ځورونې اوناوړه چلند ۵۶ پیښې ترسره شوي دي.

" •د عراق او شام د اسلامي دولت په نوم ځان معرفي کونکې ډلې ته د منسوبې خراسان څانګې" سره د تړاو په تور د واکمنو چارواکو لخوا د ۵۹ تنو وژل، په خپل سر د ۲۲ کسانو نیول او توقیف او د شکنجې او بد چلند ۷ پېښې ثبت شویدي.

•د "ملي مقاومت په نوم د ځان معرفي کونکې جبهې" سره د تړاو په تور له محاکمې پرته د ۱۸ کسانو وژل، دځورونې او ناوړه چلند ۵۴ پیښې، په خپل سري ډول د ۱۱۳ مورده نیونو او توقیف او د ۲۳ کسانو داسې توقیف شامل دی چې د اړیکې نیولو اجازه یې نه لرله.

•د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵مې راهیسې د واکمنو چارواکو لخوا، د ظالمانه، غیر انساني او سپکاوي ډکو مجازاتو ۲۱۷ پیښې ترسره شوي دي.

•د ۲۰۲۱ کال د اګسټ له ۱۵ مې د ۲۰۲۲ کال د جون تر ۱۵مې پورې د واکمنو چارواکو لخوا د زور زیاتي ۱۱۸ موارد ثبت شویدي.

UNAMA

•د بشري حقونو سرغړونو ۱۷۳ ژورنالیستان او د رسنیو کارکونکي اغیزمن کړي، چې له دې ډلې یې ۱۶۳ پیښې واکمنو چارواکو ته منسوب شوي دي. په دې ډله کې ۱۲۲ په خپل سر نیونې او توقیف، ۵۸ مورده ناوړه چلند، ۳۳ د ګواښ او تهدید او ۱۲ داسې توقیفونه شامل دي چې د اړیکې نیولو اجازه یې نه لرله.

په دغه موده کې شپږ خبریالان وژل شوي (پنځه تنه یې د داعش خراسان ډلې لخوا چې ځان ته د عراق او شام د اسلامي دولت څانګه وایي او یو تن یې د نامعلومو مرتکبینو لخوا).

•د بشري حقونو سرغړونو، د بشري حقونو ۶۵ مدافعین اغیزمن کړیدي، چې ۶۴ پیښې یې واکمنو چارواکو ته منسوبې شویدي.

په دغه ډله کې ۴۷ په خپل سرنیونې، ۱۷ داسې توقیفونه چې د اړیکي نیولو اجازه یې نه لرله، د ناسم چلند ۱۰ پیښې او د ګواښلو او ویرولو ۱۷ پیښې شاملې دي.

# د مور پلار او اولاد ترمنځ دوستانه اړيکي

ليکنه: ډاکټر هينري کلاوډ ژباړه: احمد فرهاد توتاخيل

مور او پلار څنګه له اولادونو سره دوستانه اړيکي جوړولې شي؟ مورږ باید د خپلو ماشومانو خپلواکی او بې ساړو هڅو ته په درنده سترګه وګورو. غوره داده چې له خپلو اولادونو سره له مور پلار زياتي داسې دوستانه اړيکي ولرو چې هغوی وکولی شي، د خپلو ستونزو او برياوو په اړه له مورږ سره ډاډه خبري وکړي او دا اړتيا ورته پيښه نه شي چې ځيني تيروتني رانه پټي کړي.

لاندې ځيني داسې ټکي دي چې له مورږ سره ادا مرسته کولای شي، چې له خپلو اولادونو سره ښې اړيکي جوړي کړو:

**۱. ښښنه غوښتل**

که چيرې ته له خپلو اولادونو سره يوازې د مور او يا هم پلار په څير چلند کوې، او ترمنځ مو د ملګرتيا تړاو نه وي، نو اولادونه دې يوه ورځ راټول کړه او ورته ووايه چې، زه ښښنه غواړم چې ما تر دې دمه له تاسې سره د يوه ښه ملګري په څير چلند نه دی کړی.

وروسته بيا ورته ووايه، چې زه غواړم له تاسې سره نوې اړيکې جوړې کړم، چې د هغو اړيکو پر اساس به مورږ او تاسې له دې وروسته نه يوازې د مور/ پلار او اولادونو ترمنځ اړيکې لرو، بلکې د ښو ملګرو په څير به هم اوسو..

**۲. ټولو اولادونو ته په يوه سترګه کتل**

هغه اولادونه دې چې بلوغ حالت ته رسيدلي او هغه چې لاهم واړه دي نو ترمنځ يې توپيري چلند مه کوئ. داسې مه کوه، چې يو اولاد دې زړه ته ډير نيږدې کړې او تل ښه رويه ورسره ورکړې او بل ته هيڅ ارزښت هم ورنکړې. که چيرې ته د اولادونو ترمنځ توپيري چلند کوې، نو شايي چې په ډير لږ وخت کې د ځينو اولادونو اړيکې درسره خرابې شي.

**۳. د اولاد خپلواکی ته درناوی کول**

اولاد ته (په چوکاټ کې دننه) ازادي ورکول او خپل کار ته پريښودل له هغوی سره د ازاد او مستقل ژوند په برخه کې تر ډيره بريده مرسته کولای شي. کله چې اولاد بلوغ حالت ته ورسيږي، نو هغه ځانته جلا داسې ژوند لري، چې د ژوند ځينې برخې يې نور له تاسره شريکې نه دي او ته هم ځانته ژوند لرې.



مورږ د لويانو په څير ډير کله هڅه کوو چې زمورږ ماشومان دې ټول کړه وړه زمورږ په څير وکړي. خو دې ته نه ګورو چې زمورږ او د ماشومانو د عمر تقاضاوې بيخي جلا دي. هغوی ته د لوبو، لوست او کار په برخه کې د انتخاب اجازه ورکړئ. د تيروتنو حق ورکړئ څو له خپلو تيروتنو زده کړه وکړي. همدارز په ژوند کې ګڼې نورې چارې شته چې مور پلار باید په کې د خپلو ماشومانو مصؤنه ازادي تضمين کړئ.

**۴. تل يوې موافقې ته رسيدل**

په خپلو خبرو کې دې هغو خبرو ته پام وکړه، چې زړه خپه کوونکې اوسي. که چيرې ته پر خپل اولاد په ظالمانه او شرموونکې بڼه نيوکې کوې، نو پوه شه چې ته لاهم د مور\پلار رول لوبوې، نه د يوه ملګري رول. په شرموونکې او خجالت کوونکې بڼه په خپل اولاد نيوکې کول د اولاد او والدينو ترمنځ واټن رامينځ ته کوي او ځينې وخت د دې لامل هم کيږي چې اولاد له خپل والدينو څخه زړه توری شي.




## سریزه

عربي ژبه یوه له هغو ژبو چې په نړۍ کې تر ټولو ډېر ویونکي لري او په تیره بیا ددې ژبې څخه ددې ژبې رسم الخط ډېر زیات مشهور شوی دی او د نړۍ ډېرې ژبې په عربي رسم الخط باندې لیکل کیږي .

پر پښتو ژبې باندې هم عربي ژبې ډېره زیاته اغیزه کړې ده علت یې دا وو چې کله چې د اسلام مقدس دین را نازل شو نو دا ژبه د علومو مور وګڼل شوه، او همدا وه چې دا ژبه دیني او درسي ژبه شوه هر څوک چې مسلمان وو او غوښتل به یې چې دیني علوم زده کړي نو مجبور به وو چې دا ژبه زده کړي څو وکولای شي پر دیني علومو باندې وپوهیږي.

ژبه د انسانانو تر منځ د پوهولو او را پوهولو وسیله ده؛ چې پوهانو ژبې ته بېلابېل تعریفونه ورکړي دي. ژبه داسې هم تعریفولای شو، چې ژبه یوه ټروني اجتماعي، ټولنیزه او کسبي پدیده ده،چې په یوه ټولنه کې د هغې ټولنې د وګړو له خوا له یوه نسل څخه بل نسل ته په میراث پاتې کېږي. چې په دې ترتیب د یوې ژبې د ویونکو شمېر زیاتېږي او له ژبې څخه لهجې پیدا کېږي او له لهجو څخه بیا نورې ژبې پیدا کېږي. که یوې خبرې ته متوجه شو د یوې کورنۍ ژبې چې په هغه کورنۍ کې بېلا بېلې ژبې شته او د جلا جلا ژبو په نامه یادیږي. ددې ژبو تر منځ ورته والې لیدل کېږي. خصوصاً کله چې دوه سره نژدې وي یا خویندو ژبو ته متوجه شو لکه د پښتو او دري چې ډېرې هم مانا کلیمې سره ورته دي. یا هم که انګلیسي ژبې ته متوجه شو چې ډېرې کلیمې په لږ وډېر توپیر سره له پښتو او درۍ سره ورته دي. لکه د مور او پلار په کلیمه کې چې په پښتو، درۍ او انګلیسي ژبو کې په لږ و ډېر توپیر سره ویل کېږي. مور، مادر، ماډر چې په تلفظ کې یې ډېر کم تو پیر لیدل کېږي.

دې ته په کتو سره دا څرګندیږي، چې ژبې یو له بل سره لږو ډېر نژدیوالی لري او ځینې ژبې یو وخت د یوې ژبې په نامه یادیدې چې د وخت په تېریدو سره په لهجو وویشل شوې او له دې لهجو څخه بېلې ژبې و زیږیدې. لکه دری، پارسي او تاجکي چې یو وخت د یوې ژبې په نامه وي او اوس  دا ژبه په درې برخو باندې ویشل شوې او د درې بېلا بېلو ژبو په نامه یادیږي. یا هم ترکي او ازبکي ژبې چې اول یوازې ازبکي وه د وخت په تېریدو سره دا ژبه په ترکي او ازبکي ژبو سره وویشل شوه داسې نورې بېلګې هم لرو، چې له یوې ژبې څخه د وخت په تېریدو سره دوه درې جلا ژبې پیدا شوې دي.

## عربي ژبه

عربي ژبه ( په عربي کې: اللغة العربية) د سامی ژبو څخه دی چې په شمالي آفریقا کی او په لویدیځی آسیا کی ویل کېږی. دغه ژبه هم د مذهبی مقدس دین ژبه ده. عربی ژبه کلاسیک فورم یا ادبی شکل او ډېرې لهجې لري. ادبي  ژبه عموما په راډیو تلویزون کی او د ادیبانو لخوا ویل کېږي اوقرآن کریم هم په کلاسیکه او ادبي عربی لیکل شوی دی.

عربي توري د ارامي د ژبې له تورو څخه جوړ شوي دي. تر ټولو پخوانی عربی متنونه په ۴ پېړی کی لیکل شوي دي. په ۷ پېړی کی عربی ژبه د اسلام د خورولو په سبب په نژدې ختیځ کی پراخه شوه. په دی وخت کی دغه ژبه د مغرب څخه تر هندوستان پورې ویل کېده او د نورو ملتونو لخوا کارېده. عربی ژبه هم پر نورو ژبو آغېزه لرل. د مثال په توګه پارسی ژبه، اردو، پښتو د عربي تورو څخه کار اخلي او عربی الفاظ هم کاروي.

په عربي ژبه باندې ۲۵۰ میلیونه خلک غږیږي ، چې دا سروې په (۱۳۵۰هـــ ش ) شوې ده ، او دا ژبه په لومړي سر کې افریقایي – آسیایي ژبې کورنۍ ته منسوبه ده ، بیا وروسته سامي  او د سامي څخه عربي ژبه منځ ته راغلې ده، او ځانته جلا  توري لري چې د عربي توري د ارامي د ژبې له تورو څخه جوړ شوي دي.   او د پښتو توري  هم د عربي تورو په اساس ترببب شوي دي. [۱۰: ۴۴۵]

## د نورو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې

د نړۍ بیلابیلو ولسونو  او خلکو تر منځ د ګاونډیتوب او نورو ټولنیزو ، سیاسي  او اقتصادي روابطو  ټینګښت  په فرهنګ هم خپل مستقیم  اغیز لري.

څومره چې فرهنګونه او ژبې سره نږدې کیږي همغومره  یې بیا د اغیزې پسې زیاتیږي ژبني اړیکې د ادبي اړیکو د ټینګښت سبب

ګرځي. څرنګه چې ادبیات یو ژبنی هنر ګڼل کیږي ، نوکله چې یو شاعر دبلې ژبې له ادبیاتو څخه الحام اخلي نو ژبني تاثیرات هم ژبې ته را انتقالیږي، په تیره بیا هغه ژبې چې د زیښې له پلوه سره نږدې وي ، لکه پښتو او دري او یا هم عربي چې له پښتو سره په یوه واحد لیکدود لیکل کیږي.

که څه هم عربي د سامي ژبې د کورنۍ پورې اړه لري ، خو څرنګه چې د دین او مذهب ژبه ده او همدارنګه له پښتو ، دري او ځینو نورو ختیځو ژبو سره ګډ لیکدود لري ، نو ځکه یې پر ختیځو ژبو په لومړي ګام کې تر زیاتې کچې پر دري او بیا پر پښتو ژبه خپل خپل تاثیرات لري.

نه یوازې ګڼ شمیر دیني ترمینالوژي ، مفاهیم او پیغامونه له عربي څخه دري او پښتو ته راغلي، بلکه یو زیات شمیر ادبي صنایع او نظمي فورمونه هم پښتو او دري ژبو له عربي څخه را خپل کړي ، د دري ژبې خوان وزنونه هم دعربي عروضو له قاعدې سره برابر شول ، خو پښتو ژبې دخپل جوړښت له مخې خپل ځانګړی نظمي یا وزني جوړښت وساته.

له عربي څخه یوازې ځینې ادبي کلمې ، اصلاحات او فورمونه را خپل کړل ، تر پښتو پر دري ژبې د عربي تاثیرات زیات دي.

## پر پښتو ژبه د عربي ژبې اغیز

طبعي خبره ده ، چې افغانستان ته د اسلام راتګ او خوریدو سره سم عربي ژبه هم زموږ په هیواد کې دود او به خپریدو شوه. څرنګه چې پاک قران په عربي ژبه او داسلام ارکان او احکام پر عربي ژه وو، نو پر ټولو ختیځو ژبو په تیره بیا په دري او پښتو دواړو ژبو د عري ژبې او ادب اغیز ورځ تر بلې څرګندیده، داخبره هم د یادولو وړه ده چې ادبي تاثیرات تر مذهبي تاثیراتو لږ وروسته څرګندیږي، نو په دې خاطر لومړی یوه ژبه پره ژبې او ادبیات یې پر ادبیاتو خپل خپل اغیزه ښیندي.

## عربي الفبا:

دنړۍ په تاریخ کې همیشه هغه ژبه او لیک تر نورو ډیر او ژر حاکم سوی دئ چې اساس به یې مذهب و. په لومړي پیل کې عربي ژبه ځکه ډیره مهمه وه ، چې آسماني کتابونه په هغو ژبو باندې وه، وروسته یوناني ځکه حاکمه شوه چې مذهب تر ډیره ځایه په یوناني وو، کله چې بیا رومیان حاکم شول او لاتیني ژبه یې عامه کړه مذهب یې په لاتیني کړئ ورسره سم لاتیني حاکمه شوه بیا کله چې اوومه میلادي پیړۍ کې اسلام ظهور وکړ نو بیا عربي ژبې او لیک پر نــړدې نیمه نـــــړۍ وزر وغوړوی.[۱۰: ۴۳۸]

د اسلام دمبین دین له خپریدو سره عربي لیک هم کش ونیوئ په عربو کې ادبیات او بلاغي علومو زیات ارزښت او درنښت درلودئ او ورسره په څنګ کې دخط کښلو هنر زیات مهم وو او دعربو په وچو مځکو کې بل داسې خاص هنر وده نه وه کړې یوازې خبره تر شعر او شاعرۍ او یا هم لیک او خطاطي پورې محدوده پاتې وه. [۱۰: ۴۳۸]

اوسمهال په نړۍ کې له لاتیني لیک وروسته تر ټولو ډیر عام لیک چې نږدې د نړۍ نیم خلک په بیلابیلو (پښتو ، دری اردو ، ازبکي ، ترکمني، بلوچي ، پراچي او نورو) کې په دغه لیک لیکنه کوي دغه لیک مخکې له دې چې د عربي لیک په نوم یاد شي دکوفي لیک په نوم را پیل شو او مخکې له دې چې په عربي لیک باندې مشهور شي زیات شمیر تغیرات پکښې راغلل او دخپل وخت په ښه او نامي لیکنو کې راغلی. [۱۰: ۴۳۸]

لرغونی عربي لیک له (۲۲) بې ټکو تورو څخه عبارت وو چې ټول کانسوننټونه وه، واولونه پکې نه ښودل کیدل وروسته د نومړي لیک ځینې توري چې سره ورته و ه له لیکنیز سیستم څخه وایستل شول، یوازې (۱۷) توري پاتې شول یعنې (۵) توري له کاروني څخه پریوتل، پاتې (۱۷) توري د عربي ژبې لپاره بسنه نه کوله ، د ټکو اینبودو له لارې (۱۱) نور توري ورزیات شول لکه (ت، ث،ج،خ، ذ، ز، ش، ض، ظ، غ، ق)

خو بیا هم د واول غږونو لپاره په نظر کې نه وو نیول شوي له همدې امه د لیک په لوستلو کې زیاتې ستونزې وې چې په یوه کلیمه کې واول له اټکل سره سم لوستل کیده.

نو پښتو لیکدود هم د عربي الفبا پر اساس جوړ شوی دی.

## ۴ـ۲: پرپښتو ژبه د عربي ژبې د اغېز لاملونه:

پښتو ژبه له دري ژبې څخه وروسته په دوهم کتار کې له عربي ژبې څخه اغېزمنه ده، چې د عربي ژبې دا اغېزې د پښتو ژبې په بېلا بېلو برخو کې لیدل کېږي. دا چې پښتو ژبه څنګه او څه ډول له عربي ژبې څخه اغېزمنه شوې بېلا بېل لاملونه لري.

افغانستان ته د اسلام له راتګ څخه وروسته په سیمه کې عربي ژبه دود شوه؛ ځکه عربي ژبه د قران عظیم الشان او دین ژبه وه. په اسلام او دین باندې د پوهېدلو له پاره پښتانه اړ وه چې عربي ژبه زده کړي تر څو له خپل دین او اسلام څخه خبر شي. موږ ویلای شو چې په افغانستان کې د اسلام د مبارک دین له خپریدو سره عربي ژبې په مستقیم او غیر مستقیم ډول دري او پښتو ژبه تر خپلې اغېزې لاندې راوستې. خو څومره چې دري ژبه له عربي ژبې څخه اغېزمنه شوه، پښتو ژبه یې په هغې اندازه نه ده اغېزمنه کړې اوس هم چې په پښتو

ژبه کې کوم عربي وییونه کارول کېږي هغه د پښتو ژبې د خپلو اصولو پر بنسټ کارول کېږي او اوس اوس په پښتو ژبه کې دا هڅې روانې دي چې پښتو ژبه د عربي ژبې له وییونو او کلیمو څخه یو څه وژغوري او پر ځای یې د پښتو ژبې وییونه او کلیمې رواج کړي. چې اوس په پښتو ژبه کې د دنیا پر ځای نړی، د شکل پرځای بڼه او داسې نور د لغات پرځای ویي، د جملې پرځای غونډله او داسې نور ډېر عربي وییونه او کلیمې اوس په پښتو لیکنو کې نه کارول کېږي او پر ځای یې د پښتو ژبې خپلې کلیمې دود شوي دي.  ذکریا ملاتړ په دې اړه باندې ویلي دي:

(( د پښتو ژبې د طبیعي محکم جوړښت، بډایه ګرامري سیستم او پیاوړي لغوي ذخیرې د شته والي په سبب عربی ژبه په دې ونه توانېده، چې دا ژبه له خپل اصلي چوکاټ څخه وباسي، بلکې دې ( پښتو) ژبې عربي کلیمات تر خپل تاثیر لاندې راوستل او خپل ګرامري اصول یې ورباندې تطبیق کړل. موږ اوس هم په خپل ورځنۍ ژوند کې عربي کلیمات د پښتو ژبې د اصولو پر بنسټ یو تر بله کاروو.))

د پښتو ژبې د اغېزمنېدو یو لوی لامل له عربي ژبې څخه دین او دیني علوم دي. دا چې زموږ ستر دیني لارښود او مقدس کتاب قرانکریم په عربي ژبه باندې نازل شوی، نو هر مسلمان عربي کلیمات وایي او له عربي ژبې سره اشنایي لري، چې په دې سره د ټولو مسلمانانو ژبه له عربي ژبې څخه اغېزمنه ده، چې پښتو ژبه هم په کې شاملېږي. کله چې دیني علوم له عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته را ژباړل کېږي د ژباړې له لارې څخه هم پښتو ژبه ډېره له عربي ژبې څخه اغېزمنېږي. که دې ته پام وکړو د نورو خلکو په پرتله د دیني عالمانو ژبه له عربي ژبې څخه ډېره اغېزمنه ده او دیني عالمان او ملایان په خپلو خبرو کې ډېرې  عربي کلیمې او اصطلاح ګانې کاروي. ۵۵

بل لوی لامل چې پښتو او نورې ژبې له عربي ژبې څخه اغېزمنې شوي، په سیمه باندې د عربي ژبې د وینوکو تسلط دی، د اسلام د مبارک دین له خپرېدو وروسته عربانو د سیمې په ډېرو هیوادونو تسلط پیدا کړ او ډېر هیوادونه او سیمې یې تر خپلې ولکې لاندې راوستل، چې له خپلو فتوحاتو سره سم یې په سیمه کې د عربي ژبې د دودلو هڅه هم پیل کړه. چې له هغو هیوادونو څخه یو افغانستان هم دی، چې د عربانو تر ولکې لاندې وه او عربو عربي ژبه په کې دود کړه چې په دې اساس پښتو ژبه له عربي  ژبې څخه ډېره اغېزمنه شوه.

یو لامل دا هم دی چې پښتو ژبه له عربي ژبې څخه اغېزمنه شوی، چې د دواړو ژبو د وینوکو تر منځ اړیکې او راکړه ورکړه پیل شوه، نو څکه پښتو ژبه د عربي ژبې تر اغېزې لاندې راغله، د دواړو ژبو د وینوکو تر منځ راشه درشه سوداګري او نورو مسایلو سره له عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته ډېرې کلیمې راغلې. بل دا چې د پښتو ژبې د الفبا توري هم ډېرې له عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته راغلي دي او د پښتو ژبې لیکدود هم عربي ده.

بل لامل چې پښتو او نورې ژبې له عربي ژبې څخه اغېزمنې شوې هغه دا وه چې په عربي ژبه کې علومو ډېر پرمختګ کړی وه او د ډېرو علومو اثار په عربي ژبه باندې وه، نو څکه د دې علومو له مطالعې سره هرې ژبې ته د عربي ژبې وییونه او اصطلاح ګانې ددننه شوی دي چې له هغو ژبو څخه یوه پښتو ژبه ده چې د عربي ژبې د علومو له مطالعې څخه اغېزمنه شوې ده. اوس هم د ډېرو علومو نومونه په عربي ژبه باندې چې دې علومو په پښتو او دري ژبه کې په همدغو عربي نومونو باندې رواج موندلی ده. لکه: ریاضي، حساب، طب، نجوم، حقوق، شرعیات او داسې نور علوم دي چې پښتو ژبې ته یې نومونه له عربي ژبې څخه راغلي دي.

بل لامل چې پښتو ژبه له عربي ژبې څخه اغېزمنه شوې ده هغه ادبیات دي، ددې تر څنګ چې عربي ژبې په نورو برخو او علومو کې پرمختګ کړی وه، د عربی ژبې ادبیاتو هم ډېر پرمختګ کړی وه، چې پښتو ژبه




د ادبیاتو په برخه کې له عربي ژبې څخه ډېره اغېزمنه شوې ده. پښتنو شاعرانو ډېری د عربانو د شعرونو په چوکاټونو او اصولو باندې شاعري کوله. د ادبیاتو له لارې د عربي ژبې شعری فورمونه او چوکاټونه پښتو ژبې ته راغلي دي. ددې شعري فورمونو او چوکا ټونو نومونه عربي او هغه عربي نومونه یې په پښتو ژبه کې دود شوی دی. لکه: غزل، قصیده، مربع، مخمس، مسدس،مثمن، معشر، مثنوي، نظم، شعر، شاعر او داسې نور نومونه هم دي چې د ادبیاتو په برخه کې پښتو ژبې ته راغلي دي. همدارنګه پښتو ژبه د بدیع بیان او عروضو په برخه کې له عربی ژبې څخه متاثره ده څکه ددې برخې بنسټګر هم د ادبیاتو په برخه کې عربان دي. پښتنو ادیبانو هڅه کړې چې د عربو له اثارو څخه په ګټې اخیستنې سره په پښتو ژبه کې دا علوم ایجاد کړی. چې په دې برخه کې یې ځینې ژباړې هم له عربي ژبې څخه کړې دي، نو څکه د ادبي فنونو د ډېرې صنعتونو نومونه عربي دي او په پښتو ژبه کې هم په همغه عربي نومونو پېژندل کېږي. لکه: حسن تعلیل، مراعات نظیر، تلمیح، غلو، تجنیس، فصل او وصل، سوال او جواب، تشبه، استعاره، وجه شبه، مشبه، مشبه به، مستعار له، مستعار منه، فصاحت، بلاغت، بدیع، بیان، عروض دا ټول هغه نومونه دي چې پښتو ادبیاتو ته له عربي ادبیاتو څخه راغلي دي.

همدا رنګه ډېری پښتنه شاعران هم له عربي ژبې څخه متاثره دي او په خپلو شعرونو کې د عربي ژبې ویینونه او کلیمې راوړي دي، دا ځکه چې دوی دعربي ژبې ادبیات او شاعري مطالعه کوله نو ځکه یې په پښتو ژبه کې د عربي ژبې وییونه کارولي دي. ځکه دوی خپله له عربي ژبې څخه متاثره شوي وه. که د پښتو ژبې د لرغوني دورې ادبیاتو ته متوجه شو له عربي ژبې څخه نه دي اغېزمن که اغېزمن هم وي ډېر کم، خو که د منځنۍ دورې ادبیاتو ته وګورو له عربي ژبې څخه ډېر زیات اغېزمن شوي دي او د منځنۍ دورې د نظم او نثر په دواړو برخو کې د عربي ژبې اغېزې ډېرې تر سترګو کېږي.

بل لامل چې پښتو ژبه له عربي ژبې څخه اغېزمنه شوې ده هغه د عربي ژبې بډایه ژبپوهنه ده. عربو د نورو علومو تر څنګ د ژبپوهنې په برخه کې هم ډېر کار کړی وه. پښتنو ژبپوهنو هم ډېری د عربي ژبپوهانو لاره تعقیبوله او د دوی د ژبښنیو اصولو مطابق به یې د پښتو ژبې ژبني مسایل څېړل، نو ځکه په دې برخه کې هم پښتو ژبه له عربي څخه متاثره شوې ده. لکه: نحوه، جمله، کلیمه، لغات، عبارت او داسې نور نومونه دي،چې د ژبپوهنې په برخه کې له عربي ژبې څخه پښتو ژبې ته راغلي دی.

## اخیستنځي


1. ارشاد،اورنګزېب ،پېښور ۱۳۸٤ هـ ل ،افغانستان پېژندنه ،دانش خپرندویه ټولنه.
2. بابي ،لطیف جان ،پېښور ۱۳۸۲ هـ ل .،پښتو ویي شود (قاموس ) ،دانش کتابتون
3. باجوړی ، پوهنوال بریالی، چاپ کال :۱۳۹۷المریز ، دپښتو ادبیاتو معاصر تاریخ دوېښتیا پړاو ، خپرندوی: جهان دانش خپرندویه ټولنه .
4. حبیبي ،عبدالحی ،پېښور ۱۳۸٤ هـ ل ،دپښتو ادبیاتو تاریخ لومړی اودویم ټوک ،دانش خپرندویه ټولنه.
5. رښتین ،صدیق الله ،کال ۱۳۲٥ هـ ل ،دپښتو ادب تاریخ:دانش خپرندویه ټولنه.
6. علي، جواد (۱۳۹۹) تارخ مفصل عرب قبل از اسلام، مترجم، داکتر محمد حسین روحاني
7. منګل، یار زمان منګل(۱۴۰۰)عربي ژبدود، د پښتو خانګې د ماسترۍ درسي لکچر نوټ.
8. هیوادمل، زلمی(۱۳۸۰) ننګیالی د زمانې: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.
9. یزال، یار محمد، د خوشحال خان خټک افکار، د ماسترۍ درسي لکچر نوټ.


## د پوښتنې هنر

یو چا خپل ملګري ته وویل: که د دعا کولو په وخت سګرټ ولګوم پروا نه کوي؟

هغه ورته وویل زه به څه ووایم دا پوښتنه له یو عالم څخه وکړه.

هغه عالم ته ورغی او ورته یې وویل: که د دعا کولو پر وخت سګرټ ولګوم پروا نه کوي؟

عالم خواب ورکړ: پام چې دا کار ونه کړې چې بې ادبي ده.

ده چې خپل ملګری د عالم له نظره خبر کړ، ملګري یې ورته وویل: خیر دا خبره سر چپه هم کیدای شي.

ورشه له عالمه پوښتنه وکړه، چې د سګرټ څکولو پر وخت مې که زړه ته دعا وشي، دعا کولای شم؟

دی یو ځل بیا عالم ته ورغی او همدا پوښتنه یې وکړه. عالم ځواب ورکړ هېڅ پروا نه کوي دعا پر هر حالت کې ښه ده.

**لښکر یو د پوهنې مورږ تیارې رڼا کوو**

#د_نجونو_ښوونځی_پرانیزئ!

#مکاتب_دختران_را_باز_کنید!

#LetAfghanGirlsLearn



# لمړی نړیواله جګړه کې یو سرتیري خپل قوماندان ته ولیکل!



ښاغلی قوماندان صیب: خپله وسله مي خاورو لاندي پټه کړه نور نه جنګیږم، او دا پریکړه مي د مرګ له ویري نه ده
او حتی د میرمني، ځوی او لور د مینې له کبله هم نه ده
که رښتیا ویښتي؟ وروسته تر هغه چي د دښمن یو سرتیری مي په خپلو لاسونو مړ کړ
وروسته مي جیبونه تري وپلټل او یو عجیبه شي سره مخ شوم، د یو ټکر ګاغذ په مخ چې په وینو ککړ وو لیکل سوي وه (پلارجانه د کومي ورځي نه چي دي یواځي پري ایښي یم هر سهار تر لمر لویدو پوري د دروازي مخي ته ناسته یم او ستا د راتلو لاري څارم
په خدای قسم دا ځل چي راغلي غیږ کي دي ټینګ نیسم او بل ځل دي نه پریږدم جنګ ته رانه لاړ شي)
اوس ما دهغي ماشومي په وړاندي نه بخښونکي ګناه تر سره کړه ما هغه ماشومه د تل لپاره یو خیالي او بي ګټي انتظار کي پرېښوده،
هغه به تر کله ناخبره د مړ شوي پلار د راتګ لار څاري او ځونه ورځي به تر لمر لویدو پوري سبا کوي
لعنت په جنګ چي معصوم ماشومان د پلار د مینې نه بي برخي کوي.

---

# وایي!

محمدالله آرین

زمری تر سختي ستړیا وروسته په ځنګله کي د ښني ونې سیوري ته اوږد وغځیده او ویده شو.
سپی له دغه ځایه تیریده کله یې چي زمری ویده ولیده لاړ له کوره یې پړی راووړ سیوري ته ویده زمری یې کلک وتاړه او په خپله مخه روان شو.
زمری چي را ویښ شو ځان یې تړلی ولید،ډیر زورونه یې ووهل څو ځان خلاص کړي خو امکان یې نه وو او زور هم ګټه نلرله.



ستړی خر پرې را برابر شو د زمري چي سترګې پرې ولګیدي ور غږ کړه چي خره ورورہ مرسته وکړه، بد یې تړلی یم که مرسته ونکړې ښایي دلته مړ شم ما وژغوره نیم ځنګل دربښم.
خر اول شکي شو چي زمری به دا کار ونکړي خو چي د زمري قسمونه او جدیت یې ولید لګیا شوپړی یې خلاص کړ او زمری وژغورل شو.
زمري خره ته وویل:نیم ځنګل نه درکوم.
خره وویل: ولې یې نه راکوي تا ویل چي ما وژغوره نیم ځنګل درکوم اوس چي خلاص شوې انکار کوې د ځنګل له پاچا سره داسي بې وفایي نه ښایي.
زمري وویل: ټول ځنګل یې ستا.
خر حیران شو ورته یې وویل چي ولې ټول؟
زمري وویل: په هغه ځنګل کي چي سپي زمریان په پړو تړي او خره یې ژغوري هلته ژوند کول مانا او ارزښت نلري.

# غواړم زه هم ژوند وکړم

عنایت الله ستانکزي

ژوند ډېر ښکلی دی؛ دومره ښکلی چې د ژوند لپاره د ښکلا کلمه هم بسنه نه کوي له دې هاخوا په ژوند کې ډېرې ښکلې منظرې دي، مزې دي، ښایستونه دی، رڼاګانې دي او ډېر نور څه چې شاید قلم يې هم له لیکلو سترې شي، بیا نو د دې ښکلاوو لپاره زه او ته پیدا یوو. زه هم یو څوک یم زه هم ژوند لرم او د همدې ژوند لپاره خلق شوی یم زما خالق زما نه غواړي چې د ژوند د اصلی مقصد د لاسته راوړلو لپاره زیار وباسم زه غواړم ژوند وکړم خو نه پوهیږم ولې مې ژوند کولو ته څوک نه پرېږدي، نه پوهېږم یا خو زه په ژوند نه پوهېږم او یا هم زما د ژوند چاپېره خلک د ژوند تیرولو په طرز نه پوهیږي. زما فکر ساده دی او هغه دا چې زه غواړم چې هم خوشاله اوسم او هم زما چارچاپېره ټول وګړی. غواړم زما په خفګان نور هم خفه شي او زما خفګان ته تسلیت وښيي او یا زما د خفګان د لرې کولو لپاره زما سره همکار شي، او زه هم غواړم د یو چا د غم او خفګان شپې پرې سبا کړم، زه هم غواړم یو څوک د خفګان له تیارو راوباسم او د خوشالۍ درشل ته يې ودروم خو زما هم ارمان دی چې ژوند وکړم او نور هم ژوند وکړی، خو، خو زه بیا هم سره د دومره خیاله او فکره لیونی یم او په ژوند نه پوهیږم هو دا خبره زما چاپېره خلک زما په باره کې کوي خو زه پوهېږم بلکې تر دوی ډېر پوهیږم چې څنګه ژوند وکړم، خپلې شپې سبا کړم، خپلو ورځو ته لا روښنايي ورکوم او خپل ژوند ښایسته کړم. زه اوس په دې پوهیږم چې زما د کائناتو رب زما ژوند ماته یوه تحفه راکړې ماته يې امر کړی چې ښه وخت تیر کړم، نو بیا ولې دوی ما نه پرېږدي دوی له ما څه غواړي؟اخیر ولی دوی نه غواړي زه په خپل فکر او هنر ژوند وکړم که زه په ژوند نه پوهېږم خو دوی هم نه پوهیږی، که زه نیمګړی یم خو دی هم دی نو بیا ولی دوی زما په ژوند تیرولو ځان مخکې حسابوي؟.د هر وګړي په خیر زما ژوند هم دوه اړخه لري:

## لومړی زما ژوند زما په خوښه

ځینې وخت داسې یوې نتیجې ته له ځان سره ورسیږم چې نور نو زه نه غواړم خپل ژوند له چا سره شریک کړم بس زما حال او احوال او زما تعبیر. خو زه تاته وایم داسې کیږي؟حتمی ده چې نه او نه`نه مطلب دا نه دیه چې هر تصمیم او پریکړه چې زه يې باید د خپل ژوند په باره وکړم په ځای يې نور خلک زما د ژوند پریکړې وکړي، نه نو داسې هم نه ده زما ژوند زما خوښه ده هره پریکړه چې زړه يې کوم زما آینده ټاکي نو بل څوک ولې زما په فکر کې دی بل څوک ولې زما تصمیم کې مداخله غواړی، هو همداسې ده زه تر یوه حده صحیح یم، خو دا هم باید هیر نه کړم چې زما د ژوند خواخوږي هم شته، زما مور زما پلار، په ټوله کې زما کورنۍ او ځینی ملګري مې. دوی هم حق لري زما په ژوند کې زما په تصمیمونو کې زما سره کومک وکړي دوی هم ځای لري چې ماته ښې مشورې او مشورې راکړي، خو زه بیا هم د هرې فیصلې او تصمیم واک لرم که مې خوښه وه منم يې او کنه نه يې منم، دا هم باید هیر نه کړي زه هم کولای شم د خپل ژوند په باره کې غلطې فیصلی وکړم، تصمیم ونیسم او دا فیصلې کیدای شي د چا په ژوند څه خاص تاثیر هم ونه لري، نو زه باید په دې پوه شم زه هر وخت صحیح کیدای هم نه شم بلکې ځینې شته چې زما په باره کې ښې پریکړې کوي لکه مخکې مې چې وویل، نو نتیجه دا شوه چې زما ژوند زما په خوښه هغه وخت ممکن ده چې زه د تصمیم اخیري پریکړه کوونکی اوسم او بس.

## دوهم زما ژوند نورو په خوښه

آیا داسی هم کیدای شي چې زه دی نورو په خوښه ژوند وکړم؟ که داسې وکړم نو نتیجه به يې څه وي؟نو زه څه وکړم زه حتما په خپل ژوند کې خپلواک هم نه یم یو څوک حتماً شته چې زما په حال او احوال کې زما سره ملګری دی،زما د خو ورځو ملګری زما د حال او احوال شریکوانان دی ،همدوی دی چی زما د ژوند ځینی غمونه زما نه پورته کوي زما بدن تری سپکوی، همدوی دی چې زما د ژوند له ښو او بدو خبر دی، نو زه باید څه وکړم څنګه د دوی تصمیم ته په خپل ژوند کې ځای ورکړم څنګه دوی د خپل احوال ملګری کړم، خو زه په دې پوهیږم زما د ژوند یوه تجربه ماته وایي چې دا وګړی زما سره د غم په سپکولو، د تصمیم په نیولو او په ټوله کې زما زړه ښه کولو لپاره هم فکر کوي زه باید دوی هم په خپل ژوند کې ومنم.



ته پوهیږی ماته زما تجروبې راښودلې چې زما ژوند دوه اړخه نور هم لری، هو، همداسی ده ته وګوره شاید له ما سره همغږی شي. زما د ژوند دوه نور اړخونه دا دي:

## لومړی زما مثبت فکر مثبت ژوند

زه په دې پوهیږم که غواړم ښه ژوند وکړم نو باید مثبت فکر وکړم، زما استادې به ماته همیش ویل چې تل مثبت فکر کوه، مثبت لید غوره کړه او همدا لید تعقیب کړه. هو هغې ریښتیا ویل له کله چې مې د خپل تعلیم او تحصیل په باره مثبت فکر کړی نو پکې تر یو حده کامیابه شوی هم یم مثلاً لیسانس مې وکړ ، په دې مې بسنه ونه کړه ماستري مې هم وکړه او دا دی اوس د دوکتورا پلان هم لرم، خو دا هر څه په مثبت فکر باندی کیږي که نه ده داسې؟ خو زما د ژوند دا برخه هم له لانجو کونجو خالي نه ده که زه غواړم مثبت فکر وکړم او مثبت ژوند وکړم نو هغه خلکو ته چې د دې فکر په اړه له ما سره مخالفت کوي. څه وکړم یا هغه څوک چې ما مثبت فکر او مثبت ژوند ته نه پرېږدی څه عمل ورسره وکړم؟ها! زه یې ځواب لرم زه باید پوه شم چې زما د مثبت فکر معنا همدا ده چې له دې خلکو سره مبارزې وکړم، دوی په خپلې غښتلې ارادې مات کړم او دوی ته وښیم چې زما د هر تصمیم له مخې دوی هر وخت خنډ نه شي کیدای. یوه ورځ مې یو دوست راته کړه چې ژوند مې ډیر سخت دی که یو څه کول غواړم په ژوند کې شته خلک مې ممانعت کوي او نه مې پرېږدي چې زه مې هغه کار سرته ورسوم چې زه غواړم، ما ورته وخندل ورته مې وویل ته په کومه پیړۍ کې ژوند کوې ته اوس هم د خپل ژوند په باره کې د نورو فرمایشونو ته غوږ ږدې، هغه راته وویل څه وکړم، ما ورته وویل ستا په لاس کې د موټر شټیرینګ دی او ته موټر ته ناست یې نو ته پوهیږې چې موټر څنګه وچلوې که نور څوک او آن که ته یو ښه ډریور هم یې ویل زه پوهېږم نو ورته مې کړه چې همداسی ژوند هم کیږی که د نورو خبرې دی ژوند مثبت خواته بیا یې قبولې یې کړه کنه هیر یې کړه چې ستا په باره خلک څه وایی، نو پوهیږې ماته یې په ځواب کې څه وویل، ویلې وای زه نو اوس ستا په دې خبره هم باید فکر وکړم که څنګه؟ ما ورته کړه هو ،که دې خوښه شوه عملي یې کړه او که دې خوښه نه شوه هیره یې کړه، په خندا یې راته وویل چې ولې به یې نه منم ته خو هم عمل غمګین تیر شوی یې ستا تجروبه هم ډیره ده.

نو خبره به دې کوله چې ننی عصر د تکنالوژی عصر ده که له کومی ستونزې سره مخ شوم نو همدا تکنالوژی هم زما تر ډیره مرسته کولای شی او کولای شی چی ما د خلکو د بی ځایه تصمیمونو نه وساتی. زه کولای شم ددی تکنالوژی په مرسته د نوری نړی له علماوو سره په تماس کی شم او د خپل مشکل په باره د هغوی نظر هم له ځان سره ولرم،خو بیا هر اخیري تصمیم زه په خپله نیسم ځکه زه،زه یم.نو ما د خپل ځان لپاره مثبت ژوند څه داسی تعریف کړی چی د هر مشکل د حل په باره مثبت خیال له ځان سره ساتل همدا مثبت ژوند ده.

## دوهم منفي فکر مې او منفي ژوند مې

هو زما د ژوند بل اړ زما منفي فکر دی، که زه هر څومره هم ځان مثبت فکر ته وهڅوم، خو بیا هم ځینی فکتورونه داسې دي چې مجبوروی مې چې د ځان په باره کې منفي فکر وکړم او تر یو حده دا ریښتیا هم ده، ځکه زه مثبت ژوند هغه وخت کولای شم چې هر تصمیم او د هر تصمیم تر شا سرچینې ټولې زما تابع وي،خو داسی کله کیږی ،ای کاش! داسی وای.غوښتل می خپله ماستری هم له هیواده بهر وکړم،ماستری وروسته دکتورا هم همداسی خو ته پوهیږی دا ارمان می پوره نه شو پوهیږی ولې؟ځکه زما ددی تصمیم لپاره سرچینې زما په لاس کی نه وی،نو مجبور شوم ځان ته ووایم چې زه یې نشم کولای او دا پدی معنا چې ما د خپل ځان په باره منفی فکر وکړ ولی چې زما یو لوی ارمان پوره نه شو.تر اوسه مې همدا ارمان د ډیرو لاسته راوړنو مانع وګرځید.څه وایي په ما دی زړه خوږ نشو هو حتماً به دی زما په باره فکر خراب شوی وي او دا به دی ځان سره فکر کړی وی چې څنګه یو کس چې د مثبت فکر مثبت ژوند له فلسفې خبر هم دی او بیا هم داسی منفی فکر! هو نو ته ریښتیا وایی ما وویل زموږ په ژوند کی د ځینو تصمیمونو تر شا سرچینې زموږ په لاس کی نه دی.زه کولای شم په هر حال مثبت فکر وکړم خو زه هم اخیر انسان یم نشم کولای ځینی وخت د ځینو انقلابونو په هکله په خپل فکر تصمیم ونیسم او همدا علت ده چې زه په لوی لاس منفی فکر کولو ته مجبوریږم.خو یو څه درته وایم منفي فکر کول هم حل لاره لری او هغه دا چې زه باید غښتلی اوسم او داسی فکر باید ځان سره وکړم چې که هر حالت زما د غوښتنو مطابق نه وو نو زه یی باید خپل تابع وګرزوم،که بیا هم نه کیده بیا باید کوشش وکړم که بیا نه کیده بیا باید کوشش وکړم او تر هغې کوشش وکړم تر څو چې تر لاسه یی کړم.



# له مارانو د ترکاڼۍ تمه مه کوئ!

عبدالغفور لېوال

د هغه مار کیسه به مو اورېدلې وي، چې د شپې په تروږمۍ کې د ترکاڼ کارځای ته ننوت او د اري په غاښو ژوبل شو، ويې ګڼله چې دوښمن دی، خوله يې پرې ولګوله او چې خوله يې ورخيري شوه، نو ځان يې ترې راتاو کړ، له اري سره يې چې څومره جګړه تودېده هماغومره خوږېده او غوسه يې ډېرېده... چې څومره تر اري تېنګ راتاوېده غوڅېده... سهار چې ترکاڼ کارځای پرانیست، څه ګوري؟ غوټ مار پرې- پرې، په وينو کې لژند، مړ پروت دی .

استبداد کټ مټ همداسې دی، څومره چې د خپل ستم په وړاندې ولسي کرکه ويني، هماغومره يې غوسه زياتيږي او زورزياتي ته مخه کوي، تاوتريخجن کيږي، ځپل (سرکوب) زياتوي، وحشت کوي، خو پايله تل دا وي، چې استبداد خپل عمر او پايښت بند بند اره کوي .

د استبداد ټولنپوهنه، يو په زړه پورې بحث دی. د استبداد د تشدد يو لامل دا وي، چې نالايق، بې کفايته او عقده يي ناروغان يې په سر کې وي. له خلکو سره يې بل هيڅ ډول تعامل زده نه وي. لکه سنډا يوازې خپل زور ته غره وي او بس .

د اقتصادي پياوړتيا، فردي خپلواکۍ، د بشري حقونو تېنګښت، د ټولنيزې هوساينې لارې چارې، د بنسټي رغښتونو جوړول، له دننه د ټولنې پياوړتيا او د ملي يووالي او ارزښتونو ساتل بېل بېل مهارتونه غواړي. که يوه ډله واک ته ورسيږي، چې يوازې و يوازې يې د ټوپک او کوټک چلول زده وي او نور يې د دغو څيزونو نوم لا اورېدلی نه وي، نو دوی به نور څه کوي؟

خامخا به خلک ځپي .

د روم نيمه ليونی او مستبد امپراتور "نيرون" خپل هغه درباريان ووژل، چې غوښتل يې له ده سره مرسته وکړي، هغه آن خپله مدبره او ځواکمنه مور "اګريپينا"، چې ده په واک کې خپله سياله ګڼله، هم ووژله.

په ٦٤ ميلادي کې د همده پر مهال روم وسوزېده او د نيرون دوښمنانو ورپسې جوړه کړه، چې نيرون غوښتل شعر وليکي، بله غميزه نه وه، نو روم ته يې اور ورته کړ، کله چې ښار نه لنبې پورته کېدې، امپراتور نيرون ورته موسک و او ويل يې: "اوس به خپل يوازيني او تلپاتي شعر وليکم، چې روم څنګه وسوزېد"!

اميرعبدالرحمن خان له رواني پلوه سالم نه و. له ټولو وېرېده، چې واک ترې ونه نيسي، د پاچاهۍ سيال او تربور يې، غازي ايوب خان، ترې وتښتېد او د هغه پلوي ملايان يې د کندهار د خرقې مبارکې په جومات کې دننه، په خپله توره سلاخي کړل. هيندوستاني طبيب يې ويل: امير دومره بدګومانه دی، چې ځان او شهزاده حبيب الله ته پخپله درمل جوړوي او په نورو اعتبار نه لري...

سلګونه داسې نورې بېلګې هم شته، چې ښيي: مستبد واکمنان روغ نه وي .

په تياره کې تر اري راتاوېدونکي مار ته د زړه سوي او مرستې په نيت ګوتې مه وروړئ، کېدای شي په روستيو شېبو کې مو وچيچي. پرېږدئ، چې تر خپلې اري (استبداد) نور هم تېنګ راتاو شي. خدای مهربان دی، سهار به اري خپل کار کړی وي .

له مارانو د ترکاڼۍ تمه مه کوئ!

# مشوره ناکامي نه ده



قدرت الله هیوادپال

وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾(آل عمران: 159)
مشوره وکړئ او بیا د الله پر توکل چارې ته لاس واچوئ، دا د اسلام یو تر ټولو اساسي اصل دی، له مشورې هدف مخکې لدې چې یوه چاره پیل کړئ له نورو واورئ، یا په دوامداره توګه د چارو بهترئ لپاره له نورو واروئ. مشوره د بل لخوا ستاسې لپاره د پریکړې کول نه دي، بلکې په خپله پریکړه کې د نورو نظرونو په پام کې نیول دي. یا آن که د نورو نظرونه هم په پام کې نه نیسئ لږ تر لږه دومره مو پوهوي چې ستاسې چاره شایي له څه ننګونو سره مخ شي او څرنګه یې بهترولی شئ.

صبر یو بل اصل دی، انسان غواړي چې هر څه سمدلاسه وشي، که هر څه غواړم باید سمدلاسه یې حاصل کړم، په پریکړه کې تاسې خپل هدف ټاکئ، په مشوره کې تاسې هغې هدف ته د رسیدو لارې چارې لټوئ. بیا د همدې لارو چارو شو اجرا لپاره مهارتونه او وسایل لټوئ.

هیڅوک په هر څه نه پوهیږي نه په پریکړه کې ستاسې هر څه ته پام وي، د مشورې تر ټولو ستر ارزښت یوې موضوع او پریکړې ته له بیلابیلو اړخونو کتل او اړونده پریکړه ده، ورسره موږ یې په دوامداره توګه زده کوو، نو ضرور نه ده چې هر څه پخپله تجربه کړو، ولې یې د نورو له تجاربو زده نه کړو.

مشوره د پریکړو مسؤلیت سپارلو پر معنا نه ده، بلکې تاسې مشوره کوئ، اورئ او بیا که پریکړه سمه وي یا غلطه د هغې مسؤلیت پخپله اخلئ، دا پدې معنا نه ده چې که چیرې پریکړه سمه شي نو ما کړې که خرابه شي نو تا مشوره راکړې وه نو ځکه خطا وتله.

مشوره باید د پریکړو ځنډولو لپاره هم نه وي، یو ځل هدف وټاکئ بیا هغې ته رسیدو لپاره پر لارو چارو بحث وکړئ، بیا کوچني قدمونه واخلئ او په لاره کې له پرمختګ سره خپلې چارې اصلاح کوئ.

فرانکلن، هغه د ډالرو پر سلیز چې یې عکس دی، به ویل چې زما بریالیتوب د نورو بریالیو خلکو د مشورو او زحمتونو برکت دی، کله چې موږ نور کتابونه، احکام، خبرې یا نور لولو دا په اصل کې له نورو زده کړه ده.

مشوره درکوونکی ستاسې لپاره پریکړه نه کوي، پریکړه به بیا هم پخپله کوئ، هغه تاسې ته یوازې د خپلې تجربې او پوهې په رڼا کې سلا درکوي، او شایي په هغه ساحه کې چې تاسې مشوره غواړئ هغه شخص به ډیره تجربه او پوهه ولري، خو ضرور نه ده چې مشوره یې ومنئ، لکه کور اخلئ، نو شایي له انجنیر یا داسې نورو مسلکي خلکو سره مشوره وکړئ چې همدا کاروبار کوي، ورسره ممکن له خپلوانو یا دوستانو څخه هغوی سره مشوره وکړئ چې په دې نږدې کې یې کور اخیستی وي.

د جاهل بنده یو تر ټولو ستره نښه له ځان سره د پوره والي فکر دی، چې زه هر څه کړم په هغې کې د غلطۍ امکان نه شته، په دې دنیا کې هیڅ پوره نه دي، ځکه که څه پوره شو، نو بیا د پوښتنې اصل له منځه ځي، د خپلو اعمالو د ځواب اصل له منځه ځي، موږ به هڅه کړو چې هر څه د خپل تر وسه په احسنه او ښه طریقه اجرا کړو، خو له ځان سره به دا ټاکو چې دا څه چې ما وکړل د غلطۍ امکان یې شته، زما هدف د مشورې یا نه مشورې له لارې د دې غلطیو امکان راکمول دي، او که چیرې غلطۍ مې وکړې نو باید ترې زده یې کړم.



د خدمت کولو او مشرۍ لپاره مشوره حیاتي ده، له مشورې هدف دا نه دی چې یوازې خپلو همفکره خلکو سره بنډارونه وکړئ، او داسې خبرو پسې وګرځئ چې ستاسې له اوله ټاکل شوی فکر تکرار او باوري کړي، بلکه د خپل نظر خلاف نظر ولټوئ او د هغه نظر پر اهلیت هغه رد یا قبول کړئ.

نن سبا له ډیرو اورئ چې حضرت عمر (رض) به ویل چې که چیرې زما د حکومت په لیرې پرته سیمه کې بزه یا سپۍ تږې وي یا مړ شي له ما به یې پوښتنه کیږي، همدا خبره د سیاسي ملحوظاتو لپاره ښکته پورته کیږي، خو ورسره د همدې حضرت او ښاغلي شخصیت دا خبره بیا نه اوري چې زما تر ټولو ښه ملګرې هغه دی چې ما ته رښتیا ووايي او سخت واقعیتونه او حقیقت راته بیان کړي، ورسره یې فرمایلي چې له غوره مالئ مې بد راځي.

زموږ یو تر ټولو ستره نیمګړتیا د ځینو خلکو له اړتیا ډیر پرسول دي، زما نیکونه له ټولو ښه وو، تاریخ مو د امپراطورئ وو، ټوله نړۍ مو دښمنه ده، ګاونډي مو دښمن دی، دا مو د ژبې دښمن، هغه مو د دین دښمن، دا بل مو د دود او رواجونو دښمن، دا منافق دی، هغه کاپر دی، هغه ډب دی او دا ډوب، خو پدې ټولو کې دې خپل ګریوان کې نه ګورو چې د خدای بنده پیغمبران خو هم نور نه راځي،
دا ته څنګه له معصومیته پاتې یې.

ډیر خلک د مخالف نظر اوریدو او لنډمهاله نارامۍ څخه ځان ساتلو لپاره له مشورو ډډه کوي، پدې فکر چې هر څوک د بل په فکر کې نقص لټوي، یا به ډیرو واورې چې زما په قدر څوک نه پوهیږي، نن سبا ریښتوني ملګرتوبونه نه شته، نړۍ له دوه مخیو ډکه ده، یوازې یې کوه، خو دې ټولو کې ځان ته نه ګوري چې هیڅ څوک په یوازې پوره نه دی، بلکه نورو ته اړتیا لري. او دا نه مشوره یا له ګوتنیونې څخه ځان ساتنه ښايي د بنده د کبر او دې فکر له وجې وي چې زه څنګه له دومره پوهې او تجربې سره نیمګړی فکر ولرم.

آن د دین سترو هستیو له نورو سره مشورې کولې، اکثره وختونه به یې د نورو پر سلا ځانګړي کارونه کول، په ځینې وختونو کې به آن له خپل نظره هم تیریدل.

وایي که فال بین هوښیار وای خپل قسمت به یې بدل کړی وای، که له مشورې پرته مو دا حال دی یا فکر کوئ چې زما ناکامي د نورو د اعمالو د وجې ده خو دا نه منئ چې ناکامي مې ښايي له اهل خلکو سره مشوره نه کولو یا د بل نه اوریدو له کبله وي یا ښايي دا ناکامي زما د خپلو پریکړو له کبله وي او له ناکامیو یې نه زده کوم، نو باید خپل ګریوان کې وګورئ.

مشورې ته لدې اړخه هم وګورئ، کله چې تاسې ډاکټر ته ځئ نو دې پسې نه ګرځئ چې هغه ډاکټر په کومه عقیده یا څرنګه ښکاري، فکر کوئ د هغې درملنه کولای شي ستاسې درد کم کړي همغې لپاره ورځئ او ورسره وینئ، یا کله چې درمل اخلئ نو د هغې افادیت ته ګورئ، جوړوونکو او د هغوی عقیده او ملک نه څیړئ.



د مشورې اهل خلک پیدا کړئ، په اړونده چاره کې یې مشوره واورئ، او له ځان سره دا ومنئ چې مشوره ستاسې د بهترۍ سبب ګرځي، که تاسې د هغه شخص مشوره ومنئ یا نه هغې ته یې هیڅ ګټه او تاوان نه رسیږي. او ضرور نه ده چې هر مشوره درکوونکی دې ستاسې د فکر، عقیدې، سیاسي غوښتنو، دین، دنیا او نورو پر معیارونو پوره وي.

# نقش شیرخان ناشر در تحولات اقتصادی شمال شرق افغانستان



**کاندید اکادمیسن اعظم سیستانی**

برخی ازشخصیتهای پشتون که به صوابدید دولت افغانستان به شمال کشورمقیم شده اند، مصدر خدمات فراموش نشدنی نیز شده اند که یکی ازآنها شیرخان خروتی پدر کلان فرهاددریا هنرمند معروف است.

دراینجا لازمست تا از خدمات شیرخان خروتی درشمال هندوکش یادآورشوم که شاید برای بسیاریهادلچسپ باشد.

شیرخان یکی از پشتونهای خدمتگار درشمال کشوربوده است که بندری بنامش درشمال افغانستان بین تاجکستان و افغانستان نامگذاری شده است. وتوسط پلی بردریای آمو تاجکستان را با افغانستان ارتباط میدهد.

شیر خان ناشر از طایفه خروتی(قومغلجائی) یکی از بزرگان وخانان و زمینداران بزرگ و مشهور خروتی معاصر امان الله خان ونادرخان بود. پس از آنکه حبیب‌الله کلکانی مشهور به بچه سقاو ازدست نادر خان شکست می‌خورد، قوای شیرخان به قصد سرکوب یاغیان سقوی بشمال افغانستان گماشته شد. شیرخان تمام اشرارسقوی وباسمچیهای متعلق به ابراهیم لقی را که از بچهٔ سقو حمایت میکردند سرکوب ومجبور به فراربه آنسوی رودآمو نمود. نادرشاه به منظور استقرار اوضاع فرمان می‌دهد تا شیرخان و افراد او در ولایت کندز مقر دایمی اختیار نمایند. شیرخان درسال ۱۳۰۹ شمسی (۱۹۳۰)به صفت والي قندز مقرر میشود. غلام سرور ناشر یکی از فرزندان شیرخان در شهر کندز مراکزی چون شیر خان بندر، شرکت تولید روغن «سپن زر»، هوتل سپن زر، و لیسه شیرخان وغیره را تأسیس می‌نماید. گفته میشود که شیرخان توسط هاشم خان کاکای اعلیحضرت ظاهر شاه به شهادت می‌رسد.

سایت «مندیگک» به نقل از «صفیه حلیم» نویسنده ومحقق پشتون روایت میکندکه : یک قرن قبل شخصی بنام شیرخان خروتی،از قره باغ غزنی به هند رفت ودر آنجا به با پول شخصی خود به تجارت پرداخت وسپس از هند به آسیای مرکزی وروسیه رفت ودرسمرقند کتابهای کمیاب دینی وتاریخی را دست یاب و محررین فارسی زبان را استخدام میکند تا آنهارا بفارسی برگردانند. وقتی امیرامان الله خان ازاین اقدام او مطلع میگردد،او را فرامیخواند وبخاطر چاپ این کتابها به او مدال درجه اول معارف را با لقب «ناشر» اعطامیکند. شیرخان ناشر در دوره سقوی به دیرهٔ اسماعیل خان میرود. در عهد نادرشاه ابتدا بحیث ولسوال اورگون وبعد بجیث نایب الحکومه قطغن وبدخشان مقرر میگردد. اوپس از تصفیه باسمه چی های بخارائی به آنسوی آمودریا، درقندوز پلان شهری را پیاده میکند وبا کشیدن سرکها وتمدید پایه های تلیفون شرکتی (روغن پنبه دانه) را تاسیس میکند.او برای کارگران شرکت خود خانه وکلینیک صحی ومکتب میسازد.

شیرخان درسال 1930 زمین های قزل قلعه را برای ساختن یک بندرتجارتی آماده مینماید ودفترهای گمرک و خانه های نشیمن برای مامورین ومکتب وکلینک صحی اعمارمیکند که بعد بنام بندر شیرخان نامیده شد.

پس از آنکه فابریکه روغن سپین زر به همت و تلاش سرور ناشر فرزند شیرخان خروتی در قندوز فعال گردید ، مردم بغلان و قندوز به کشت پنبه و لبلبو روی آوردند و ناقلین پشتون زمین های دلدلزار و باتلاقی قندوز و بغلان را با پشتکار و زحمت کشی خود توانستند به زمین های آباد و حاصلخیز مبدل کنند. و سالانه از زمینهای خود دو بار و سه بار حاصل بگیرند و از این مدرک تحولی در زندگی اقتصادی مردم پدید آمد که بعد از آن بجای، ضرب المثل قدیمی که میگفتند:«اگرمرگ

میخواهی قندز برو»چنین تغییر شکل یافت که : " اگر مرد میخواهی قندوز برو"

آقای انجنیراحسان الله مایار روزی برایم در تلیفون تعریف میکرد که« در زمان صدراعظم هاشم خان بعد از کشیدن نهر گوهرگان دولت زمینهای تحت آبیاری این نهر را فی جریب به یک قران میفروخت، اما مردم حاضر به خریداری آن زمین ها نبودند. وی افزود که زمین دشت ارچی نیز خاره و لامالک بود تا آنکه دولت مردم بی زمین پشتون را از ولایات جنوب به آنجا اسکان داد و آنها این زمین ها را به زمین های زرخیز مبدل کردند« .

دولت برای استفادهٔ بیشتر از زمینهای لامزرع در وزارت داخلهٔ کشور اداره یی بنام ریاست املاک و اسکان ناقلین بوجود آورد تا اشخاص بی زمین و مستحق را از دیگر ولایات پیدا کرده با دادن گندم بذری و حتی پول تقاوی تشویق به رفتن در ولایات شمال کشور نماید. به این ترتیب دولت مردم را بر روی زمین های لامزرع دولتی اسکان و جابجا میکرد. به نظرمیرسد که مردم ترکتبار شمال کشور تا دههٔ 50 قرن بیستم چندان رغبتی به امور کشاورزی نداشتند و بیشتر به مالداری و قالین بافی و تربیهٔ گوسفند قره قل و تجارت پوست قره قل و قالین به خارج علاقه داشتند و بیشتر زمین های شمال کشور به دلیل عدم علاقمندی مردم بومی به کشت و زراعت، خاره و لامزروع شده بود و یا به باتلاق ملاریا زا مبدل شده بودند. چنانکه در میان مردم ضرب المثلی بود که میگفتند: "اگر مرگ میخواهی به قندوز برو"، زیرا که وجود پشهٔ ملایار واقعاً مردم را میکشت و در قندوز کمبود نیروی بشری احساس میشد، تا آنکه دولت پروژه مجادله با ملاریا را روی دست گرفت و در محو این مرض نقش داکتر عبدالرحیم خان وزیرصحت عامه وقت بسیار قابل ذکر است.

آقای حسن بیژن ، جهانگرد معروف افغان ویک ازاهالی قلم واندیشه که زاده وپروردهٔ قندز است، ازچشم دید خود دربارهٔ خدمات شیرخان ناشر وپسرش سرورناشر نکات جالبی بیان کرده میگوید:

»جناب سیستانی صاحب!

برای من که متولد شهر کندز استم و در زمان ریاست جمهوری محمد داود خان از لیسه شیرخان کندز فارغ گردیده ام ، خوانش این مقاله تحقیقی که به نقش شیرخان ناشر در تحولات اقتصادی شمال شرق افغانستان اختصاص یافته ، از اهمیت ویژه و دلچسپی خاصی برخوردار میباشد.من از صنف اول الی ختم صنف دوازدهم با نام شیرخان و فرزندانش از آن جمله






غلام سرور ناشر رئیس اسبق فابریکه سپین زر شرکت و کارکرد های شان به نحوی از انحا آشنایی داشته ام. یکی از پسران کاکای فرهاد دریا که توران نام داشت الی ختم دوره لیسه همصنفی من بود. من یک بخش بزرگی از فعالیت های این خانواده بزرگ را در کندز به چشم سرمشاهده کرده ام. بخشی از کارکرد های این خانواده در کندز و حومه آن که مربوط به دوره شیرخان میشود ، آنرا از زبان پدرم و سایر بزرگان کندز شنیده ام. جای خوشبختی است که اینک با خوانش این مقاله تحقیقی پرمحتوا که به همت جناب شما تدوین یافته ، معلومات آفاقی من در مورد فعالیت های گسترده خانواده ناشر در کندز و مربوطات آن تکمیل گردید.

جناب سیستانی صاحب!

شما به نکات بسیار بسیار ارزنده و حیاتی که ارتباط میگیرد به نقش مثبت خانواده ناشر در کندز به ویژه کارکرد های وطنپرستانه شیرخان ، تماس گرفته اید که برای شخص خودم نهایت آموزنده بوده و از ارزش والایی برخوردار میباشد. آنگونه که من از زبان پدرم و سایر بزرگان کندز شنیده ام ، در آن سالها کندز به یک دلدلزار لامزروع میماند که رفتن و مسکون شدن در کندز به معنی تبعید یک شخص بود. در آن زمان این

اصطلاح مروج بود که :«مرگ میخواهی کندز برو» که بعد ها با آباد شدن کندز و آماده شدن زمین کندز به زرع و رشد زراعت ، آن اصطلاح چنین تغییر کرد : «زندگی میخواهی کندز برو». بعد ها کندز چنان آباد و معمور شد که به گدام غله افغانستان شهرت یافت.

جناب سیستانی صاحب!

آباد شدن کندز و تبدیل شدن یک سرزمین وسیع دلدلزار به کشت و زراعت ، فقط و فقط در نتیجه تلاش های خستگی ناپذیر شیرخان بود که بایستی از درگاه ایزد منان روح این مرد بزرگ را شاد بخواهیم.

خانواده ناشر نقش بزرگی را در زمینه ترویج علم و معرفت در کندز ایفا کرده است. تاسیس لیسه شیرخان کندز ، تاسیس تیاتر و سینما های ناشر ، کتابخانه ناشر ، تاسیس لیسه نسوان کندز ، تاسیس فابریکه سپین زر شرکت در کندز و ایجاد نمایندگی های آن در ولسوالی های کندز و تخار و همچنان تاسیس چمن سپین زر و هوتل و شفاخانه سپین زر را میشود از جمله دستاورد های درخشان تلاش های دلسوزانه و وطنپرستانه غلام سرور ناشر در کندز برشمرد.یادم است وقتی اعلیحضرت محمد ظاهرشاه ذریعه طیاره مخصوص شان بنام کندهار ، به کندز تشریف میاوردند ، هواپیمای شان در چمن سپین زر پارک می شد و اعلیحضرت تا ختم ایام اقامت شان در کندز ، مهمان غلام سرور ناشر میبودند«.

با توجه به گفتارجناب حسن بیژن ودیگرصاحب نظران بغلان وقندوز،بدون تردید براثر ابتکار وتوجه وغمخواری خانواده ناشر در قندزوبغلان است که ارزش زمین در صفحات شمال کشور بخصوص در قندوز و بغلان بخاطر حاصل دهی محصولاتش بالا رفت و چون ناقلین پشتون در تولید محصولات زمین خود پیشقدم تر بودند، دشمنان وحدت ملی افغانستان در میان مردم بومی چنین تبلیغ میکردند که حاکمیت پشتونها در افغانستان سبب ستم ملی بر مردم اُوزبک و تاجیک صفحات شمال کشور شده و زمین های سمت شمال با زور و عنف از مردم ازبک و تاجیک شمال گرفته شده و به اقوام پشتون جنوب داده شده است و می باید این مردم دوباره به سرزمین های اصلی خود بجنوب هندوکش برگردند!؟

بدبختانه نتیجهٔ این تبلیغات، اعمال سیاست تصفیهٔ قومی پشتونها در شمال کشور از سوی قوماندانان بیسواد جمعیت اسلامی و جنبش ملی – اسلامی رشید دوستم بود که تا کنون دوبار اقوام پشتون شمال کشور با چنین نقاضت ها و شقاوت های قومی و تباری روبرو شدند : بار اول در دهه 90 قرن بیستم همزمان با روی کار آمدن حکومت تنظیمهای جهادی و سر برآوردن رشید دوستم در شمال کشور، سیاست تصفیه قومی مبنی بر اخراج اجباری اقوام پشتون از صفحات شمال روی دست گرفته شد و کسانیکه در تعمیل این تصمیم تعلل می ورزیدند بلادرنگ کشته میشدند. بسیاری از خانواده های پشتون از دم تیغ بی دریغ قوماندانان رشید دوستم و جمعیت اسلامی گذشتند و حتی خرمن های گندم و محصولات به ثمر رسیدهٔ شان آتش زده میشد تا اینکه طالبان ظهور کردند و شر آنها را از سر مردم پشتون و غیر پشتون کوتاه ساختند.

بار دوم با سقوط حکومت طالبان توسط بمباردمان های B52 امریکائی، پشتونهای شمال کشور بجرم همزبانی و به بهانهٔ همکاری با طالبان در ولایات فاریاب و بلخ و قندوز و تخار و بدخشان و بغلان و سمنگان و بادغیس و هرات مورد ظلم و تعدی و تجاوز نیروهای ائتلاف شمال قرار گرفتند، خانه ها و مال و دارائی شان به غارت برده شد و بر زنان و ناموس شان تجاوز صورت گرفت.

بگزارش بی بی سی، در سال 2002 در حدود 80 هزار نفر از پشتونهای شمال کشور در حالیکه تمام مایملک خود را از دست داده بودند، تنهاخود و فرزندان خود را تا جلال آباد و هلمند و قندهار رساندند و در کمپ های بیجا شدگان داخلی پناه گرفتند و حتی تا امروز هم دوباره به محل سکونت اصلی خود باز نگشته اند، زیرا خانه و سرپناه و زمینهای شان از سوی قوماندانان ائتلاف شمال غصب گردیده و بنام افراد زورمند محلی قباله شده است و دولت کرزی واشرف غنی توانائی تطبیق قانون و رساندن حق به حقدار را در این ولایات نداشتند.

پایان

دعوت رسنیز مرکز
Dawat Media Center
Norway
1988-1367



# د ورېښمو کاروان



چلوونکې او مسئوله: شبه ګهيځ

د ورېښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او ليکوالانو له پيژاند نيولې تر طنزونو، لنډو کيسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بيلابيل ادبي او غير سياسي ليکنې د هنري ذوق خروبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختيا او غوړيدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هيله يو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## دايا سنګهـ انجان

### د دې ګڼې شاعر



دايا سنګهـ انجان د ملک اوتم سنګهـ زوی د پکتيا ولايت ګرديز ښار په زړه بازار کلي په ۱۹۶۴م کال د جنوري په ديارلسمه نيټه د هغه وخت سکانو د ملک په کور کې نړۍ ته سترګې پرانيستي دي.

انجان له لومړي ټولګي څخه تر اتم ټولګي د پکتيا ولايت ګرديز ښار تجربوي ښوونځۍ چې اوس د تجربوي ليسې په نوم يادېږي لوستی؛ له نهم څخه تر دولسم ټولګي يې د عبدالحی ګرديزي ليسې کې زده کړې پای ته رسولې دي. له ښوونځي څخه تر فارغيدو وروسته په ۱۳۶۱ ه. ش کال د عسکرۍ خدمت ته سوق له څلورو کلونو وروسته په ۱۳۶۴ه.ش کال کې کله چې د عسکرۍ دوره يې ختمه شوه کابل کې له کورنۍ سره يو ځای شو. کابل کې د اقتصادي ستونزو له کبله له لوړو زده کړو محروم شو، په ۱۹۹۲م کال کله چې د افغانستان سياسي وضعيت بدلون وکړ؛ مهاجرت ته اړ او له کورنۍ سره يوځای تقريباً ديرش کاله کېږي چې په هندوستان کې د جلا وطنۍ او کډوالۍ ژوند تيروي. دلته مو د هغوی د هنر او ژوند په باب مرکه کړې هيله ده چې د پام وړ مو وګرځي.

شبه: انجان صيب له وخت ورکولو مو نړۍ مننه پيل به مو د زده کړې په هکله وکړو، لوړې زده کړې مو په کومه برخه کې کړې؟

انجان صيب: د لوړو زده کړو په هکله به ووايم چې له بده مرغه هغه وخت شرايط انقلابي او هر چيرته به د ګوليو بارانونه و، هغه منځنۍ زده کړې مې هم په سختۍ يا داسې وايم چې په سمه بڼه ونه شو کړای؛ کله به ښوونځي ته تلم او کله به هم نه تلم. ۱۳۶۳ه.ش کال و چې کورنۍ مې کابل ته کډه شوه؛ نو زه

چې کله له عسکرۍ ترخیص شوم له کورنۍ سره کابل کې یوځای شوم. سیاسي او اقتصادي ستونزې زما د لوړو زده کړو د خنډ لوی لاملونه و.

شېبه: سره له دې چې لوړې زده کړې مو نه دي کړې؛ نو د شاعرۍ پیل مو څنګه وکړه؟

